شپږم کال، اوومه گڼه، پرلپسې ۴۷ گڼه، جولای ۲۰۱۲م

مورچل

مورال بایللی پوځ !!

دکوچنۍ اختر په مناسبت د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله دمبارکۍ د پیغام متن

د اسلامي امارت پیاوړی جهادي قوماندان ښاغلی سراج الدین (حقاني) مورچل سره په مرکه کې :

هر کله چې زمونږ اداری تشکیلات په کامله معنی د اسلامي امارت لخوا سمبالیږي
دخپلې وفاداری همدا دلیل دنیاوالو ته دقناعت لپاره کافي بولو

اکنون دشمن باید کدام پالیسی را در پیش گیرد؟

موقف مسئولانه وبیدار کننده ء امارت اسلامی در ارتباط با قضیه ء برما

رمضان ماه جهاد و فتوحات

مالي عباداتو کې د شتمنۍ ټاکلی مقدار

شپږم کال، اوومه گڼه، پرلپسې ۴۷ گڼه، جولای ۲۰۱۲م

شپږم کال شپږمه گڼه، پرلپسې 46 گڼه جولای 2012م

دمضامینو لړلیک

گڼه	مطلب	مخ
1	مورال بایللی پوځ	2
2	دعالیقدر امیر المؤمنین ح پیغام.....	4
3	اسلامي غزوات او سرایا.....	14
4	خلیفه سراج الدین حقانی سره مرکه	17
5	اکنون دشمن باید کدام پالیسی درپیش.	22
6	دتو کیو کنفرانس دناکامو تجربو تسلسل.	24
7	دسولې په نامه شړ هېدلې استخباراتي...	27
8	درمضان المبارک تاریخي پېښې.....	29
9	دطالبانو په بریدونو کې شدت اودغربی..	34
10	رمضان ماه جهاد وفتوحات.....	37
11	داولس شهیدان.....	39
12	طالب ښندیان اودسولې شورا.....	41
13	اخیستل شوی لیکوالان اوداندرو اریکیان	43
14	ادبی فنون.....	45
17	موقف مسؤلانه وبیدار کننده امارت.....	53
18	دمنبر غږ.....	58
19	ذبیح الله مجاهد څو شپې له خپل ولس..	69
20	دقدر شپه.....	76
21	شهیدې قافلې.....	80
22	دمورچل دارالافتاء.....	84
23	میاشتنی نظامی خبرونه.....	89
24	دمورچل ورځې.....	138
25	دمورچل البم.....	
26	دمیاشتنی تلفاتو جدول.....	276

میاشتنی، علمي، سیاسي اوجهادي خپرونه

دامتیاز خاوند :

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنگی چارو کمیسیون

مسؤل مدیر :

شکور (شفق)

کتنپلاوی :

حسن خپل، ایوب صافی،
حسن زوی ، حکمت بغلانی،
زبیر مسافر، حافظ سعید

تخنیکي همکاران :

ارغـــوان ـــ صابر

ادرس اوکتباتي پته :

پته : کابل بنار څلورمه حوزه
مجلي دفتر

E-mail: baakhtaraf@yahoo.com

نبوي ﷺ مرغلري

وقال الله تعالى: شَهْرُ رَمضانَ الذي أنْزِلَ فيه القرآنُ هدًى للناس وبيّنات منَ الهدى والفُرقانْ فَمَنْ شَهِدَ منْكم الشهْرَ فليَصمْه ( ) البقره ۱۸۴ ژباړه: رمضان [المبارک] هغه مياشت ده چې قرآن کريم پکښې نازل شوی چې دبشريت لپاره هدايت دی او نورښکاره دلايل دهدايت پکې نغښتي دي ،نوکه له تاسوڅخه کومو کسانو درمضان المبارک مياشت وليده نوروژه کوي دي.

لنډ تفسير: په دغه آيتونوکې الله تعالی دروژي دمبارکي مياشتي عظمت اوشرف ته اشاره کوي ،چې دالله تعالی ستر کتاب (قرآن کريم) په همدغه مياشت کې نازل کړی ، په حديثو اواثارو کې ددې خبرې دتفصيل په اړه راغلي : ځرنګه چې قرآن کريم دالله تعالی بلاکيفه کلام ده نځکه په ازل کې په لوح محفوظ کې موجودؤ ، خوورسته دقرآن کريم نزول دوه ځله شوی :

لمړی : دلوح محفوظ څخه بيت المعمورته [چې په لمړي اسمان کې دبيت الله په برابر دملايکو کعبه اومطاف دی]

اودوهم نزول يې له بيت المعمورڅخه په پيغمبرصلی الله عليه وسلم باندي شوی دي ،

په دغه دواړونزولونوکې حکمت اوسر دقرآن کريم عظمت ، شرافت ،حفاظت ،اوله نورواسماني کتابونوڅخه يوامتياز اوخصوصيت وو ؛ دلمړي نزول په هکله ابن حجر رحمه الله وايي چې دانزول په څلورويشتم درمضان المبارک شوی لکه الله تعالی چې فرمايي [انا انزلناه في ليلة مباركة.]الدخان ،په ځينوروايتوکې ددغه نزول تاريخ دپيغمبر صلی الله عليه وسلم دپيدايښت شپه ښودل شوي يعني له بعثت اونبوت څخه څلويښت کاله وړاندي قرآن کريم له لوح محفوظ څخه بيت المعمورته راغلی ؤ:

اودوهم نزول هم په رمضان المبارک کې په دوشنبه چې دقدرشپه هم وه دهجرت نه ديارلس کاله وړاندي دسوره علق په لمړي آيتونو سره د (حراء په غار) کې پيل شوی اوبيا د (اليوم اكملت لكم دينكم)په آيت پای ته رسيدلی (که څه هم داخري ايټ په هکله نورروايات هم شته)

دې دوهم تدريجي نزول ټول دوه ويشت کاله 2 مياشتي او 22 ورځي نيولي،چې ورسره 9 کلونه 9 مياشتي او 9 ورځي په مدينه منوره کې او 12 کاله 5 مياشتي 13 ورځي په مکه مکرمه کې تيري شوي.

بسم الله الرحمن الرحيم

سرليکنه :_____

موږ ال بايللی پوځ

دلويديځ ديرغلګر پوځ دجنګي ماتې دپيليدوڅخه مخکې ددې پوځ رواني يارو حياتي شکست هغه انګيزه ده چې وړاندوينه يې لاپخوا خوپلې کيدلې يې تازه رسنيوخپاره کړل چې نه پکې دتلپاتې پوځې هډودشتون لاپې شاپې شته او نه يې هغه فرعوني ګوابښونه چې .....خوپورې مو دالقاعدې اود دوئ د حاميانو ريښې نوي ايستلې له افغانستانه به نه په شاکيږو!بيابه پرينږدو چې داهيواد داسلامي بنسټګرو لاسونو کې کيوزې او.....،او نه هم دبريتانوي لومړي وزير کابل کې هغه ننګوني چې ګوندې طالبان دې بيا داخبر دتل لپاره له ذهنه وباسي چې بيابه د دوئ دسپينو بيرغونو فاتح کاروان د کابل په ارګ ورننوځي او...او....،بس نن ددې اشغالګر وپوځي منصبداران پدې چرت کې ديوه غرق شوي انسان په څير غوټې وهي چې څنګه خپل عسکر اوپوځي وسايل له افغانستانه وباسي؟ اوهغه به کومه خوندې لاره وي چې دتيښتې پروخت يې امنيت وساتل شي.

دې وروستيو کې نړيوالو رسنيودافغانستان په سويل کې دامريکا دسمندري پوځ ديوه چارواکي د ګروال (اوپرمن)هغه څرګندونې خپرې کړې چې له املې يې ددوئ ويره او دوتلو پروخت امنيتي اندېښنې په ډاګه کوي ،(د ګروال اوپرمن) چې په جنوب کې ديرغلګر ودپوځي تجهيزاتو اووسايلو دراغوندولوچارواکی دی (نيويارک ټايمز) ته وويل چې دوئ دلته له هډې نه پتول وسايل وباسي اوبل ځای ته دوړلو پريکړه به وکړي، نومورې وويل چې امريکايي قوماندان

نورپه بنکاره دهغوپوځي تجهیزاتوپه باب خبرې کوي چې امریکاته به یې یوسي اوپدې هم غور روان دی چې کوم وسایل له منځه یوسواو کوم یې له ځانه سره نقل کړو؟خومونږنه غواړوچې دروسانوغوندې زمونږ زنګ وهلې توپونه او ټانکونه دلته تیت وپر ک پاتې شي ،خوپداسې حال کې چې افغانستان کې جګړه روانه ده دټولو وسایطواو تجهیزاتو وړل دامنیتي حالت اوډیر لګښت له امله سخت دي .

اوس چې لا ددوئ دوتلوضرب الاجل ته دوه نیم کاله پاتې دي ، سرله اوسه دپوځي وسایلورانتول ددوئ دنفسیاتي ماتې اوپه خپل ځان دبې باورۍ ډاګیزدلیل دی ، داسې بنکارې چې دوئ به تر ۲۰۱۴ز کاله پورې صبرونه کړای شي اوپه ډیره بې صبرۍ به پوځونه شاګرځ کړي .

تجربوبنودلې چې امریکایان ډیر ځله له خپلې ماتې نه وروسته دنړیوالودتصور خلاف له میدانه تښتیدلې او خپل داخلي ګوډاګیان یې هک پک حیران په سپین میدان کې ځانته پریښې .

داسلام اوخاورې غلیمانوته بیا وریادووچې په جنګي میدان کې په رواني لحاظ دتکبیرونواو تندریزو (فاروقي)بریدونوتاب نلرئ اونه به انشاءالله تعالی داسلامي امارت مجاهدین دخپلو دسیسوپه کومه لومه کې ونښلوئ !نوغوره دابولوچې دخپل نجات لپاره په ټاکل شوي ضرب الاجل تجدیدنظر وکړئ اونورې دخپلوعسکر وویني مه توئ !

افغانان جهادخپله دیني وجیبه اودروایتي کلتوریو مهم عنصربولي ،خوستاسودجنګي ماشین هسته بیاله مادیاتونه جوړه او کومه سپیځلې عقیدوي تومنه نلري، نوولې موځانونه دیوې بې هدفه جګړې لپاره قرباني کوئ!.

دنیکمرغه کوچني اختر درارسیدو په مناسبت دعالیقدر امیر المؤمنین حفظه الله دمبارکۍ پیغام

بسم الله الرحمن الرحیم الحمد لله نحمده ونستعینه، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا، ومن سیئات أعمالنا، من یهده الله فلا مضل له، ومن یضلل فلا هادی له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شریک له وأشهد أن محمداً عبده ورسوله . امابعد فا عوذ با لله من الشیطن الرجیم

ومن یتول الله ورسوله والذین آمنوا فإن حزب الله هم الغلبون (سورة مائده ایة ۵۶)

دافغانستان مجاهد ملت اوټول اسلامي امت ته دکوچني اختر د مبارکې ورځې، دروژې دعباداتو اوپرله پسې جهادي بریاوو مبارکې وایم، الله تعالی مو روژې، صدقې، دحق په لارکې ټول جهادي خدمتونه اوبې ساري قربانۍ قبولې کړه.امین !

الله تعالی دې وکړي چې ددیني فضائلو او عباداتو ددې ستر موسم ټول حقوق مو ادا کړي وي ، او الله تعالی دې ټول سرښندونکي مجاهدین چې درمضان المبارک له لوړو او تندو سره سره بې دحق سنګرونه تاوده وساتل په دنیا او آخرت کې سرلوړي لري، الله جل جلاله دې زر تر زره زمورږ دهغو وروڼو د راخلاصیدو اسباب برابر کړي چې ددښمنانو په اسارت کې دبند شپې ورځې تیروي ، الله تعالی دې دحق دلارې ټولو مبارکو او پاکو شهیدانو ته په جنت الفردوس کې لوړې او اوچتې درجې ور په برخه کړي، زخمیانو ته دې الله رب العزت عاجله شفا ورکړي او هغو کسانو ته دي رب العالمین جمیل صبر ،نیکه بدله ،اوپه دواړو جهانو کې دخوشحالۍ او نیکمرغۍ انعام ورپه برخه کړي کومو چې دحق په لاره کې دخپلو کورنیو غړي قربان کړي دي. داختر په دي مبارکو شپو ورځو کې غواړم چې دمبارکۍ ترڅنګ دیولړ اهمو موضوعاتو په اړه خپل نظر در سره شریک کړم.

جهادي بهیر :

۱: جهادي بهیر په ټول هیواد کې دبل هر وخت په پرتله سړ کال په خورا ځواک، ښه نظم اوپرمخ تللیو تکتیکونو سره مخ په وړاندې روان دی، چې دا لویه لاسته راوړنه لومړی

دالله تعالی دنصرت، او بیا دعامومسلمانانو دمرستو اودافغانستان دقهرمان ،مجاهد ملت دښه اتفاق ،هراړخیزي همکارئ اوقربانیونتیجه ده.

۲ : دروان کال دالفاروق دمبارکو عملیاتو ځانګړتیاوې دادي چې دهیواد ټولوليرو اونېږدو سیمو ته يې لمن پراخه شوې، د دقیقې او ژورې پلان ګذاری په برکت دمجاهدینو تلفات کم اوددښمن زیان اوسرګرداني زیاته شوې ده، دښمن په لویو ښارونو ،اطرافونو اوحتی خپلو پخو مرکزونو کې د آرام ساه نشي اخیستی، مجاهدینو له دښمن نه دجګړې تاوتکار په خپل لاس کې اخیستی او دښمن په هره سیمه کې دفاعي حالت خپلولو ته اړ شوی دی ، حتی له ډیر وپو ځي مرکزونونه تښتیدلي او دا هغه څه دي چې خپله دښمن وخت پر وخت اعتراف پرې کړی.

۳ : مجاهدینو دتیرکال د ورکړل شوي پلان پر اساس ددښمن په لیکو کې خورا ښه نفوذ کړی، په مخالف صف کې زیات شمیر با احساسه افغانان دحقیقت په درک کولو سره په ډیر حاکمانه تدبیردمجاهدینو مرستې ته راوړاندې شوي دي، چې دهغې په برکت خارجي اشغالګر او دهغوئ ملګري په خپلو مرکزونو او پوځي اډوکې دهمدې قهرمانو عسکرو له لوري تر بل هر وخت ډیر تر درنو ګوزارونو لاندې نیول کیږي، مونږ دغه رنګه میړني او تاریخي اتلان ستایو او ټول ولس دقدر په سترګه ورته ګوري، او له نورو نه هم همداسې دشهامت او ځوانمردی دښودلو هیله لرو ، د همدې پراخ نفوذ له املهمجاهدین ددښمن په پوځي اډو ،دفترونو ، استخباراتي مرکزونو ورننوځي اوهلته پرې ډیر په اسانی سره خورا منسجم اوکاري بریدونه کوي اودښمن ته دسر اومال درانده تاوانونه ور اړوي همدارنګه زیات شمیر کسان له خپلو ډیرو درنو او سپکو وسلو او مهماتو سره ددښمن له لیکو را وزي او له مجاهدینو سره یو ځای کیږي،مجاهدین يې ډیر قدر اوحفاظت کوي چې په دې وروستیو کې مونږ او تاسو دا ډول پرلپسې پیښو شاهدان یو.

۴ : دافغانستان دجګړې له املهښکېلاکګر په کور دننه دپراخ اقتصادي بحران او ولسي مخالفت سره مخ دي، آن تر دې چې ددوی خپل عسکر ددوی له غلطو پالیسیو نه نفرت کوي، چې تر ټولو ښکاره بېلګه يې دشیکاګو کنفرانس دتالار مخې ته دهغو عسکرو چې په افغانستان کې يې وخت تېر کړی مظاهرې وې، دغه راز يې په وړاندې په نړیواله کچه نفرت اومخالفت زیات شوی او لا پسې ډېرېږي، چې په نتیجه کې يې اوس دوئ مجبور شول چې

یو په بل پسي خپلې لښکرې له افغانستان نه وباسي او دازمورې دمقدس جهاد یوه لویه لاسته راوړنه او کامیابي ده.

۵: یرغلګر نه یوازې دا چې په سیاسي، اقتصادي او نظامي ډګرونو کې له ماتې سره مخ دي، بلکې په معنوي لحاظ هم ټولې نړۍ ته ثابته شوه چې نیواکګر ځواکونه هېڅ انساني ارزښتونه نه پېژني، جنګي اخلاق نه لري، انساني حقوق او کرامت تر پښو لاندې کوي، دمسلمانانو مقدساتو ته سپکاوی کوي، دشهیدانو بې حرمتي کوي، ماشومان او ځوانان په بد اخلاقیو روږدي کوي، دشپې پر کورونو چاپې وهي، ښځې، سپین ږیري او ماشومان په خورا وحشت سره وژني، لکه دزنګاوات او لوګرد سجاوند دردوونکې پېښې، په کلیو، کورونو، بازارونو، جوماتونو، مدرسو، ښوونځیو، جنازو او دخوښۍ په مراسمو بې رحمه بمباري کوي، دا په داسې حال کې چې همدغه یرغلګر دانساني حقوقو او بشر پالنې ناړې وهي.

۶: دټولو مسلمانانو او په خاص ډول دمجاهدینو لپاره دا ډېر دخوشحالی ځای دي چې له بدخشانه تر هلمنده له ننګرهاره تر هراته ټول مجاهدین دورونو غوندې په یوه منظم صف کې تر یوه بیرغ اویوي قوماندې لاندې جهاد کوي همدا دکامیابۍ لوی راز دی او همدې وحدت دښمن وارخطا او حیران کړی دی.

ددښمن دسیسې

۷: دښمن په تیرو یولسو کلونو کې ډېر زیات کوښښ وکړ چې دخپلې میډیا په زور دافغانانو ذهنیت وربدل کړي خو لله الحمد چې ځمکنیو رښتینو حقایقو چې ټول ولس او نړۍ یې دسر په سترګو ګوري ددوئ کرغېړنې دسیسې او په آزاد نامه ددوئ تر استخباراتو پورې تړلې رسنۍ رسوا، اوله مبالغو ډکو تبلیغاتو حیثیت یې ورختم کړ، تر دې چې اوس یې دولس او نړیوالو په وړاندې خپل باور له لاسه ورکړی، هره خبره یې بې ځایه افواه، تبلیغات اودمجاهدینو په ضد دسیسه بولي، ولس پوهېږي چې دوئ د خپلو تمویلونکو په زیانونو پرده اچوي اودمجاهدینو زیانونه ځوځنده زیات ښیي او په بریاوو یې خوله پټوي.

۸: دښمن غوښتل چې دخپلو استخباراتي مکارو کړیو په مټ د یو ځو ځوانانو له بې پروایۍ او ناپوهۍ نه په استفادې سره د ولس په منځ کې دګډوډۍ اورونه بل کړي،

دکمونستانو دحکومت له سقوط نه وروسته داویایمو کلونو دلمړیو وختونو په څېر ولس په ګډو ناخوالو کې سره ښکېل کړي، خو الحمدلله چې دغه کرغېړنه دسیسه په لمړي سر کې له ناکامۍ سره په داسې ډول مخامخ شوه چې اولس ددوئ دناروا اعمالو په لیدلو سره نور هم له مجاهدینو سره نیږدې او ددښمن پټو دسیسو ته ښه متوجه شو.

۹ : دیرغلګرو له لوري دکابل بې واکه اداري ته د واک دتش په نامه لیږد پروسه بله هغه تیر ایستونکې ډرامه ده چې غواړي دهغې په وسیله له یوې خوا خپله ماتې پټه کړي اوله بلې خوا ولس او نړیوال تېر باسي چې دوئ په ریښتیا هم په افغانانو باور لري او غواړي په اداري او پوځي لحاظ دهیواد راتلونکی هغوئ ته وسپاري.

ددې تیرایستونکې پروسې په اړه زمونږ موقف دادی چې دا هم دیرغلګرو دنورو تیر ایستونکو پروسو په څېر هسې داذهانو داغفال لپاره یوه ناکامه هڅه ده ،اوهغه سیمې چې دغه پروسه پکې پلي شوې اوس هم عملا له اداري ، پوځي او امنیتي لحاظه دیرغلګرو په بشپړ واک کې دي، اولا هم دخپلو ټولو ژمنو پر خلاف دشپنیو عملیاتو په شمول د ټولو وحشیانه حملو واک ددوئ په لاس کې دی.

ستراتیژک تړون ،نظامي اډې اوبې ګټې کانفرانسونه

۱۰: دستراتیژیک تړون په نامه چې دافغانستان دپلورلو کومه لوبه ترسره اویا روانه ده دافغانستان قهرمان ملت ته په هیڅ ډول دمنلونه ده اونه هم له بې واکه اودهغوی لخوا دکښینول شوي رژیم سره داډول اسناد لاسلیکول کوم قانوني اعتبار لري.

۱۱ : دافغانستان خپلواکي او دشرعي نظام نفاذ هغه ارزښتونه دي چې اسلامي امارت به په هیڅ قیمت هم پرې معامله ونه کړي ،بهرنی یرغل که دسوله ساتنې ترعنوان لاندې وي او که دستراتیژیکې همکارۍ تر پوښ لاندې ، افغان ولس به بې په وړاندې تر هغه پورې جهاد ته ادامه ورکوي تر څو چې بې دخپل هیواد بشپړه آزادي نه وي تر لاسه شوې.

۱۲ ـ دمرستو په نامه دجوړښتونکو کنفرانسونو له لارې دکابل له فاسدې اداري سره دمیلیاردونو ډالرو مرستې ژمنې کیږي دا یواځې دبهرنیو اشغالګرو په دستور تر سره کیږي څو د کابل مریض او شړیدلی نظام دیوه څه وخت لپاره نېم ژوندی وساتی، مرسته

کوونکي هېوادونه او ملتونه باید پوه شي چې دغه مرستې په هیڅ ډول د افغان ولس په درد نه لګېږي، بلکې یوائې د کابل د مفسد ،شړیدلي ،مریض او د پردیو دګټو ساتونکي نظام په اداري او اخلاقي فساد کې د ښکیلو چارواکو شخصي جیبونو او بانکي حسابونو ته ځي.

خبرې او مذاکرات

۱۳: موږ تل دیو خپلواک او متعهد اسلامي او ملي ځواک په توګه د افغانستان او ور سره ترلو نړیوالو قضایاوو په اړه خپل تصمیم نیولی، او په ډاګه کړې مو ده چې د خپل ولس له غوښتنو سره سم د اسلامي نظام د نفاذ ، د هېواد ځمکنۍ بشپړتیا او خپلواکۍ لپاره مبارزه کوو ، او د دې لپاره چه افغانستان د ټولو افغانانو ګډ کور شي ټول په اتفاق او وحدت سره ژوند وکړي ، اسلامي امارت به د اشغالګرو تر وتلو وروسته په مناسب وخت کې له افغاني جهتونو سره هم د افهام او تفهیم له لارې د داسې یو اسلامي افغان شمولې نظام د قایمولو هڅې په کار واچوي چې ټول ولس ته د منلو وړ وي، او د مجاهدینو ، شهیدانو ، یتیمانو او کونډو آرمانونه پوره کړای شي.

۱۴ - لکه څرنګه چې له امریکایي لوري سره د ځینو مشخصو موضوعاتو په اړه ابتدایي خبرې تر سره شوې وې، او بیا متوقفې شوې، باید ووایم چې له امریکا سره زمونږ خبرې او مذاکرات د تسلیمۍ او یا د خپلو اهدافو څخه د تېرېدلو په معنی نه، بلکې دا ګام د بندیانو د تبادلې او د سیاسي دفتر د خلاصولو په منظور پورته شوی و ترڅولې نړیوالو سره د تعلقاتو د جوړولو او همدارنګه په بین المللي او منطقوي کنفرانسونو کې په ګډون کولو سره د اسلامي امارت دریځ په خپله نړیوالو ته ورسوو.

راتلونکی افغانستان

۱۵: اسلامي امارت د قدرت د انحصار په فکر کې نه دی ، افغانستان د ټولو افغانانو ګډ کور دی لکه څنګه چې یې ټول اتباع د ساتنې او آبادولو مسؤلیت لري همدا راز یې د اهلیت په درلودلو سره په حکومت کې د برخې اخیستلو حق لري، اسلامي امارت به په خپل ټول توان سره کوښښ کوي چې کار اهل کار ته وسپارل شي او په ځانګړي ډول له حکومتي ادارو نه د فساد تغر ټول شي.

۱۶ - اسلامي امارت زده کړه او تعليم دخپل ګران ولس د دنيا د پرمختګ او د آخرت د سعادت ستر لامل ګڼي، تاسو ته به معلومه وي چې امارت تېر ځل دخپلې بودیجې تر ټولو زياته برخه د تعليم او زده کړې لپاره ځانګړې کړې وه، او فعلا هم په خپلو تشکيلاتو کې د تعليم او تربيې لپاره ځانګړی کميسيون لري، تر څو دخپل ولس لپاره تعليمي آسانتياوې برابرې کړي مونږ ټول وينو چې وخت پر وخت يا ځينې ښوونځي سوځول کېږي، يا زده کوونکي مسمومېږي، او بيا يې پرې پر مجاهدينو ور اچول کېږي، دغه کار په حقيقت کې دماتې خوړلي دښمن د پټو دسيسو يوه لړۍ ده چې دمجاهدينو دبدنامولو لپاره يې تر سره کوي.

۱۷۔ مونږ دښځو په اړه د اسلامي اصولو، ملي ګټو او خپل روا کلتور په رڼا کې دهغوئ ټولو حقوقو ته متعهد يو.

په ډېر تاسف سره بايد ووايم چې دنيو اکګرو له راتګ سره زمونږ عام ولس په ځانګړې ډول مېرمنې له ګڼو ناخوالو سره لاس او ګرېوان شوې دي، تر دې چې ډېرو يې يا ځانونه سوځولي، يا په خورا مظلوميت سره شهيدانې شوې دي، او يا يې کرامت تر پښو لاندې شوی، او دا ظالمانه لړۍ اوس هم روانه ده، دا په داسې حال کې چې دامارت په تېر دور کې ښځې له يوې مخې له دا رنګه ناخوالو نه پوره په امن وي.

۱۸: اسلامي امارت به دهېواد دننه او بهر ميشتو ټولو هېوادوالو ته داسې زمينه برابروي چې هغوئ خپل علمي او مسلکي استعدادونه دخپل هيواد او خپلو خلکو د خدمت او سوکالۍ په لاره کې په کار واچوي.

۱۹: دغه راز اسلامي امارت غواړي چې داسلامي نظام په سيوري کې دهيواد بيارغونې، دکرهنې او زراعت پراختيا، دسرکونو، پلونو، او روغتونونو په عام ډول دزير بناوو جوړولو، دمعدنياتو او کانونو استخراج، دشاړو ځمکو آبادولو، دهيواد صنعتي کولو او دنوې ټيکنالوژۍ ترلاسه کولو او ودې ته جدي پاملرنه وکړي.

۲۰: دافغانستان دتجزيې پلانوونکي بايد په دې خبره ښه ځان پوه کړي چې اسلامي امارت به دخپل ولس په ملاتړ هيڅاته اجازه ورنکړي چې په دې شوم پلان کې کاميابه او هيواد مو دسمت يا قوم په نوم ووېشي.

بهرنی سیاست :

۲۱- افغانستان له ټولې نړۍ، خصوصا اسلامي نړۍ او ګاونډیانو سره د اسلامي اصولو او ملي منافعو په نظر کې نیولو سره د متقابل احترام او دوه اړخیزو ګډو مرستو په رڼا کې بڼې اړیکې او نښک تعامل غواړي، دهېڅا په داخلي چارو کې دلاس وهنې هوډ نه لري، او نه چا ته په خپلو داخلي چارو کې دلاس وهنې اجازه ورکوي، اسلامي امارت ټولو نړیوالو ته ډاډ ورکوي چې هېڅا ته به اجازه ور نه کړي چې د افغانستان خاوره د چا پر ضرر وکاروي. همدا رنګه ټولو ته په ډاګه کوي چې د اسلامي اصولو او خپلو ملي ګټو په رڼا کې ټولو نړیوالو قوانینو او اصولو ته درناوی لري.

۲۲: په عربي نړۍ کې له وروستیو انقلابونو نه وروسته را منځ ته شویو حکومتونو او اولسونو ته دهغوئ دنوي ژوند مبارکي وایو او له الله جل جلاله نه په هر ډګر کې د اسلامي اصولو په مراعتولو سره دښه پرمختګ او ښه را تلو نکي دعا ورته کوو، د ادخوشحالۍ ځای دی چې هغه مظلوم مسلمانان چې په کلونو کلونو له خپلو کورنیو او هېوادونو نه د مجبوریت له وجهې مهاجر شوي وو بیرته په خپلو هېوادونو کې له خپلو کورنیو سره یو ځای شول.

۲۳: په برما کې چې د ددولتي چارواکو ترنظارت لاندې د مسلمانانو پر خلاف کوم وحشت ترسره کیږي، د انساني خواخوږۍ له مخې او دیو مسلمان ولس په توګه د ټول افغان ولس لپاره د عمیق تاثر او خواشینۍ لامل دی، مونږ د اسلامي کانفرانس او په نړۍ کې د بشري حقونو په مدافعو ټولنو غږ کوو چې د خپل انساني مسؤلیت له مخې دې په عاجل مخنیوي کې اقدام وکړي.

مجاهدینو وروڼو :

۲۴: زما ډیرو درنو اوزړه ته نیږدې مجاهدینو وروڼو ! د نیکمرغۍ ځای دی چې الله تعالی د دین خدمت ته استخدام او د جهاد په ستر عبادت کې یې مشغول کړي یو، دا چې تاسو د خپل دین، ولس او هېواد نه د دفاع لپاره خپل سرونه په لاس کې نیولي په هره شېبه کې هرې سرښندنې ته تیار یاست ستاسو د ټینګ ایمان، لوړ همت، پاخه عزم، ستر غیرت او خپلواک

شعور ښکاروندويي کوي، په ربښتيا هم چې تاسو د ټولې نړۍ په ځانګړې ډول اسلامي امت او خپل غيرتي ولس لپاره دويار او افتخار ستر لامل ياست ! تاسو په حقيقت کې ديوويشتمې پېړۍ د خپلواکۍ او آزادۍ مخکښان، د غيرت او مېړانې نومیالي اتلان ياست !

ګرانو وروڼو ! زمونږ جهاد او قربانۍ به تر هغه ګټورې پايلې ولري تر څو چې په هغه ډول جهاد کوو په کوم ډول چې رسول اکرم صلی الله علیه وسلم او د هغه اصحابو کرامو رضوان الله علیهم اجمعین کړی دی.

۲۵: د خپل مظلوم ولس د ځان ،مال او عزت ساتنې او ژغورنې ته جدي او له پخوا نه زياته پاملرنه وکړئ ، د نبوي نېکو او ښايسته اخلاقو په رڼا کې له خواخوږۍ، مينې، درناوي او شفقت نه ډک چلن ورسره وکړۍ، په نيکو اخلاقو سره دولس زړونه را خپل کړۍ، دولس له ځوروولو نه په کلکه ډه ډه وکړۍ، هغه کسان چې خلک ځوروي دهغوئ په اړه خپلو مشرانو ته خبر ورکړئ.

۲۶: د جهادي عملياتو پر مهال له داسي تاکتيکونو نه کار واخلئ چې عامو هيوادوالو ته د سر او مال زيان ونه رسيږي د هرډول ملکي تلفاتونه د ځان ژغورنې په اړه چې کوم فرامين درکړل شوي دهغو رعايت شرعي وجيبه ، او مخالفت يې ديني او دونيوي زيان دی، لهذا تاکيداً درته وايو .چې که څه هم دښمن په لوی لاس د جګړې پر مهال دولسي مرګ ژوبلې پېښې دل غواړي، خو تاسو په دې اړه پوره محتاط اووسئ او دا خپل مسوليت وګڼئ

۲۷: د اسلامي امارت د مجاهدينو د عمومي لائحې د مقرراتو په رڼا کې خپلې جهادي چارې سمبال کړئ، د کار دښه پر مختګ او ښه نظم او خپلو اهدافو ته په آسانۍ سره درسېدو لپاره يو او دبل په چارو کې له مداخلې نه په کلکه سره ډه ډه وکړئ، ټول خپلو خپلو مسوليتونو ته متوجه شئ، هر څوک خپله ور سپارل شوې دنده په سمه توګه تر سره کړئ.

۲۸: د خپلو امیرانو پوره اطاعت وکړئ ،د قران کريم تلاوت ،اذکار ،د نبوي سيرت لوستل ،مسنونه دعاګانې او علمي مطالعه ورځنی عادات وګرځوئ.

دکابل اداري کارکوونکوته

۲۹: دکابل اداري ټولو کارکوونکو په تیره د پولیسو او اوردو منسوبینو او افسرانو ته او استخباراتي موظفینو ته یوځل بیابلنه ورکوم چې نور دخپل دین او هیواد پر ضد دیرغلګرو له ملګرتیا لاس واخلئ ،د خپلو هغو اتلو ملګرو په څېر له مجاهدینو سره یوځای شئ کوم چې وخت پر وخت پر نیو اکګرو مرګوني ګوزارونه کوي، د پردي غاصب دښمن د شړلو او دخپل هیواد دآزادولو په روانه معرکه کې چې نوره ان شاءالله دبري پراوته رسیدونکې ده شریک شئ ، تر څو په دنیا کې له کامیابۍ او سرلوړۍ نه ډک ژوند در په برخه، اوپه آخرت کې دخپل خالق او مالک د صالحو بندګانو په ډله کې راپور ته شئ.

۳۰ ـ تاسو ته ښایې چې اوس لا له فرصت څخه ګټه واخلئ، ځکه هغه ورځ ان شاءالله رانیږدې ده چې یرغلګر دښمن له افغانستان څخه پښې سپکې کړي، اسلامي امارت دهمدې مقصد لپاره د ارشاد اودعوت او جلب او جذب اداره هم په خپلو تشکیلاتو کې جوړه کړې چې دټول هیواد په سطحه یې فعالیت شروع کړی تر څو دخپلو نورو خدمتونو په څنګ کې تاسو ته د دښمن له صف څخه دراوتلو اوله مجاهدینو سره دیوځای کیدلو زمینه هم مساعده کړي.

نړیوالو او په افغانستان کې دیرغلګرو هیوادونوولسونوته :

۳۲ : امریکا پر افغانستان دخپلواورد مهالو سیاسي او اقتصادي لاس ته راوړنو او په سیمه اونړۍ کې یې دخپلو دښمنانو او سیالانو دخپلو په موخه یرغل کړی دی خو په تأسف سره چې ځینې هیوا دونه دامریکا دګټو قرباني شوي دي اودلته له امریکایې عسکرو سره په څنګ کې بشري جنایات ترسره کوي ،ستاسي پوځیان هم زموږ په هیواد کې ښځې اوماشومان په پوره بې رحمې سره په شهادت رسوي، کلي اوکورنه ورانوي، زموږ د دیني معتقداتو سپکاوی کوي، په ملي نوامیسو اوکلتور مو ملنډې وهي، شنو باغونو اودهستوګني کورونو ته مو اورونه ورته کوي، اویا یې هم دبلډوزرو په واسطه له منځه وړي نو دا ستاسو مسؤلیت دی چې دفرانسوي ولس په څېر دخپلو حکومتونه مخه ونیسئ تر څو نور ستاسو اولادونه اومنافع دامریکا دګټو اوهوسونو قرباني نه کړي.

۳۳ - تاسو باید پوه شئ چې زموږ په هیواد کې ستاسو بې شمیره پوځیان وژل کیږي معیوب کیږي او په جګړه کې دفشار له امله په بیلابیلو رواني ناروغیو اخته کیږي خو ستاسو حکومتو نه یې له تاسو او مطبوعاتو پټ ساتي.

۳۴ - اسلامي امارت په ځانګړي ډول له اسلامي کنفرانس، اسلامي نړۍ، اسلامي ولسونو او حکومتونو، اسلامي ډلو او ټولنو څخه هیله لري چې دافغان مظلوم ولس دخپلواکۍ او له ظلم نه دخلاصون په لاره کې له اسلامي امارت سره په پراخه پیمانه هر اړخېزو مرستو ته را ودانګي.

همدا رنګه له بین المللي ټولنې، دبشري حقوقو له ټولنو او په عام ډول دنړۍ له ټولو ولسونو، منصفو سیاستمدارانو، لیکوالانو او خبري رسنیو نه هیله لري چې دخپل انساني مسولیت له مخې دافغان ولس دخپلواکۍ په تر لاسه کولو کې خپلې هېڅ رنګه مرستې ونه سپموي.

بشری حقوقو ددفاع په نامه نړیوالو اداروته :

موږ دبشري حقوقو دمدافعینو په نامه پرنړیوالو ادارو غږ کوو، چې یواځې دبهرنیو قواوو او لویدیځو رسنیو په راپورونو دي اکتفا نکوي، کوم حقایق چې په سیمه کې موجود دي هغه دي په بې طرفه ډول له نږدې وڅاري او خپل مسولیت دي ادا کړي، په امریکایي ړندو بمباریو کې ملکي مرګ ژوبله، دشپې کورنونو ته په زور ورننوتل، په سپیو د ماشومانو او تورسرو داړل، دمړو پرجسدونو بولې کول، په زندانونو کې له بندیانو سره ناوړه چلند، دعسکرو، پولیسو او اربکیانو لخوا پرتورسرو جنسي تیري او دخلګو مال او عزت ته ورپیښ ګواښونه له هیچا پټ ندي.

په پای کې یوځل بیا خپلو ټولو مؤمنو هیوادوالو او دنړۍ ټولو مسلمانانو ته داخترمبارکې وایم او دالله تعالی ددربار څخه ددارینو نیکمرغي او پردښمن کامیابي ورته غواړم له شتمنو مسلمانانو نه هیله کوم چې داختر په خوښیو کې دشهداوو او بندیانو کورنۍ او ماشومانو ته چې دخپلو پلرونو دمهربانۍ له سیوري نه محروم دي دخپلو کورنیو او ماشومانو په ډول توجه وکړي او په خپلو مادي او معنوي مرستو یې ونا زوي.

والسلام، داسلام خادم امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد

اسلامي غزوات او سرايا

دبدر کبری غزوه

پښتو ته يې ژباړلې

ابو ظاهير

رسول الله (ﷺ) صحابه ووته داخبر ور کړ : ماته دقوم دهلاکت ځايونه ښودل شوي . بل پلو په مکه مکرمه کې درسول الله (ﷺ) ترور "عاتکه بنت عبدالمطلب" مکي ته دضمضم غفاري درسيدو څخه وړاندي دا خوب وينې چې يوتن په اوښ سپور راغی ، اوهغه په "ابطح" کې اوښ چو کړ په لوړ غږ وايې :

"الا انفروا يا ال غدرٍ لمصارعكم في ثلاث" اې غدر کوونکو ! په دري ورځو کې د خپل مقتل په لور ووځئ !

داچې دمکي خلکو دالله اودهغه درسول سره غداري کړې وه ،له دي وجې په خوب کې هم په "ال غدرٍ" ياد شول اوعجيبه نده چې دغدر نه شيطان مراد شي ، ولي مشرکان دهغه تابع وه.

خلک په هغه راټول شول ، بيا هغه خپل اوښ روان کړ مسجد حرام ته لاړ ، هلته يې هم دا غږ وکړ ، له هغه وروسته "قبيس غره" ته وخوت ،دهغه له بره نه يې يوه لويه تيګه ورغړوله ، کله چې هغه تيګه دغره لمني ته ورسيده ، هغه ټوټه ټوټه شوه . په مکه کې يو کورهم داسي نه و ، چې هغه ته دهغه تيګي زري اوټوټي ونه رسيدي.

عاتکي داخوب خپل ورور عباس ته ووايه : وروره ! په خدای سو ګند ما داخوب ليدلی اوزه اندېښمنه يم چې ستا په قوم باندې کومه بلا اومصيبت راتلونکی دی ، خوګوره چاته مه وايه .

عباس چې له کوره ووت خپل ملګري وليد بن عتبه ته يې ووايه . اوترڅنګ يې داتاکيد هم ورته وکړ چې بل څوک درڅخه خبر نشی ، خو وليد خپل پلار عتبه ته هغه خوب لفظ په لفظ ووايه ، په دي توګه په ټوله مکه کې خور شو . په بله ورځ عباس (ﷺ) مسجد حرام ته لاړ ، وينې هلته دابوجهل سره خلک راغونډوه ، د ابوجهل ستر ګې چې په عباس (ﷺ) پريوتې چيغې يې کړې :

ابوالفضله ! ستاسي نارينه وو خو دنبوت دعوه کوله اوس ستاسي ښځو هم دنبوت دعوه وکړه ! عباس (ﷺ) وايې ماتري وپوښتل هغه څنګه ؟

ابوجهل دعاتکي خوب ته اشاره وکړه چې عين په دي وخت کې ضمضم غفاری دابوسفيان پيغام راوړ ،اوپه داسي حالت کې مکي ته ننوت چې کميس يې څيري داوښ پوزه يې پريک شوي اودانارې يې وهلې :

قريشو! دخپل كاروان خبر واخلئ!اوژر ترژره دابوسفيان دقافلي مرستي ته ورشئ!

ددي په اوريدو قريش دډول جنګي توکيو او وسائلو سره ووتل اوبدر ته ورسيدل . هلته يې په ويښو ستر ګو دعاتکي دخوب تعبير وکوت !دموسى بن عقبه په روايت کله چې ضمضم غفاري مکي ته راغى نوقريش دعاتکي خوب نه وډار شول . (البدايه والنهايه)

کله چې قريش په زيات غرور اودسندروغږولو په بدر کې له مکي ووتل ، چې "جحفه " نومي ځاى ته ورسيدل هلته جهيم بن صلت خوب ويني چې:

يو تن په اس سپور راغى ورسره يواوبش هم دى اواوايې: عتبه بن ربيعه قتل شو. شيبه بن ربيعه ، ابوالحكم بن هشام يعني ابوجهل اواميه بن خلف اوفلانى ، فلانى قتل شول ، ددي وروسته هغه تن اوښ په يوه نيزه وواهه ، اوپه لښكر يې ور خوشي کړ ، په لښكر کې هيڅ يوه خيمه داسي پاتي نشوه، چې پکې دهغه دوينو څاڅکې پرينوتل.

په دي چې کله ابوجهل خبر شو هغه زيات ورخطاء شووي ويلي:

دا په بني المطلب کې بل پيغمبر پيداشو ، سباته چې مقابله وشي ، نوايله به معلومه شي ، چې په جنګ کې له مونږ نه څوک قتل کېږي (البدايه والنهايه)

بل پلوبسبس اوعدي(رضي الله عنه)چې رسول الله (ﷺ) دابوسفيان قافلي په جاسوسي کولو ګومارلي وه ، هر کله چې هغوئ دواړه بدر ته ورسيدل ، ديوي غونډې لاندي داوبو يوه چينه وه ،هلته ورغلل خپل اوښ يې چوکړ ، دي کې و چې دوه ميرمني راڅرګندي شوي ، په هغوئ کې يوي له بلي نه دخپل پورور کولو غوښتنه کوله ، په ځواب کې هغي بلي ورته ويلي:

سبا يابل سبا دلته دقريشو قافله راځي ، ماچې هلته په محنت اومزدورى کوم څه وګټل په هغه به ستا پور اداکړم. مجد بن عمروبن جهنى چې هم داوبوپه چينه موجود و، کله چې پورورې ميرمني پورغوښتونکې ميرمني ته يې وويل: سبا يابل سبا دلته دقريشو قافله راتلونکې ده ماچې په قافله کې دکار کولو په بدل کې کوم څه ترلاسه کړل په هغه به ستا پور ادا کړم ، نومجدى وويل ريښتيا وايې په دي ويلو هغه د دواړو ترمنځ لانجه پاى ته ورسوله

بسبس اوعدى(رضي الله عنه) سملاسي په اوښ سپاره شول ، اورسول الله (ﷺ) ته يې دقافلي راتلو اطلاع ورکړه ، دبسبس اوعدى دتلو وروسته همدي ځايته ابوسفيان درسول الله (ﷺ) دنقل وحرکت څارلو لپاره راغى . اوله مجدى بن عمرويې نه وپوښتل : تاخو به دلته څوک په تلوراتلو لېدلي نه وي ؟مجدي ووېل: بل څوک مي ندي لېدلي سيواه ددوه کسانو نه چې ددي غونډې نه راښکته شول اوښ يې هلته چوکړ ، راغلل اوبه

يې وځکي جي يې له اوبو ډک کړ اولاړل، ابوسفيان سملاسي هغه ځای ته ورغی چيرې چې څوپچي پرتې وي، يوه پچه يې پورته کړه اوماته يې کړه تري يوزړی راوايست، ابوسفيان دهغه په ليدو وويل: په خدای سوګند دا ديثرب (مدينې) دخرماوو زړې دي!

سملاسي بيرته روان شو دقافلې لوری يې بدل کړ، اودساحل په لار يې قافله سهي سالمه مکي ته بوتله اوقريشوته يې پيغام وليږه: انکم انما خرجتم لتمنعوا عير کم ورجالکم واموالکم وقد نجاها الله فارجعوا

تاسي ددې لپاره وتلي وئ چې خپله قافله، خپل مالونه اوخپل سړي وژغورئ، الله هغوئ ټول وژغورل نوله دې وجې تاسي ټول بيرته راستانه شئ!

ابوجهل وويل: څو چې مونږ بدر ته لاړنه يو، تردري ورځو هلته مو مزي اوچړچې نه وي کړي بيرته به ستانه نشو!

دبني زهره قبيلې سردار اخنس بن شريق وويل:

دبني زهره خلکو! تاسي يواځې اويواځې دخپلو مالونودساتنې پخاطر راوتي وئ، الله ستاسي مالونه وساتل، نورمونږ جنګ ته ضرورت نلرو، بې له وجې هلاکت ته ننوتل پکارندي، ځنګه چې دغه تن (ابوجهل) وايې، له دې وجې تاسي ټول بيرته ستانه شئ!

په دې سره دبنو زهره قبيلې ټول خلک بيرته ستانه شول، اودهغوئ نه يوتن هم په جنګ کې برخه وانيخيسته، اوځينونورو هم داوويل: چې هرکله زمونږ قافله روغه اوسالمه ورسيده، بيا جنګ کولو ته څه اړتيا ده؟

ابوجهل دهغوئ يوه هم وانه وريده، اودبدر په لور وخوځيد (البدايه والنهايه) بل پلورسول الله (ﷺ) هم دخپلو ملګرو سره يوځای بدر ته ورسيد، داچې قريش وراندې رسيدلې وه داوبو چينې يې قبضه کړې وې، اوهم يې مناسب ځايونه نيولې وه، له دې وجې مسلمانانوته نه اوبه په لاس ورغلې اونه مناسب ځايونه، ريږژن ميدان و، چې پکې تلل ګران و، په شګه کې ښويدل، خو الله (ﷻ) درحمت باران نازل کړ، چې دهغه په وجه ټول ريګ جم شو اوداوبو جمع کولو لپاره مسلمانانو واړه واړه ډنډونه وکندل، څو په هغو کې پريمانه اوبه ودريدې، داودسونو اوځانونو دوينځلو لپاره يئ تري کار واخيسته، په انفال سوره کې الله (ﷻ) ددې احسان يادونه کړې:

وينزل عليكم من السمآء مآء ليطهر كم به ويذهب عنكم رجز الشيطان وليربط على قلوبكم ويثبت به الاقدام (الانفال: ۱۱ايت)

الله (ﷻ) په تاسي باندي له اسمانه اوبه او وروليي څو تاسي پاک کړي ، اوله تاسي نه دشيطان پليتي لري کړي ، څو ستاسي زړونه مضبوط کړي ، اوستاسي قدمونه کلک کړي

دا اوبه اګر که مسلمانانو دخپلو اړ تياوو لپاره جمعه کړي وي ، خو رسول الله (ﷺ) دخپلي مهرابا ني له مخي خپلو دښمنانو ته هم دهغو دځکلو اجازه ورکړه

کله چې مابنام شور رسول الله (ﷺ) علي (رضي الله عنه) زبير بن عوام اوسعد بن ابي وقاص (رضي الله عنهم) دځونورو صحابه وو په ملتيا کې وليږل څو هغوئ دقريشو خبر راوړي ، اتفاقا هغوئ ته دوه غلامان په لاس ورغلل ، هغه يې دځان سره راوستل اوتري پوښتني ګرويږني يې و کړي ، رسول الله (ﷺ) په لمانځه لګيا و ، غلامانو ويل: مونږ دقريشو "سقه " يو داوبووړلو پسي راغلي يو !صحابه وو دهغوئ په دي وينا باور نه کا و ، اوداسي يې وانګيرله چې شايد په لږ وهلو به هغوئ قانع کړي چې د دابوسفيان به اړه به دوئ ته معلومات ورکړي کله چې يې ووهل هغوئ و ويل: مونږ دابوسفيان ملګري يو په دي سره يې پريښودل ،رسول الله ﷺ) چې دلمانځه څخه وزګار شو نو وي فرمايل:

کله چې دوئ(غلامان) رښتيا وايې: نو تاسي يې وهئ ، اوکله چې دروغ وايي: نو خوشي يې کړئ، په خداى سوګند دوئ دقريشو ملګري دي (يعني دابو سفيان سره ندي راغلي)

رسول الله(ﷺ) وفرمايل: قريش چيري دي ؟ غلامانو وويل: والله ددي مقنقس غونډۍ شاته دي ، رسول الله (ﷺ)وفرمايل: څومره خلک دي؟ځواب يې ورکړ :ډير دي. رسول الله (ﷺ)وفرمايل: دهغوئ شمېر څومره دى؟ غلامانو وويل: مونږ ته يې شمېر ندى معلوم . رسول الله (ﷺ) وفرمايل: هره ورځ دخورو لپاره څو. څو اوښان ذبحه کوي؟ هغوئ ځواب ورکړ :يوه ورځ نهه ، بله ورځ لس ، رسول الله (ﷺ) وفرمايل: دزرواونه سوه په منځ کې دي ، بيا رسول الله (ﷺ) ورته وويل: دقريشو په سردارانو کې څوک څوک راغلي دي ؟ هغوئ وويل: "عتبه اوشيبه اودربيعه ځامن، ابوالبختري بن هشام ، حکيم بن حزم ، نوفل بن خويلد، حارث بن عامر ، طعيمة بن عدي، نضربن الحارث، زمعة بن اسود ابوجهل بن هشام ، اميه بن خلف ، نبيه ، منبه ، دحجاج ځامن ، سهيل بن عمرو اوعمروبن عبدود !

ددي په اوريدو رسول الله (ﷺ)د صحابه ووپه لور متوجه شوهغوئ ته يې و فرمايل:

نن مکي دخپل زړه توتي ستاسي په لور ويشتلي!

غرض داچې په دي تو ګه رسول الله (ﷺ) دقريشو حالت ځانته معلوم کړ! نوربيا

(خليفه) سراج الدين (حقاني) مورچل سره په مرکه کې :

هر کله چې زمونږ اداری تشکیلات په کامله معنی داسلامي امارت لخوا سمبالیږي همدغه دلیل دنیاوالو ته دقناعت لپاره کافي بولو .

مرکیال: شاهد :_____

ستاسو لخوالاندینی ځواب شوي پوښتنې مودځونوروسوالونوپه ملتیا سره بیا درولیږلې ،ترڅو یې ځواب کې زحمت وکړئ ! چې د مورچل مجله به یې په ډیرافتخارسره دې نړۍ راتلونکې ګڼه کې لوستوالولپاره په خپل تندې چاپ اودتاریخ سینې ته به یې وسپاري ،البته مخکې مو څه سوالونه بل چاته لیږل چې یرغلګرو ستاسوپه ګډون ډیرونوردوستانوته هم ولیږل ،اوس چې تاسو ترې ځوابونه کړې دانورې پوښتنې به هم ورسره ځاي کړواو څه تغیربه پکې راولو ،نو تکراربه پکې رانشي هیله به وې چې له خپلو ګڼو بوختیاووسربیره یې دځوابونواحسان دمورچل په اداره راواړوئ !

پوښتنه : تعارف یاپیژندنه چې یواسلامي دود او هم دمطبوعاتي کلتوریوه برخه وي ، سربیره پردې چې ستاسوتعارف ته نن سبا اړتیا هم نه لیدل ه کیږي خو دژورنالیزم له کلچر سره سم که خپل ځان دمورچل لوستوالوته وروپیژنئ مهرباني به مو وي !

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله الذي رفع اعلام الشريعة بقوله عزّوجل(فمنهم من قضي نحبه ومنهم من ينتظر) وجعل شباب الفدائين صاعقة علي ائمة الكفروالصلوة والسلام علي امام المجاهدين الذي نورمشارق والارض ومغاربها بنورالهداية حين دهمت الدنيا مصائب الكفر السود الداهية وعلي الصحابة الذين اتبعوه في ساعة العسرة رضي الله عنهم ورضوا عنه.

اما بعد !

ځـــواب: زما نوم سراج الدين حقاني د مولوي جلال الدين حقاني ځو ی چې دمجاهدينو دخدمت په ميدان کې په خليفه سره شهرت لرم دعاليقدر اميرالمؤمنين(حفظه الله) په حسب لزوم ديد سره دخوست ولايت مسؤل يم .

پـوښتـنه: که ددروند عالم اوددوو يرغلونو(سره کمون او تورامپرياليزم)پرخلاف دجهادي پاڅون دې داغه علمبردار محترم مولوي جلال الدين(حقاني)حفظه الله دروغتيا او صحت په باره کې مورچلوالوته معلومات ورکړئ زياته مننه به وي ؟

ځـــواب: الحمدلله دپخوا په نسبت ډير ښه دی البته په مرور دزمان سره دصحت کمزورتيا طبيعی خبره ده دامة مسلمه نه ورته دښه صحت عافيت او حفاظت دعأ غوښتونکی يو .

پـوښتـنه: زمالومړی ليد نه دروسانوپرخلاف دجهاد په بهيرکې له محترم الحاج جلال الدين حقاني صيب سره دپاکستان په سترعلمي کالون(جامعه درالعلوم حقانيه)کې وشوه ، ومې ليدل چې لوړدنګ سړي ،چې په سپينو جامو يې دشنه جهادي جيام پولاندې دتفنګچې اوږد کاش ځنګيده اوهسکې شملې يې دافغاني جهادي غرور فاتحانه ترجماني کوله ،دزرګونوطالبانوپه منځ ک ې يې داس تخلاف پرموضوع ولوله انګيزووينااوود طالبانو سينوکې حماسيات په ځپوکړل ،آيااوس هم دجهادي ځوانی دخاطراتوتمثيل کولای شي ؟

ځـــواب: دروان جهاد په اهمو موضوعاتو کی ورسره تل مشوره کوو لله الحمد هره مشوره يی دتا بتو تجربو په اساس اسلامی امارت ته دجهاد په خير تمامه شويده ، په جسمانی لحاظ به کمزور ی وی ،خو قوی عزم او فولادی ارادی يی د دی نه معلوميږی چې په روان حساس وخت کی ورته دمخلصو ملګرو لخوا مختلفو هيوادو نوته دعلاج لپاره دتلو زمينه برابره شوه داچی دغه کار دجهادی مشورو او محاذ جنګ نه ليری کيدل وو نومورې په کلکه سره رد کړ ل دوجود په ضعف او بيماری يی صبر وکړو

پـوښتـنه: داسې کوم دلايل شته چې تاسويې په تش لاس دنظامي بري پر پوړ ودرولئ ياست اونن دکابل دارګ دروازې ټکوئ؟

ځـــواب: لله الحمد دیو مسلمان دعقیدې په بنا مونږ باور لرو لکه څرنګه چې زمونږ اسلاف حضرات صحابه کرام په تش لاس دروم او فارس دروازې ته رسیدلي مونږ خپلو اهدافو ته په رسیدلوک پ پدغه آیت کریمة(کم من فئة قلیلة غلبت فئة کثیرة) پوره یقین اوباورلرو .

پـوښتـنه: ډله ایزفدایي بریدونه چې تل ترې د اسلام او خاورې دښمنان کوکارې وهي ،دتخنیک او تنظیم له مخې په کومه بڼه د اسې عیاریږي چې د دومره امنیتي تدابیرو سربیره چې دښمن نیولې وي بیاهم دیرغلګرو غړی ورماته کړي اوپه درجنو تلفات وروړوي؟

ځـــواب: دیو مسلمان او مجاهد په صفت باید دومره ووایم !

چې درب لایزال وعده ده (والذین جاهدو فینا ..الخ) الله تعالي دمجاهدینو لپاره بندې لارې خلاصوي لهذا مونږ دلوي خداي په نصرت او د اسلامي امارت دنظامي مرکزي کمیسیون د دقیق پلان ګذاري په عملي کیدو خپل هدف ته ځانونه رسوو

پـوښتـنه: سره لدې چې تاسو د اسلامي امارت دمدبرانه قیادت سره بیعت اود سپین توغ لاندې جهاد کول د ځان لپاره ویاړبولئ اولکه څنګه چې مومرکوکې څرکنده کړي ،خپل ځان د اسلامي امارت دنظامي کمیسیون دلوائحو بشپړپابندبولئ ،خوبیاهم غربي تبلیغاتي حلقې په خپلو زهرجنوخپرونوکې تاسوته دیوې خپلواکې شبکې نسبت کوي لکه وایې چې (حقاني نیټ ورک)تاسویې ترشا کوم لاملونه ګورئ او څنګه کولا ی شئ چې غربي دنیاپدې قانع کړئ چې تاسو د اسلامي امارت یونه بیلونکي عضویاست؟

ځـــواب: مونږ پدې باور یو چې د اسلامي امارت په موقف کې کوم بدلون نه راځي بنا زمونږ اطاعت دعالیقدر امیرالمؤمنین سره د اسلام په چوکاټ کې بدون دکومې مادي اومنصبي غوښتنې څخه دی ،هر کله چې زمونږ اداری تشکیلات په کامله معنی د اسلامي امارت لخوا سمبالیږي همدغه دلیل دنیاوالو ته دقناعت لپاره کافی بولو.

پـوښتـنه: دامریکادبې پیلوټه الوتکورنده بمباري چې زیات وخت پرې یرغلګر ډیرترکیزکوي، مؤثریت یې څومره وینئ او هم یې درانسکورولولپاره کوم وسایل نشئ موندلاي؟

ځـــواب: دحضرت عمر(رضی الله عنه)ددی قول په تعقیب که ددوی سره غشی زیات دی زمونږ سره سینی زیاتی دی با ی ووایو چ ې د ې پیلوټه الوتکو ړندی حملی غیر مؤثر ې دي، مجاهد امت د ې مطمئن و ي چ ې اسلام ي امارت د ټولو شیطان ي وسا ی لو په خنثی کیدو کې پد ې آیت کریمه باور لری چې(ومکرو ومکرالله والله خیرالماکرین) .

پـوښتـنه: څنګه چې مو له تصویري انځورونو بریښې په روزنځایونو کې درته داسلام دلارې ډیري فدایان ټول شوي وي ،تاسویې یې ددومره لوي جذب او جلب لپاره له کوموسایلونه کاراخلئ؟

ځـــواب: دټولو اعمالو دکامیاب ی مدار په اخلاص او تقوي د ی، الحمد لله داسلامي امارت بنیاد په اخلاص او تقوي سره د ی لهذا داسلامي امارت په هره شعبه او هر وګړي دام ت مسلمه پوره باور د ی ، دعالیقدر امیرالمؤمنین د پوره اخلاص وجه ده چ ې داسلامي امارت مربوطه ټولې شعبې په کامله معني بدون دجلب او جذب څخه فعالې دي .

پـوښتـنه: پدې وروستیو کې مو دخوست په صحراباغ امریکایي هډه لویه غدۍ کوزه کړه ،آن پخپله امریکایانو وروسته د(۱۲۳)خارجي عسکروژوبله او مړینه ومنله، آیا ستاسو معلومات پدې شمیره دباورو ړد ی؟او په کوموتاتکتیکونومو فدایان دې هډې ته ننه ایستل ؟

ځـــواب: هو زمونږ ددقیقو معلوماتو له مخې با ی د دومره ووایو چې دانفجار دعملیاتو په اول قدم کې(۷۰) کسان په ریستوران ټ (هوټل) کې مړه(۴۳)کسان مرګوني ژوبل(۱۰۰) کسان دعادي حالت زخمیان دي البتة ددوهم قدم دتعارضي عملیاتو دقیق معلومات نلرو پاتې دې نه وي چې دتکتیکونو په اړه دوهم نمبر بدري فلم کتلاي ش ئ.

پـوښتـنه: آیا ویلاي شئ چې راتلونکې کې هم دداسې غاښ ماتوونکیو بریدونو پلانونه لرئ؟

ځـــواب: هو ولي نه څه دوستان خو مو ندي !

پـوښتـنه: دالفاروق سږني عملیات څنګه ارزوئ؟

ځـــواب: الفاروق د اسلام د دوهم خلیفه حضرت عمر فاروق (ض) لقب و مونږ تفاؤلا د الفاروق د عملیاتو نتیجې د اسې ګورو چې ان شاءالله تعالې د افغانستان زیاتې سیمې به د خارجي یرغلګرو د تسلط نه خلاصې شي .

پـوښتـنه: آیا په لنډ ډول ویلا ی شئ چې د الفاروق پسرلنیو عملیاتو له پیلیدونه وروسته مو دښمن ته څومره زیان اړولي ؟

ځـــواب: چونکه مونږ په نظامي میدان کې مصروف یو لهذا کار په مونږ او شمار په تاسلو

پـوښتـنه: په خپل جهادي بهیرکې به موډیري خاطرات یادوي، که په لنډه توګه کومه کشش آمیزه خاطره مورچلوالو ته وویاست؟

ځـــواب: چونکه په روان لس کلن جهاد کې دومره زیاتې خاطرې لرو چ ې د پوره تفصیل لپاره یې وخت اجازه نه راکوې لهذا پدې مورد به د تفصیلی بیان نه معذرت وغواړو!

پـوښتـنه: مورچل میاشتینۍ مجله چې د مجاهدینو د غږ انعکاس د ی، چلونکې یې د روان جهاد د برې لپاره قلمي مجاهده کوي او هم د ژونالیزم د دې برخې په شمول له کتابي کیدو وروسته یې علمي برخه خورا درنده شوي ، ستاسو ارزونه پدې باب څنګه ده؟

ځـــواب: د مورچل مجلې د مخلصو کارکوونکو په ارتباط مجاهدین ورونه مثبت نظر لري د مطبوعاتو په میدان ک ې مو د ترجمان ۍ پوره حق اداء کړ ی، مونږ او مجاهدین درنه خوشحاله یو ، متعال خدا ی (جلّ جلاله) مو خوشحاله او کامیاب لره

پـوښتـنه: طالبانو چې د خپلو حماسیاتو او فدایي کارنامو نړیوال ریکاټ جوړ کړ او راتلونکې نسلونه به یې په غیرتونو ویاړ کوي ، کوم پیغام دوئ یا افغان اولس ته لرئ ؟

ځـــواب: د طالبانو نړیوال ریکارډ جوړول به د ځان کمال نه بلک ې د الله (جل جلاله) احسان وبولو د اسلام ي امارت ټولو خادمانو ورونو ته د اخلاص تقوی اطاعت اخوت او ایثار توصیه کوو د افغانستان مسلمان ولس ته احترامانه پیغام لرو چ ې د ې ساز او سامان طالبانو ورونو د غیر متناهی قربانیو شکر اداء کړ ې او د خدمت په میدان ک ې ورسره هر اړخیزه همکاری وکړ ي وماذالک علی الله بعزیز

اکنون دشمن باید کدام پالیسی را در پیش گیرد ؟

ذبیح الله مجاهد

به آغاز سال جدید عملیاتی وبه اعلام نمودن عملیات الفاروق از طرف امارت اسلامی افغانستان علیه تجاوز گران و دالربخورهای داخلی ، مجاهدین امارت اسلامی افغانستان روی احساس عالی و روحیه بلند جهادی ضربات کوبنده را برپیکر هر دو دشمن خارجی وداخلی وارد نمودن گرفتند که از هلمند گرفته تابدخشان ، از قندهار تابلخ ، از پکتیکا الی قندز از هرات الی ننگرهار وازکنر تاارزگان درهمه کشور صدای از شمشیر مجاهدین و ناله وفریاد دشمن طنین می نماید . مجاهدین با امکانات نه چندان پیش رفته ولی با ایمان قوی وعقیده راسخ به نصرت خداوندمتعال همه روزه سعی به خرچ دادند تا ابتکار عمل را از دشمن گرفته تمام ماشین جنگی دشمن را از حالت تعرضی به حالت دفاعی سوق دهد که لله الحمد هم چنین شده واکنون ما شاهد آن هستیم که دشمن را تنهادر حالت دفاعی قرار دهیم ، در چند سال گذشته هر سال از طرف مجاهدین عملیات برزگ سالانه علیه دشمن آغاز میشد که اکثر اوقات مجاهدین با عملیات های شبیه دشمن نیز رویاروی میگردند ، ولی امسال بر خلاف تمام سالهای گذشته دشمن به پوشیدن پوز ودومب خویش سعی دارد تا جلو بلندشدن امار تلفات خویش را بگیرد ، ولی مجاهدین با ادامه ضربات جهادی هر روزه دهاتن از عساکر خارجی وداخلی را به کیفر اعمال ایشان میرسانند . در ضمن لله الحمد نسبت به تمام سالهای گذشته عملیات های مجاهدین تلفات اندک ملکی دارد که این خود امسال یک پیشرفت خوب در جریان جهاد است ، از سوی دیگر تلفات افراد مجاهدین نیز به گونه بی سابقه یی کاهیش یافته که خود نمایانگر طراحی درست و کارای عملیات ها علیه دشمن میباشد ، مجاهدین در تمام کشور سعی می نمایند تا تحرکات دشمن را راکد ساخته وبه این گونه چتر نفوذ خویش را در همه اطراف واکناف کشور گسترده تر نموده ومنطقه بیشتر را تحت پوشش عملیات جهادی داشته باشند ، از طرف دیگر مجاهدین امارت اسلامی افغانستان در پهلوی طرحه ریزی

عملیات های جهادی از روند بسا موثر و ضروری نیز استفاده گرده اند که عبارت است از روند ارشاد و دعوت، تحت این پرو گرام مجاهدین توانسته اند تعداد زیادی از افراد امنیتی دشمن را در صفوف دشمن به اجرای عملیات ها علیه آنها آماده سازند و یا اینکه آنها را به ترک صف دشمن و یاری با مجاهدین فراخوانند، در هر دو عرصه پیشرفتهای خوبی به چشم میخورد، از آغاز عملیات الفاروق تاکنون به دهاتن از افراد به ظاهر امنیتی اداره کابل توانسته اند که علیه دشمن خارجی عملیاتهای بسا خطیری را که منجره به کشته شدن تعداد زیادی از عساکر خارجی در کشور شده انجام دهند، همچنان تعداد آن افراد و قومندانهای مهم در صفوف اردو و پولیس اداره کابل که با درک حقائق به مجاهدین پیوسته اند نیز از صدها تن تجاوز می نمایند. هم قطار با اجرای

عملیات، این دو روند غیر نظامی نیز در باختن روحیه دشمن تاثیر گذار بوده و ازباور در میان صفوف دشمن به گونه فوق العاده کاسته است، با در نظر داشت این همه پیشروی ها اکنون زمان آن رسیده که اشغالگران خارجی و دالربگیر های داخلی آنها باید درک کنند که کشتی منزل آنها طوفانی شده و وقت نه چندان در اختیار دارند که به ناکامی حتمی و نهای نائل آیند، اکنون زمان آن فرا رسیده که بوشگران از تعقل و درایت کار گرفته و پالیسی زور و فشار را به پالیسی منطق و واقعیت گرایی مبدل نمایند، اشغالگران من بعد باید سیاستی را در پیش گیرند که هم سبب نجات کشورها و ملت های خود آنها از تلاتم رکود اقتصادی و اجتماعی گردد و هم سبب برچیدن جنگ ها به سطح منطقه شود، اگر هنوز هم با اختیار پالیسی از کار افتاده و ناکام ده ساله پافشاری صورت گیرد پس انتظار باید کشید که قربانی در جه یک همین پالیسی ناکام کشور های یورش گر در صدر آمریکا خواهد شد

دتوکیوکانفرانس!

دناکاموتجربوناکام تسلسل...!

رحمت الله

دپښتو متل دی وایي:سیلاب اخیستی داوبه زګ ته هم لاس اچوي ! دافغانستان په نامه د امریکا اودنورولخواه بیله پس ي د نړیوالو ناکامو کانفرانسون و اوغونډو دتدویرلړۍ په حقیقت کې داوبو زګ ته دلاس اچو نې په بڼه دي ،ځکه افغانستان کې امریکا اودهغي متحدین د رواني ډار او وارخطایي څپې هغسي په مخ کړي ، څنګ چې سیلاب اخیستی دزیات ډارپه وجه کله یوخوا اوکله بل خوا لاس اچوي .

امریکا ددغسي نمایشي اوفرمایشي غونډو په جوړولو سره هڅه کوي څو دافغانستان له قضیې ځانته دنجات ساحل اوتري دتیښتي کولولار ولټوي ، په دي وروستیو کې دجاپان هیواد په پلازمینه دتوکیو په ښار کې فغانستان سره دمرستو په نوم دري ورځینی نړیوال کانفرانس هم ددغو کوښښونواوتازه هڅویوه کړی وه.

خو په دغه کانفرانس کې څومره چې توقع وه دکرزي په مشرۍ لاسپوڅی رژیم په دي ونه توانیده چې یووارډیا په پراخه پیمانه دنړیوالومالي مرستې ځانته جلب اوترلاسه کړای شي ، ځکه دکانفرانس دګردوګډونوالو ویناوي اوخبري دمرستو په ځای دکرزي رژیم دننه د شته اداري اومالي فساد په موضوع راټولې وي ، هغوئ دفساد له منځه وړلونه وړاندي کرزي دولت ته دنقدو پیسو ورکول ضایع کاربالله ،سره ددي چې کرزی اودهغه سره ملګری ټیم دغونډي تالارته دزیاتو هیلو اوخوشبینو په بدرګه لاړ وه ، خوهغه مهال یې دنهیلې درنه څپېړه په مخ وخوړه چې کله دکانفراس ګډونوالو دزیاتو ترخو شرائطو په لګولو ایله دمرستوورکولوژمنه وکړه !! اوښکاره ده چې دکرزي په مشرۍ په جوړ امریکایې رژیم کې اداري اومالي فساد تراوج رسیدلی ، دځوکیدارنه نیولې تروزیرانوآن ترولسمشره ټول پکې ترغوږوپوري ککړ دي او هم دالامل وچې ورته په کتنه دتوکیو په نړیوال کانفرانس

کې دنیړدي اتیا هیوادوچاروا کیو اودنړیوالو ټولنو استازو لخوا دکرزي رژیم ته د نقده پیسو ورکولو غوښتنه په کلکه ردکړای شوه ، یوآځي په دي یې توافق وکړ چې د ۲۰۱۵زکال نه دپیلیدونکې لسیزې لپاره یوه داسي کاري نقشه جوړوي چې اساس به یې په داسي شفاف احتساب وي،چې دهغه په مټ به دکرزي رژیم دننه داداري اومالي فسادمافیا کنټرولی کړای شی دفساد تخم اوریښي به له منځه وایستل شی خوښکاره ده چې داکارد کابل دمفسد ي اداري دبې کفایته چارواکیو له وس بیرون دی ، سره له دي چې دامریکادبهرنیو چارو وزارت مرستیال(توماس ناید) وړاندي کرزي ته ډاډ ورکړی و ، چې هیواد یې دتوکیو کانفرانس دبریالیتوب لپاره خپلې هڅې نه سپموي خودکانفرانس په ورځ دهغه دي ډاډ هم کومه ګټه ورنکړه ،دغونډې دبرخوالو یواځي دسختو شرائطو په اینبودو د ۱۲ملیارد ډالرورکولو ژمنه وکړه، چې دهغوځخه به هرکال دشفاف حساب په شرط څلور ملیارد ډالردکرزي رژیم ته ورکول کېږي !

دابیا ځانته جلا پوښتنه ده چې نړیوال ځومره په خپلو کړو ژمنو کې ریښتوني دي چې هغوئ دي په پوره صادقانه توګه خپلې کړي ژمنې پوره کړي...

ولي اوس مهال دنړۍ زیاتره هیوادونه پخپله دکورنیو اقتصادي ستونزو سره مخ دي، دهغوئ اوسنی اقتصادي حالت نه ایجابوي چې داډول لوي اقتصادي وعدې پوره کړي او نه تها امریکا دا ټول بوج په یوازي سر پورته کولای شی ځکه امریکایان هم د دغه بحران په ګرداب ورګډ دي اقتصادیې درانه ټکانونه خوړلي اوخپله ژرنده دسوال په اوبو ګرزوي !

دنورو سرببره په دغه نړیوال کانفرانس کې کرزي هم پخپله ناکامۍ اعتراف وکړ چې دوئ د دغه ننګونو سره مخ دي ،اوپه یواځي سردوئ دنړیوالوته دملاتړ پرته د فساد پر خلاف دمبارزې توان نلري، کانفرانس ته دملګروملتونو سرمنشي بانکي مون وویل: داسمه ده چې په تیرو لسوکلوکې دوئ افغانستان کې پرمختګونه کړي خو بیاهم دنورډیرکارکولوته اړتیا ده.اوس داچې هغه کوم پرمختګونه دي چې دوئ یې پر کولو ویاړي ؟

ددې ځواب شاید خپله له بانکي مون سره هم نه وي ،ځکه ټوله نړۍ او امریکا په دي اعتراف کوي چې افغانستان کې حالات ورځ تربلي خرابیږي اودوئ پکې دسختو ننګونو

اوستونزو سره مخ دي ، پاتي شوه داچې افغانستان کې نورکارته اړتياده که ددې نه دبانکې مون هدف دا وي چې امريکا دي دلته خپل ظالمانه اشغال نورهم اوږد کړي نودا کار هېڅکله دستونزي حل ندی ، اونه دا شوني ده چې داشغال مودي په غځولو به امريکا افغانستان کې بری ترلاسه کړي ، هو ! افغانستان کې يواځې ديته اړتياده چې څومره ژروي بايد بهرني ځواکونه له افغانستان ووځي ،اوپه افغانستان داشغال واکمني پای ته ورسول شي ، ددي پرته بل هرګام پورته کول دقضيي داساسي حل سره مرسته نشي کولی يواځې اويوځې دوخت ضايع کول دي.

لنډه داچې دتوکيوکانفرانس دامريکايانو دتېرو ناکاموهڅواوتجربو ناکام تسلل و،چې موخه يې دنړيوال و اوپه خاصه توګه د افغانانوتيرايستل وه ، ښه داده چې امريکا اونړيوال د بې معنی منډو ترړو په ځای دافغانستان مسئلې داصلي حل په لورګام پورته کړي ، ځنګه چې ورته په دغه کانفرانس کې دايران دبهرنيوچارو وزيرعلي اکبرصالح ی هم پخپله ويناکې اشاره وکړه: په افغانستان کې بې ثباتي اوناکراري دبهرنيانود شتوالي له امله ده... امريکايان بايد په هم دي يوه نکته قناعت وکړي او پخپل استعماري دريځ دي له سره کتنه وکړي ، افغانستان کې ميشت ټول بهرنی ځواکونه دي له افغانستانه ولاړشی ! دسياسي چارو څېړونکو په اند هم دا دمسئلې اصلي حل د ی ، اسلامي امارت هم په مکرر ډول دا دمسئلې اساسي حل بللی دی ،او په يوه اوبل نوم کانفرانسونه اوغونډي جوړول دستونزي داصلي حل نه تېښته او دخلکو دذهنيتونو داړولوناکام کوښښ اودافغانانو په سترګو کې خاوري اچول دي... والسلام

دسولې په نامه شرمیدلې استخباراتي پروژه

جاوید افغان

په داسې حال کې چې ددې هیواد وګړي ټول مسلمانان دي اوهغوئ په دې ایمان لري چې مؤمن له یوه سوري نه دوه ځله نه چیچل کیږي ،دوئ هر هغه غربي طرزالعمل ته متوجه دي چې دهغه له مخې اشغالګرقوتونه خپل ناولې هدفونه ترلاسه کول غواړي.له کومې ورځې چې ښکیلاک په خپله ماتې پوه شوی ،نوتزویرونوته یې مخه کړې اوددسیسو دومره لویه دروازه یې پرانیستې ده چې داړتیاپه وخت کې یې بندول هم ورنه دورځوپه ځای کلونه غواړي ،ددوئ ځینې دسیسې که بربندې اوښکاره دي خود افغانستان مؤمن ولس ددوئ له هغوډیرودسیسونه هم غافل نه دی چې دمکروبونو په څیر پټې اوسترګې یې دعقل له مکروسکوپ نه پرته درک نشي کولای .

ددوئ دسیسو په لړکې مورډ ځینې وینو چې په کمه موده کې خپل نوعیت بدلوي ،کله یواوکله بل نوم لري کله په یوه اوکله په بل شعار زمورډ مسلمان ملت دغولولوهڅه کوي دبیلګې په توګه ددوئ اربکي محلي پولیس شو اوبیا خو ماشاءالله نوموړی محلي پولیس یو دم په ملي پاڅون واوښت نور نودوی ته هم نومونه ورخلاص دي اوکه یې په فکر کې وي نو داکارله دوی نه تر هرڅه ډیر وخت غواړي.

بله دسیسه چې دوی ورته خورا خوږ نوم انتخاب کړی دی دسولې پروسه ده ،اشغالګروپه دې دسیسیه کې ترهرڅه وړاندې ډیر هغه کسان ځای اوپه دندو وګومارل چې یو وخت دخدای په روی له ارګه نه وتل داډله کسان دښکیلاک په هغه لومه کې بندشول چې بالاخره صلیبي ښکیلاک ورنه خپل ځان خلاص کړ نور دوی اشغالګروته دیوې ګیلې وس هم نلري ځکه دامهال دوی یا خوخپل ژوندله لاسه ورکړي اویاصلیبي احسانونودهغوی احساسات دتل لپاره مرهون ګرځولي دي.

ددې دسیسې چې دسولې دعالي شورى ترنامه لاندې یې چاري پرمخ ځي لوی هدف دادي چې دکابل دلاسپوځي اداري په وړاندې دمقاومت لاسونه وترې.ددوي عمده کار دادی چې چیرته کوم وسلوال مخالف دې ته تیار کړي چې داشغال په وړاندې خپله وسله په

ځمکه کيږي لنډه داچي د سولي عالي شوری ديرغلګرو هغه تبليغاتي کمپاين دی چي دغربي ديموکراسي عبادت ته خلګ دعوت کوي .

که څه هم د سولي اوتيکاوله نامه سره داخبره ارخ نه لګوي چي په جګړه کي دښکيلو طرفونو نه يو دبل په وړاندي تسليم کړای شي ،له يوه لوري وسله واخيستل شي اوبل ته ورکول شي ،يو لوری له جګړې منعه خوبل په جګړه امر اوهغه ته دوينو تويولو جواز پيدا شي ،مګرد سولي عالي شوري په خورا عالي مورال داکارونه له کومه فکره پرته پرمخ بيايي اوپه دې لاره کي دهر ډول اصولو ماتولو ته متعاهده ده دابيله خبره ده چي نومورې شوری دخومره لاسته راوړنو بخت لري ځکه هغه ارمان چي ددې شوری مشرتابه ،مرستيال اودکميسونو رئيسانو اوغړووربانديسرونه کيښودل لاپه هغومره کچه ليري دی اوشوری يې دپوره کيدلو خوب نه وينې.

د سولي عالي شوری بايد په دې پوه شي چي ددې په جامه کي جلب اوجذب ته ولس ښه متوجه دي ،ولس ددې په لستونې کې پټ خنجر وينې اوداخورا په دقت څارل کيږي ،اوهر څوک پو هيږي چي دا ټولي اسخباراتي پروژي د سي ای اې په زيرزمينو کې طرحه او ترتيب شوي دي. د سولي په پروسه کې کلونه کلونه غلی جلب اوجذب په دې اند وو چي ګني له همدې مورچل نه به ترډيره وخته دمقاومت په وړاندي کار اخلي خوخدای جل جلاله دخپلو دښمنانو دفريبونو رسواکونکی دی ددوی هغه مکر الله جل جلاله دړې وړې کړ چي غوښتل يې د سولي له نامه نه په استفاده روان جهادي بهير اغيزمن کړي ددوی دافريب يې داسي رسواکړچي دوی يې انتظار نه کاوه.

د سولي په پرونې کي پټ جلب اوجذب هغه مهال ښه وشرمېد چي په دې وروستيو کې ډلي ډلي مسلح عسکر ددښمن له ليکو بيل اوله مجاهدينو سره يوځای شول دغه کارپه چټکی سره ديوې روانې لړی شکل غوره کړی دی.اوهره ورځ مجاهدين ددې اسي عسکرواستقبال کوي چي په دښمن له کاري ګوذاره ورسته له دوی سره يوځای کيږي ،دوی ددې لپاره کوم تدبير نه وو نه نيولي چي خپل عسکر په څه ډول له مجاهدينو سره له يوځای کېدلو نه ليري وساتي ،اواوس چي څه کوي نو اوبه تروړخ تېري دي اودټولي اداري داعتبار مودې ته دګوتو په شمير ورځې پاتي دي.

ژباړه او ترتیب: أبو عابد

د رمضان المبارک تاریخي پیښې

(لومړۍ برخه)

د رمضان اول :-

۲ هـ : د رمضان په اول مسلمانانو لومړی روژه ونیوله ، روژه د اسلام دیوه مهم رکن په حیث دهمدې دکال د شعبان په لومړی فرض شوې وه.

۲۰ هـ: مسلمانانو د عمرو بن العاص په مشرۍ مصر فتحه کړ.

۹۱ هـ: په افریقا کې د اسلامي فاتح لښکر مقدمة الجیش د طریف ابن مالک په مشرۍ دهسپانیه په جنوبي ساحل پیاده شو ، دغه ډلګي اسلامي سرلښکر موسی ابن نصیر د دې لپاره لیږلی وه ترڅو په اندلس (هسپانیه) د برید لپاره لاره ګودر ولټوي ، په حقیقت کې د همدې ډلګۍ لیږل د اندلس د سترې فتحې پیلامه وګرځیده.

۴۲۸ هـ: مشهور فیلسوف حسین ابن عبدالله چې په ابن سیناء بلخي سره یې شهرت موندلی وو ، د ۵۷ کلنی په عمر وفات شو.

۱۲۸۲ هـ: امیر البیان شکیب ارسلان وزیږید ، نومورې به عربي نړۍ کې د غربي استعمار په ضد د عربو د وحدت او حریت ستر داعي وو ، په دې سربیره نومورې نومونی لیکوال او مصنف هم پیژندل کیږي.

۱۴۲۵ هـ: د غزې ترانګې په جنوبي څنډه اسرائیلو یرغل وکړ ، چې په یوه ورځ یې ۱۱۰ تنه ملکي فلسطینیان په شهادت ورسول او ۴۰۰ تنه نور یې ټپیان کړل ، د شهیدانو په جمله کې ۳۰ تنه ماشومان وو.

د رمضان دوهم :-

۸ هـ: په دې ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم له زرګونو صحابه کرامو سره له مدینې منورې څخه د مکې د فتحې په اراده ووت.

۸۲ هـ: په افریقا کې اسلامي فاتح لښکر د حسان ابن نعمان په مشرۍ مغرب الاوسط چې اوس ورته الجزائر وایي فتحه کړ ، او ځایي بربري واکمنو ته یې سخته ماته ورکړه.

۱۱۴ هـ: د اوسنۍ فرانسې په خاوره د اسلامي سرلښکر عبدالرحمن الغافقي او مسیحي سرلښکر شارل مارتل ترمنځ د (بلاط الشهداء) مشهورې غزوې زور واخیست ، دا جګړه چې د مسلمانانو له سترو جګړو څخه شمیرل کیږي د همدې کال د شعبان په وروستیو کې پیل شوې وه او لس ورځې یې دوام وکړ.

۳۵۰ هـ په اندلس کې اتم أموي أمیر عبدالرحمن الناصر و مړ ،نومورې د اندلس په اموي واکمنۍ کې په لومړي ځل د خلیفه او امیرالمؤمنین لقب ځان ته غوره کړ.

۵۵۷ هـ: صلاح الدین ایوبي د عسقلان ښار او سیدونکي په دې مأمور کړل ترڅو له ښار څخه ډلییز هجرت وکړي ، ځکه ویره وه چې صلیبي لښکر به د دې ښار مسلمانان ونیسي او له ځان سره به یې برمته کړي.

۷۳۲ هـ: مشهور مسلمان مؤرخ او فیلسوف عبدالرحمن ابن خلدون په تونس کې وزیږېد .

۱۲۴۵ هـ: الجزائر د فرانسې لخوا اشغال شو ،له دې وروسته بیا ۱۳۳ کلونو پورې الجزایري مسلمانانو خپلواک اسلامي حکومت نه درلود .

۱۳۲۴ هـ: ترکي پوځ رومانیا قبضه کړه ، او په مقابل کې یې روسیې به مالدووا برید وکړ دامهال دبالقان په سیمه کې دروسي او ترکي پوځونو ترمنځ دسیمو دنیولو په سر ستر تنافس روان وو.

درمضان دریم :-

۲ هـ: نبي کریم صلی الله علیه وسلم دبدر دغزوې په نیت له مدیني منورې څخه وکوچېد .

۱۱ هـ: درسول الله صلی الله علیه وسلم قرة العین اویوازینی وروسته پاته اولاد حضرت فاطمة الزهرا رضی الله عنها په مدینه منوره کې وفات شوه.

۲۵هـ: مروان ابن الحکم دخپلې ښځې لخوا ووژل شو.

۳۵۰ هـ: د اندلس د اموي خلافت د خلیفه ناصر تر وفات وروسته خلیفه مستنصر واک ترلاسه کړ.

۵۸۲ هـ: د صلیبي یرغلګرو لخوا د عکا ښار محاصره تر وروستي حده سخته شوه.

۹۲۷ هـ: دعثماني ترکيې پوځ دارو پا په ختيځ کې د بلګراد مشهور ښار فتحه کړ ، دا ښار چې دارو پا مدخل بلل کيده تردې وړاندې هم عثمانيانو بيا بيا محاصره کړې وو خو داځل يې په بشپړه فتحه وتوانيدل.

۱۳۰۷ هـ: مسلمان امير رابح ابن زبير چې په چاډ هيواد کې يې اسلامي واکمني جوړه کړې وو ، دفرانسويانو ديرغل په نتيجه کې په شهادت ورسيد .

۱۳۲۲ هـ: په دوهم نړيوال جنګ کې دجرمني دپله پسې شکستونو وروسته ايټاليا متحدينو ته تسليم شوه ، او په لومړي ځل امريکايي او برتانوي ځواکونه دايټاليا په خاوره پياده شول.

درمضان څلورم :-

۱ هـ: رسول الله ﷺ سيد الشهداء حمزه بن عبد المطلب ددير شو صحابه کرامو په مشرۍ د بحرالاحمر په خوا وليږه ترڅو دأبي جهل په مشرۍ دقريشو دتجاري قافلې لاره ونيسي.

۴۱۴ هـ: دقرطبې خلک چې له بربري سلطې څخه يې خپلواکي ترلاسه کړې وه ، او ښار يې اميره پاته وو په دې ورځ راټول شول ترڅو يوتن خپل امير وټاکي دوی له دری اونيو يې مشره ورځې وروسته عبد الرحمن ابن هشام الاموي خپل خليفه وټاکه.

۷۲۲ هـ: سلطان الظاهر بيبرس تراوړدې محاصرې وروسته انطاکيه فتحه کړه او صليبي يرغلګر ورته تسليم شول.

۱۰۷۳ هـ: ترکي عثماني واکمنو تراوړده اوربند وروسته المان ته دجنګ اعلان وکړ.

۱۳۲۳ هـ: دترکي عثماني خلافت وروستی خليفه عبد الحميد الثاني ۷۶ کلنۍ په عمر په پاريس کې دجلاوطنۍ په حالت کې وفات شو ، نومورې دخلافت له لاسه ورکولو وروسته ۲ کاله په جلاوطنۍ کې تير کړل ، دنومورې جسد په مدينه منوره کې خاورو ته وسپارل شو.

درمضان پنځم :-

۹۳ هـ: دطارق ابن زياد تر مقدماتي فتوحاتو وروسته په افريقا کې ستر اسلامي سرلښکرموسی ابن نصير له ۱۸ زره غازيانو سره له افريقا څخه اروپا (هسپانيه) ته پورې ووت ، دې لښکر دطارق ابن زياد له لښکر سره په ګډه داندلس فتحه بشپړه کړه.

۱۱۳ هـ: په اندلس کې داموي خلافت مؤسس عبد الرحمن الداخل چې په (صقر قريش) سره يې شهرت موندلی به دمشق کې وزيږېد .

۵۳۴ هـ: ستر مجاهد عمادالدین زنګي دحوران په خوا وخوځید ، ترڅو په دمشق باندې دصلیبیانو دپلان شوې حملې مخه ونیسي.

۵۷۷هـ: اسلامي قائد صلاح الدین ایوبي دمصر اسکندریې ښارګوټې څخه دلیدنې په مهال ځایي واکمنو ته امر وکړ ترڅو دښار ددفاع لپاره سمندري جنګي بیړۍ جوړې کړي ، ترڅو دصلیبي احتمالي برید مخه ونیسي.

۱۳۲۲ هـ: ترکي عثماني لښکرو دلومړي نړیوال جنګ په مهال دایران دتبریز ښار ونیو.

۱۳۲۷ هـ: صهیوني ځواکونو دفلسطین په اللد ښارګوټي کې تاریخي مظالم سرته ورسول چې په ترڅ کې یې ۴۳۲ فلسطینیان شهیدان او سلګونو نور زخمیان او ونیول شول.

درمضان شپږم :-

۲۲ هـ: دمصر ترفتحې وروسته حضرت عمرو بن العاص دعقبه ابن نافع په مشرۍ یوه ډلګۍ د أرض النوبه سیمې په خوا واستوله ترڅو ځایې قبائلو ته اسلامي دعوت ورسوي ، له دې قبائلو سره دحضرت عثمان رضی الله عنه دخلافت ترمهاله جګړې روانې وې.

۲۳ هـ: ځوان اسلامي سرلښکر محمد بن قاسم دسند دریاب په غاړه هندي لښکرو ته ماته ورکړه ، او دهند دنیمې وچې په خوا یې مخه پرې کړه.

۲۲۳ هـ: عباسي خلیفه معتصم په اوسنۍ ترکیه کې د رومي واکمنۍ یومهم ښارعموریه محاصره کړ.

درمضان اووم :-

۲۵۳ هـ: دتصوف دنړۍ یو ستر شیخ حضرت سري السقطي وفات شو.

۳۵۸ هـ: دمصر مشهور او تاریخي مسجد (جامع الازهر) پرانیستل شو ، دامسجد وروسته په یوه لویه مدرسه تبدیل شو چې تراوسه دمصر او درستي اسلامي نړۍ په سطحه له ځانګړي مقام څخه برخمن دی.

۳۶۱ هـ: دمصر واکمني دفاطمي دولت لاسته ورغله.

۵۵۲ هـ: دمغولو په وړاندې دستر مبارز جلال الدین خورازمي پلار علاء الدین خورازمشاه په درست ایران او شاوخوا سیمو باندې خپله واکمني بشپړه کړه ، نوموړی په تاریخي لحاظ ستر واکمن یادیږي ، چې دچنګیزي لښکرو په لاس یې دپاچاهۍ تغر ټول شو.

۷۸۰ هـ: په دمشق کې مشهوره ديني درسګاه (مدرسة الجوهریه) پرانیستل شوه.

۹۲۰ هـ: دعثمانیانو مشهور سمندري پوځي قومندان طرغد بیګ دکوریکا تاپو ونیو او زره اسیرو مسلمانانو ته یې له هسپانویانو څخه نجات ورکړ. ۷

درمضان اتم :-

۸۳ هـ: لوی تابعي او فقیه امام جعفرصادق رضی الله عنه وزېږېد.

۱۲۴ هـ: عبدالرحمن الداخل (صقر قریش) دشارلمان پوځ ته ماته ورکړه او داندلس ستر ښار قرطبه یې بیرته ونیوله

۲۷۳ هـ: داحادیثو ستر امام ابن ماجه چې د ۸۴ کلنۍ په عمر وفات شوی وو په دې ورځ خاورو ته وسپارل شو.

درمضان نهم :-

۹۳ هـ: اسلامي سرلښکر موسی ابن نصیر په هسپانیې کې دفتوحاتو دبشپړاوي په موخه بریدونه پیل کړل چې په ترڅ کې یې اشبیلیه او طلیطله ښارونه دمسلمانانو لاس ته ورغلل.

۲۱۲ هـ: مسلمانان دزید ابن الاغلب په مشرۍ دصقلیه جزیرې په څنډو پلي شول ترڅو یې داسیمه فتحه کړه او اسلامي دعوت یې په کې خپور کړ.

۴۷۹ هـ:

دزلاقه تاریخي معرکه ، چې داسلامي لښکر مشري یوسف ابن تاشفین اود مسیحي لښکر فونس شپږم کوله ، په دې معرکه کې مسلمانانو ستره فتحه ترلاسه کړه.

۱۲۱۳ هـ: دحجاز له سیمې عرب مجاهدین مصرته ورسیدل ترڅو دفرانسوي استعمار مقابله وکړي.

درمضان لسم :-

۳ قبل الهجره دنبي کریم صلی الله علیه وسلم لومړنۍ میرمن ام المؤمنین حضرت خدیجة الکبری وفات شوه.

۹۲۱ هـ: دهرمز په تنګي کې دعثماني او پرتګالي یرغلګرو سمندري قواوو ترمنځ سخته جګړه وشوه چې ۱۸ ساعته دوام یې وکړ ، خو یوه خواهم پریکنده بریا ته ونه رسیده.

دطالبانو په بريدونوکې شدت او دغربې ولسونومسئوليت

حسن زوی

دتېر کال په پسرلي کې دالبدر په نوم دپيل شوو کلنيزوعملياتودمودې پوره کېدونه پس چې دروان کال په پسرلي کې طالبانو په ټول افغانستان کې ددښمن پر ضد دالفاروق په نوم کوم عمليات اعلان کړل کابو ۳ مياشتې يې پوره شوې ، دالبدر عملياتو ددښمن دخپلو اعترافونو له مخې دډېروزيانو ځاني او مالي خسارانو سره مله ول ، ددومره زيانو چې اشغالګر دښمن يې دګران هېواد نه دتېښتې دښتې تعين ته اړ کړ .

او ددې عملياتو اختتامي ورځې خو بيادمسلمانانو لپاره ډېرې زياتې خوشالونکې او د دښمن لپاره واقعي چې ملاماتونکې وې کله چې دا پريل په ۱۵ مې نېټې دپلازمېنې په شمول دهېواد په مختلفو برخو کې په يوه ورځ مجاهدينو ددښمن په سترومر کزونو کامياب عمليات وکړل ، دښمن ته يې خورا ستر ځاني اومالي تاوانونه ورواړول او په خپلو خورا مضبوطو حصارونو ، پرمخ تللو ډېرو مادې وسايلو او افرادي قوت جوړې شوې دغرور ټولې مانۍ يې ړنګې شوې .

دطالبانو دکمزوري کولو ، په حملو کې يې دشدت دمخنيوي او دخپلو تلفاتو دراکمولو لپاره ربښتيا داده چې دښمن دامهال تر بل هر وخت زيات کوښښونه شروع کړيدي خو له ښکه مرغه چې سعي يې عبث ده . نه ددښمن تلفات راکم شول نه يې دطالبانو دکمزوري کولو کوښښونو نتيجه ورکړه او نه يې هم دحملو په شدت کې کموالی راغلو بلکې د الفاروق بختور عمليات لاپسې شديد شول ، شدت او پکې دښمن ته ځاني او مالي تلفات دې حد ته ورسېدل چې دښمن يې نور دپټ ساتلو توان له لاسه ورکړ او چې يې نه غوښتل بياپرې هم اعتراف کولو ته اړ شو .

دروانې مياشتې دپيل په ورځو کې په کابل کې دناټوويانو جنرال کانزوويل چې دروان کال درومبنو ۳ مياشتو په پر تله په ورو ستيوو ۳ مياشتو کې دطالبانو په بريدونو کې ٪ ۱۰ ډېروالی راغلی دی .

دالبدر دګرمو ، کاميابواوشديدوعملياتوپسې په ۱۰۰ کې ۱۰ ډېروالی پر دښمن دمجاهدينو دبريدونو ډېر شدت بنايي . اوکه ددې هرې مياشتې دازياتوالی بيا دتېر کال دهرې مياشتې سره پر تله شي نو داسلنه د ۱۰ نه ډېره زياتېږي . مثلاپه تېرو ۳ مياشتو کې دمئ دمياشتې په هکله د جون په ۲۶ مې نېټې دامريکا معتبرې ورځپاڼې وال سټريټ جورنال په يو راپور کې د اشغالګرو قواوو دافسرانو په وينانه لېکلې و چې دتېر کال دمئ په پر تله په دې مئ کې دطالبانو بريدونو کې ۲۱ په ۱۰۰ کې زياتوالی راغلی ، پدې مئ کې دطالبانو له

لورې په ټول هېواد کې درې زره راکټې ، بمې ، ځانمرګي (استشهادي) او دسپکواو درندو وسلو بریدونه ترسره شویدي. دمئ پسې جون هم موږ ولېدلو چې ددښمن لپاره ډیر د تاوانونو نه ډک و ، د ۳۹ بهرنیانوچې ۲۹ پکې یواځې امریکایان و دوژل کېدو اعتراف دښمن پخپله وکړ چې پدې سره دروان کال په کابو ړومبۍ نیمایې کې دوژول شویو بهرنیو فوځیانو شمېر ددوئ په وینا ۲۲۰ ته ورسېدلو .

کرزی هم دپارلمان یوې ځانګړی غونډې ته په ویناکې وویل چې پرپولیسو او د اردو په عسکر وحملو کې زیاتوالی راغلی او هره ورځ د ۲۰ نه تر ۲۵ پورې د اردو عسکر اوپولیس وژل کېږي چې میاشتنې ځانې تلفات د ۶ سوو نه تر ۷ سوو ۵۰ پورې رسېږي . همدا رازپه دې میاشت کې دبهرنو ځواکونو ۴ هلې کوپتر او ۲ بې پیلوټه الوتکې مجاهدینو رانسکوری کړې ، د سرپل زندان په ماتولو او دلسګونو مجاهدینو زندانیانو په راویستلو هم طالبان په همدې میاشت کې وتوانېدل ، دکابل په قرغه کې د بهرنیو ځواکونو لپاره جوړ شوی یو هوټل چې دفحاشۍ ډیر ستر مرکز و هم په همدې میاشت کې دطالبانو تر کامیابې حملې لاندې راغللو چې پکې په لسګونو بهرنې او داخلې ځواکونه مړه اوټپیان شول ، په خوست کې د بهرنو ځواکونو په ستر نظامې مرکز دمجاهدینو ستر عملیات هم په همدې جون میاشت کې ترسره شول چې له امله یې په مرکز کې ولاړه یو هلې کوپتر طیاره او زیات شمېر فوځي وسایل له منځه ولاړل اوپکې په سوونو بهرني عسکر اوددوئ لاسپوڅي مړه او ټپیان شول ، دښمن داټول تلفات پټ کړي و خوچې حمله ډېره درنده اوورانونکې وه اود تلفاتو نه انکار ددښمن لپاره ډېر شرمونکی ونو مجبورا د جون په ۱۷ مې نېټې دامریکا معتبرې ورځپاڼې واشنګټن پوسټ ددفاع وزارت نه په دې حمله کې دلسګونو فوځیانو دوژل کېدو او ټپې کېدو اعتراف رانقل کړ .

دجون په ۹ مه نېټه دکاپیسا ولایت په تکاب والسوالۍ کې دطالبانو په یو کامیاب برید کې د ۱۰ فرانسوي فوځیانو مړینه او دلغمان ولایت د ۳ سترو مرکزونونه دپخواني پروګرام اوپلان پر ته د بهرنو ځواکونو تېښته هم ددښمن پر ضد دمجاهدینو په بریدونو کې دډېروالي اوشدت لویه نښه ده .

په یوه برید کې د ۱۰ فرانسوي عسکرو دوژل کېدونه پس چې د فرانسې دولت د ۲۰۱۴ کال دټاکلې مودې نه وړاندې دخپلو فوځونو ویستل اعلان کړل موږ دفرانسې ددولت ددې اعلان هر کلی کوو ، ډیر پرځای اقدام یې بولو او دټولولویدیځوالو ولسونو نه غواړو چې خپل دولتونه دې دفرانسي ددولت په څیر اقدام ته اړ کړي ترڅویې په دې بې ګټې جنګ کې نازک او نازولې بچیان د څومغرضو اوزبېښاکګروغربي مشرانودمادي کټولپاره د هغومجاهدینو په مقابل کې لازیت ضایع نه شي کوم مجاهدین چې دخدای په فضل اورحم نه ختمېږي ، نه کمېږي . نه دجنګ نه ستړي کېږي ، نه ددښمن دلوی مادي طاقت نه وېرېږي اونه ددښمن زور ته ټېټېږي

رمضان ماه جهاد و فتوحات

عبدالله: _____

زمانکه ماواقعات واحداث را که در ماه مبارک رمضان بوقوع پیوسته وسجل تاریخ گردیده به دقت مطالعه نمائیم میبینیم که بسا حوادث سرنوشت ساز وعجیب درین ماه به وقوع پیوسته است. البته این رویداد ها چیزي تصادفي نبوده که بلا هدف ومقصد رخ داده باشد ، بلکه هرامربنزد الله قدیر وحکیم مقدر وداراي حکمت هاي بیشماري میباشد : میبینیم که مسلمانان درهمین ماه مبارک از یک حالت به حالت دیگري رشد می نمایند، از مرحله ضعف به مرحله قوت ونیرومندي، ازمرحله ذلت به مرحله عزت وسرفرازي وهکذا ...

ربط رمضان باجهاد نهایت عمیق ومحکم است ، ازیکطرف انسان در ماه مبارک رمضان مصروف جهاد بابزرگترین دشمنان اش (نفس ،شهوت وشیطان) میباشد جهت اطاعت از اوامر پروردگارش همه خواهشات نفساني را کنارزده ومنقاد به اوامر الله ذوالجلال والاکرام میباشد، ازطرف دیگرزمانیکه ما به آیت کریمه که درمورد فرضیت صیام آمده: {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ...} [البقرة: 183] وبعد از ختم آیات متذکره درمورد صیام متصلا آیات درمورد فرضیت جهاد وتحریض وتشویق به آنرا مشاهده میکنیم : وَقَاتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ الَّذِينَ يُقَاتِلُونَكُمْ وَلَا تَعْتَدُوا إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ * وَاقْتُلُوهُمْ حَيْثُ ثَقِفْتُمُوهُمْ وَأَخْرِجُوهُمْ مِنْ حَيْثُ أَخْرَجُوكُمْ وَالْفِتْنَةُ أَشَدُّ مِنَ الْقَتْلِ وَلَا تُقَاتِلُوهُمْ عِنْدَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ حَتَّى يُقَاتِلُوكُمْ فِيهِ فَإِنْ قَاتَلُوكُمْ فَاقْتُلُوهُمْ كَذَلِكَ جَزَاءُ الْكَافِرِينَ * فَإِنِ انْتَهَوْا فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ * وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّى لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ لِلَّهِ فَإِنِ انْتَهَوْا فَلَا عُدْوَانَ إِلَّا عَلَى الظَّالِمِينَ} [البقرة: 190 – 193] آیاتیکه مسلمانان را به جهاد امر میکند، جهاد اعداد نفس است درمقابل دشمنان خدا، دین ورسول صلي الله علیه وسلم ؛ طوریکه روزه اعداد نفس درمقابل همه خواهشات نفساني که از اوامر شیطان علیه العنه سرچشمه میگیرد میباشد، به خوبی پی میبریم که ربط رمضان باجهاد خیلي وثیق ومحکم است، وهم آنچه که به وثیق بودن ربط ماه رمضان باجهاد بوده میتواند بزرگترین فتوحات اسلامي در ماه مبارک رمضان صورت گرفته است که میتوان بطور مختصرعده ازآنهارا انگشت شمار یادآورشد :

اولین بارخروج مسلمانان براي جهاد با مشرکین در ماه مبارک رمضان بوده است .البته مراد ازین قتال یاجهاد غزوه مشهور بدر نیست بلکه درسال اول هجري که هنوز روزه ماه رمضان بالاي مسلمانان فرض نگردیده بود ((ماه رمضان چون ازجمله ماه هاي قمري است که قبل از اسلام هم درتارخ دنیا وجود داشت)) زمانکه اذن جهاد ازطرف پروردگار نازل گردید درسال اول هجري مسلمانان تحت قیادت سیدالشهداء حمزةرضي الله عنه درجایکه به اسم (سیف البحر) معروف است شتافتند ولي نظربه اراده الله قتال صورت نگرفت واین جنگ توسط

يكي ازحلفاي فريقين بنام مجدي بن عمرو الجهني حجزومنع گرديد كه بعدازسپري شدن يک سال درهفده هم رمضان سال دوم هجري غزوه سرنوشت ساز وتغيردهنده تاريخ يعني (غزوه بدر كبرى) بوقوع پيوست. غزوه كه تاريخ را دگرگون ساخت بزرگترين فرعون صفتان وقت رابه گودال هاى فراموشي فرستاده وبنام بزرگترين پيروزي ثبت تاريخ اسلامي گرديده ومشاركين آنرا رسول الله صلي الله عليه وسلم بهترين مردمان تاريخ ناميده است كه قصه مفصل آنرا درسوره آلعمران وانفال ميتوان مطالعه نمود.سوال اين جاست كه همچو حادثه سرنوشت ساز روي چه حكمت در ماه ومضان بوقوع پيوست؟!بلي ! غزوه سرنوشت ساز بدر بخاطر در ماه مبارک رمضان انجام يافت كه بدرتمام قواعداسلام رابنانمود براي جهانيان عموما فهماندكه نصرت ازطرف الله است نه به عدد تعلق دارد ونه هم به عُدت واسباب. {وَمَا النَّصْرُ إِلاَّ مِنْ عِنْدِ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ } {الأنفال: 10].اگرنصرت فقط ازجانب الله جل جلاله نباشد چطورممكن است كه يک عدد كوچک ۳۱۳ ويا ۳۱۴ نفري با هفتادشتر ودوعدداسپ بااسلحه سفري وخيلي ضعيف وقت بالاي يک لشكر قوي يک هزارنفرى وتادندان مسلح عصر كه هفت صدشتر و يكصد اسپ دراختيارداشتندغالب گردند؟ غزوه بدر صفحه تاريخ اسلام راتغيرداد قوت ونيرومندي حكومت جديد التأسيس مسلمانان رابراي همه قدرت مندان ، زورگويان وامپراطوران وقت اعلان نمود،پاهاي يهوديان رالرزاند،مشركين مكه راازقدرت وزورگويي بزمين فروبرد ومنافقين راظاهر كرد. الله عزوجل درين ماه اين نصرت را شامل حال مسلمانان نمود كه مسلمانان درين ماه بابزرگترين دشمن ايماني خود (خواهشات نفساني فطري) هم مصروف جهاد ميباشد ، چنانچه مسلمانان درين ماه به سبب غزوه بدر به بزرگترين پيروزى هانائل گرديدند ، باگرفتن روزه نيز به نعمات بيش ازحدِ صحتمندى وسلامتى جسمى وروحى بهره مند مى شوند چنانچه علم طب نيز به آن گواهى ميدهد .

دردهم رمضان سال هشتم هجرى فتح مكه بوقوع پيوست .

خطه يانقشه فتح مكه باغزوه بدر فرق عظيم داشت زيرا درغزوه بدرمسلمانان جهت راه گيرى لشكرابو سفيان ازمدينه بيرون شدند مگرفتح مكه باختيارمسلمانان وبه نقشه قائد اعظم اسلام رسول الله صلى الله عليه وسلم صورت گرفت ، ممكن بودكه رسول خداصلى الله عليه وسلم بيرون شدن فتح مكه مكرمه را سه هفته تأخير مينمود ودرماه شوال اقدام به سفر مى كرد مگرماه رمضان رامناسب دانست .زمانيكه به مكه مكرمه نزديک ميشود وميبينند كه روزه بالاى عده ازمجاهدين مشقت شده دربين عصر ومغرب جام آب را طلب نموده ومينوشد تاديگران را دراخذ به رخصت افطار درسفرتشجيع نمايد امازمانيكه معلم دين صلى الله عليه وسلم ميبينند كه باوجود مشقت سفرجهادعده ازاصحاب او ازافطار ابا ورزيدند پيامبرصلى الله عليه وسلم فرمودند : (أُولَئِكَ الْعُصَاةُ) (رواه مسلم (ميبينيم كه رسول الله صلى الله عليه وسلم كدام عمل را راجح شمرد؟ صيام را ويا جهادرا؟ !

پیامبر صلی الله علیه وسلم درین سفر جهادرا ترجیح داد باوجود که قبلاً در سفرهای عادی شخص مکلف را مختار دربین (صوم وافطار) گذاشته بود ولی درین جا بخاطرِ جهاد را ترجیح داد که قضای روزه در روزهای بعدی ممکن است مگر جهاد به قوت ونیرو منوط میباشد وقضاء هم ندارد. وجهاد است که ذروة سنامه اسلام نامیده شده است ، یعنی حارث ونگهبان سائر مبانی دین !

درفتح مکه نیز دولت اسلامی صفحه جدیدرا بازنمود مسلمانان ۳۶۰ بت داخل کعبه را شکستاندند پوزبت پرستان وطاغوت پرستان به خاک مالیده شد آذان الله اکبر ازبالای کعبه فزای مکه را مأمون ساخته وپیچانید. مهم اینکه. مسلمانان درماه رمضان به این پیروزی ها نائل گردیدند .

در ماه رمضان سال ۱۳ هـ ق حادثه عظیم دیگری درج تاریخ اسلام گردید درین وقت سرلشکر پهلوان اسلام مثنی بن حارثة رضی الله عنه با لشکر هشت هزار نفری درموقعیت (البویب) بالشکر نودهزار نفری فارس به قیادت (مهران) که از بزرگترین قائدین فارس بشمار میرفت مقابل گردید .

مثنی رضی الله عنه با تأسی از رسول الله صلی الله علیه وسلم درفتح مکه ، لشکرخودرا به افطار روزه امرنمود تا اینکه هنگام معرکه اظهار ضعف وناتوانی نه نمایند. بالآخره درهفته اخیر ماه مبارک رمضان معرکه بوقوع پیوست .

الله اکبر ، بیش از نودهزارنفراز لشکریکصد هزار نفری فارس توسط لشکرهشت هزارنفری مسلمانان به گودال جهنم فرو میروند امپراطوری فارس ازهمین روز بعد نیست ونابود میگردد. این دست آورد بس بزرگ برای مسلمانان بوده که درماه رمضان کسب گردیده است .

دررمضان سال ۵۳ هـ ق مسلمانان جزیرة رودس در البحر الأبیض متوسط را فتح نمودند خلیفه مسلمانان صحابی جلیل القدر معاویة رضی الله عنه قوماندهٔ این جنگ را بدوش یکی از تابعین جلیل القدر وشجاع جنادة بن أبي أمیة الأزدي از قبیلة الأزد الیمنیة سپرد . این نبرد هم با وجود مشکلات وسختی های رمضان مبارک تأخیر نگردید بلکه در ماه رمضان واقع شده و فاتحات از آن مسلمانان گردیدند .

بسا فتوحات وغزوات ثبت تاریخ اسلامی میباشد که در ماه مبارک رمضان انجام یافته که نسبت خوف طوالت به همین قدر اکتفی می نمائیم وبه امید اینکه الله قدیر وتوانا مامبارک رمضان را برای ملت مسلمان ما وکافه امت اسلامی، ماه مملوء از فتوحات وپیروزی ها گرداند. وملت های مظلوم را ازشر فرعون صفتان وقت نجات بخشد.

وماذالک علی الله بعزیز .

شپاړسمه برخه ـــــــ 16

دولس بې ګناه شهیدان

سرېدسع ی د

ګرانولوستونکو ! دتأسف ځای دی چي اوس دبیان ازادۍ په دورکي هم په افغانستان کي دیرغلګروځواکونواودهغوی دداخلي مزدورانودجنایتونوډیرډولونه او ارقام رسینوته لاره نه کوي ،ځکه دډیموکراسۍ پوځیان په پرله پسې ډول دزراوزورپه واسطه هڅه کوي چي رسنۍ ددوی دخوښي سره سم موادنشرکړي اوترډیره حده په همدې کرغیړن هدف کي لاس بري هم دي.یعني ددوی دوژنو ،نیونواونړونوډیره کمه برخه په رسینوکي انعکاس مومي.نوله ناچارۍ څخه د«مشت نمونه ای خروار»په توګه په لاندي کرښوکي دګران هیوادافغانستان له ګوټ ګوټ څخه دروان میلادي(۲۰۱۲)کال دجولای د میاشتي دملکي تلفاتوهغه نیمګړي(کم) ارقام درته وړاندي کووچي رسنیوته یې لارکړې اوخپاره شوي دي .

دجولای پر۱۰مه نیټه یرغلګرواوداخلي عسکرود اروزګان ولایت دچور ې ولسوالۍ دقلعه راغ په سیمه کې دچاپې وهلوپرمهال یوځوان ملکي بې وسلې هیوادوال(اسدالله) شهید کړی او«یو»بل تن یې اسیرکړی دی.

دجولای پر۱۱مه نیټه رسنۍ خبرورکوي چي:دپکتیاولایت په نکه ولسوالۍ کي نیواک ګروعسکرو پر«دوو»تنوملکي هیوادوالوډزي کړي چي له امله یې دواړه شهیدان شوي دي.

دجولای پر۱۱مه نیته اشغالګروپوځیانودشپنیوعملیاتوپه لړکي د کندهارولایت دشاولی کوټ ولسوالۍ دکوندلانوپر سیمه یرغل کړی دی ،دخلګوکورونه یې تلاشي کړي اوپه اخرکي یې «پنځه»تنه ملکي هیواودال په شهادت رسولي دي.

دجولای پر۱۳مه نیټه بهرنیوپوځیانو دپکتیکاولایت دخیرکوټ ولسوالۍ په ملیزوکلي کي «دوه» تنه ولسي وګړي چي پلي روان وو په شهادت رسولي دي.

دجولای پر۱۴مه نیته یرغلګرود هلمندولایت دباغران ولسوالۍ دلیجي اوغاریانو په سیمه کي دچاپې په ترڅ کي «یو»تن سپین ږیری هیوادوال شهید کړی دی.دغه راز اشغالګرو

عسکرود چاپې پرمهال خلګو ته مالي تاوانونه هم رسولي دي. د جولای پر ۱۴مه نیټه اشغالګرو ځواکونو د بلخ ولایت د چهاربولک ولسوالۍ په نوارید قورچې سیمه کې د کلي د ملا امام (مولوي جان محمد) پر کور چاپه وهلې ده، د چاپې پرمهال نومورې مولوي صاحب په کور کې نه ؤ موجود، خو کورېې ورتلاشي کړې او زیات مالي زیان یې ورته رسولی دی. ورو سته اشغالګرو ځواکونو بمبارکړی چې له کبله یې په یاده شوې سیمه کې یو مسجد شهید شوی دی او بیا یې «یو» تن ملکي هیواوال شهید کړی او «دوه» تنه نورې بندیان کړي دي.

د جولای پر ۲۲مه نیټه رسنۍ خبرورکوي چې: د هلمند ولایت د ګرشک ولسوالۍ د نهر سراج د سره شاخ په سیمه کې وروسته له هغه چې د یر غلګرو یو ټانګ د مځکنې ماین ښکار شو، سیمه بمبارکړې چې له امله یې «څلور» تنه ملکي هیواد وال شهیدان شوي دي.

د جولای پر ۲۲مه نیټه یر غلګرو عسکرو د بلخ ولایت د چمتال ولسوالۍ په نوشار سیمه کې د سیمه ییز مشر (حاجي عبدالکریم بای)، پر کور یر غل کړی، د نومورې د کورنۍ «یو» غړي یې شهید کړی او «یو» بل یې بندي کړی دی. د غه راز زیات مالي زیان یې هم ورته رسولی دی.

د جولای پر ۲۲مه نیټه نیواکګرود بادغیس ولایت د مرغاب ولسوالۍ د فنرک په سیمه ک ي د طالبانو سره دیوې ننبتي په پای کې «یو» تن ولسي هیواد وال «د دوو» ماشومان په شمول چې په مسجد کې یې دیني تعلیم کاوه په شهادت رسولي دي.

د جولای پر ۲۷مه نیټه نیواکګرو ځواکونو د شپنیو عملیاتو په لړکې د اروزګان ولایت د خاص اروزګان ولسوالۍ د قلعه خورپه سیمه ک ي د ملکي خلګو پر استوګنځایونو چاپه وهلې ده، «درې» تنه ملکي وګړي یې لومړی شکنجه کړي او بیا په شهادت رسولي دي.

د جولای پر ۲۹مه نیټه کورنیو عسکرود کاپیسا ولایت د تګاب ولسوالۍ په لنډ اخېل سیمه کې پر یو ملکي هیواد وال (رفیع الله) ډزې کړي او نومورې یې شهید کړی دی.

د جولای پر ۳۱مه نیټه بهرنیو عسکرو د هلمند ولایت د کجکي ولسوالۍ د زمینداورکاریزنو سیمه کې د ملکي خلګو پر کورونو چاپه وهلې ده، کورونه یې تلاشي کړي او بیا یې «دوه» تنه ولسي وګړي شهیدان کړي او «درې» کسان یې بندیان کړي دي.

مأخذونه: [بي بي سي راډیو، ازادي = ،افغان اسلامي اژانس ، پژواک = ، تاند و یې پانه ،بینوا = اوروهي =]

طالب بندیان او دسولې شورۍ!

لطیف "عزم"

دروژي دمیاشتې په سرکې دپاکستان رومبي وزیر(راجه پرویزاشرف) افغانستان ته سفروکړاوهلته دکابل له واکمنوسره له نیږدي لیدنې اوملاقاتونه وکړل ، کرزي دکتنې په ورځ دراجه ترځنګ په یوه خبري کنفرانس کې په نوروخبروسربیره دې ټکی ته هم اشاره وکړه چې دهغه اودپاکستان درومبي وزیر ترمنځ په پاکستان کې دهغو طالب بندیانو په سرنوشت هم خبري وشوي چې پاکستان نیولي اودهغو په جمله کې یوشمیرلوړپوړي طالب مشران هم شامل دي ، کرزي وویل چې دغه موضوع به دسولي شوراتعقیب اوله پاکستاني مقاماتوسره به یې یوحل راوباسي.

دپاکستان درومبی وزیرددوري په سبا دسولي شورامشرصلاح الدین رباني هم پاکستان ته دخپل کیدونکي سفراجنداهمدغه وبلله چې هغه به له پاکستاني چارواکو وغواړي چې دطالبانواسیران دبناغلي (ملابرادر) په شمول ژرترژره له زندان څخه پریږدي ترڅودصلاح الدین په خبره دغه کاردسولي په راتلوکې مرسته اوهمکاري وکړي !!

دطالب بندیانودخلاصون په برخه کې چې هرڅوک هڅه کوي یومناسب ګام اودستایلووړاقدام دی ، ځکه چې له تیرو یولسوکلونو راهیسي په زرګونوافغانان دامریکایانوله لوري دجوړې شوي پلمي (ترهګرۍ په تعبیر) دافغانستان په داخل اوبهرکې نیول شوي ، هیڅ جرم ندی پرې ثابت شوی اوچې کله خوشي شوي نوصرف ببنه ترې غوښتل شوي اوورته ویل شوي چې تاسو بیګناه وی اومونږ دغلطومعلوماتوپه بنانیولي وی.

له شک پرته چې دپاکستان هیوادهم له تیرویولسوکلونوراهیسي ډیرطالبان اوعام افغانان نیولي اوډول ډول شکنجې اوځورونې یې ورکړي ، دغه کارخوبایدافغان دولت که یوځل ځان دافغان اتباعودساتنې اوپوښتنې یوه اداره اودولت بولي څوکاله وړاندې کړی واي ، که دژوندیوافغانانواوطالبانوپوښتنه یې نشوای کولای دمړوخویې اورومروبایدکړي واي.

داچې اوس دکابل اداري او دسولې شورا دا درد او درک پیدا کړی ترڅو په پاکستان کې دخپلو افغان طالبانو او اتباعو دبرخلیک په اړه پوښتنې اوګرویژنې وکړي

اودخلاصون لپاره يې هلې خلې وکړي که څه هم ډيرناوخته دی خوبياهم يوپرځای گام بلل کيدای شي ، خوپه دې شرط چې دغه گام خصمانه اوله فريب نه ډک نه وي اوشاته يې کومه بله امريکايي حربه نه وي پټه ؛ ماناداچې (بنديان له بارانه ناوي ته کښيننول شي) اوداسې نه چې دپاکستان له زندانونويې راوباسي اوکابل ته يې رانقل کړي او دلته پخي اودرنې دوسيي اوولچکي ورته جوړي شي

دبنديانودخلاصون په موضوع کې افغانان يو شک اوترددلري هغه داچې بناغلی کرزی اودسولې شورا ددې په عوض چې له پاکستان څخه دشاوخوا يونيم سلو طالبانود خلاصون غوښتنه وکړي ، ترټولو ړومبی دوی داکارولې نکوي ؛ که دکرزي اوسولې شورا وس اوتوان دبگرام په امريکايي زندان نه رسيږي ، دځرخي پله په محبس خويې قانوني واک بردی چې په هيوادکې دسولې اوثبات اومخالف لوري ته د روغ نيتي له وجې دهغو زرگونو افغانانو له جملې نه لږ ترلږه زرتنه ازاداوافغانانواوپاکستان ته داخبره په ډاگه کړي چې دوی په رشتيا په افغانستان کې عملي سولې اوروغې ته ټرې اوليواله دي ، لدې پرته افغان لوری پاکستان ته کوم دليل لري چې دوی ديونيم سل طالبانو دخلاصون دلچسپي لري ، ولې افغان دولت په داخل دافغانستان کې ددريو زروتنو طالبانو دازادولو اويايي دقيدونودسپکولو په برخه کې هيڅ کوم گام پورته کولوته ندي تيار؟

له تيرو يولسو کلونو راهيسي مونږ نده اوريدلې چې کرزي دې سل تنه طالبان له زندان څخه ازاد کړي وي ، بلکې دده له لوري دلسگونو طالب بنديانو په حق کې داعدام او ابدي حبس ډيری احکام جاري کړل شوی ، ددې ترڅنگ کله چې دسترې محکمې دتميز رياست ته دکوم طالب بندي دوسيه ورشي ، تميز هيڅکله دابتدايی اودوهمې محکمې حکم نه تايدوي ،که هغوی طالب ته ۳ کاله حبس ليکلي اوتايدکړي وي ، تميزددې پرځای چې شفقت ورباندې وکړي اومرو ۳ يا۲ کاله نورحبس ورته زياتوي !!؟

مونږ اميدلرو وړاندې تردې چې دسولې شورارهبري پلاوی پاکستان ته ولاړشي اوله هغه هيوادنه دطالب بنديانو دخلاصون هيله وکړي ، ړومبی بايددوی په دغه کار کې پيش قدمه او بولړ پريکنده عملي گامونه پورته کړي !

اخستل شوي ليکوالان اوداندړ واربکيان

سعادت کامران

سادات او جلالزی چې په ټول توان سره يې ګوتې او قلمونه په کار اچولي که وکولای شي دبو څو ډالرو په بدل کې داربکيانو وغير انساني اعمالوته چې داندړ په ولسوالۍ کې يې له څه وخت نه راپديخوا داسدالله خالد په توسط دامريکايانو په مالي لګښت او مستقيمه قوماندې تر سره کوي دعمومي او پاوړي پاڅون نوم ورکړي ،موږ يې په خپلو سترګو وينو چې هغه سادګان او پلورل شوي په ډاګه ناري وهي چې موږ هم اربکيان يو او هم د دې پاڅون غړي يو چې په بدل کې يې دميا ۴۵ زره کلداري مزدوري را کوي او د دې خائنانه او اسلام ضد عمل مشران په سيمه کې فيضان او الله نواز زکوري او يوتن لطف الله چې درې کاله وړاندې دخوست له پو هنتون نه فارغ شوی په کورنۍ ووا وس يې ځان محصل معرفي کړ او داستثمار په موخه يې ورسره اربکيتوب ته مخه کړه، دوئ چې لمړی يې دشلګري په کورکې دحزب له نورو کسانو سره مشوره وکړه چې دا کار به څرنګه پيل کوو چې دحزب قوماندانان دي اواربکي توب ته يې مخه کړي چې دوه نور حزبي ملګري انجنير محمد خان او استاد حبيب الرحمن يې مخالفت وکړ اودحزب يو بل قومندان حافظ هم ډير مايوس ښکاري ممکن له صحني ځان وباسي ورځخه جلا شول، چې بيا اسد له کابل نه پنځه موټره اربکيان ورته را ولیږل چې د دغو مورال قوي کړي حکومت اوس نوي موټران او موټر سائکلان ورته اخستي او له خيال قوماندان نه يې هم دمرستې غوښتنه کړې چې هغه ورته په جواب کې وويل چې زه دچالپاره خلک ووژنم ستا او که دامريکا؟په وينو خو خاني او ملکي نه کيږي خو اخستل شوي ليکوالان يې بيا په پاڅون تعبيروي او کوردينات ورکوي ،چې په اوبند کې هم بايد دا کار وشي خو دوی دا کار چې نه يې افغانيت تقاضاکوي اونه هم استقلال او سو چه اسلاميت، بياهم د دې کوښښ کوي چې ودې ناوړه عمل ته ديو داسي قومونو لکه اندړ او ترکي چې دتاريخ په هرډورکي يې دکفر او فساد په مقابل کې خپله ميړانه ثابته کړې منسوب کړي ،سره له دې چې انګړسوه کلي پراته دي چې په دې کې يې دپنځو کليو نه شړل شوي او يې دينه کسانو يې له اربکيانو سره لاس يو کړی او طالبان چې دافغاني جامعې سپيځلی قشر دی او دهيواد هر وګړی يې له نوم او ښو اخلاقو او ديانت سره آشنا دی ورته دمات کلمه وکاروي چې دا پخپل ذات کې لويه خطا او ستره بې دينې ده

اخستل شوی لیکوال داهم وایي چي په هلمند زابل کندهار اوروزګان کي طالبان کمزوري شوي خو ودې ته يې پام نشته چي ددوي خارجي باداران تل دا وايي چي طالبان دې خوا په نسبت په قوت کي دي چي حتی کولای شي زمونږ پر ګډوقواوو دمیاشتې ۳ برید ونه وکړي دا لیکوال چي ښايي له کورنیو جګسالارانو سره هم یوه اندازه حق الزحمه ولري زیاتوي دژمي په موسم کي به نوموړي اربکیان ټولې سیمې ونیسي چي بیا به دطالبانو راتګ ناممکن شي لدې نه يې دا هم معلومیږي چي تر اوسه لاهم پدې ندې خبر چي په افغانستان کي دچاو چاتر منځ جنګ روان دی

اخستل شوي لیکوال دده په مغرضانه تعبیر دپاڅون څلورعلتونه بیانوي چي د مکتبونو او کلینیکونو بندیدل، له خلکو سره دطالبانو بد چلند، دهغوی په صفونو کي دپاکستانیانو زیاتیدل، او دخاجي اشغالګرانو له وتلو بعد بیاهم له دې فاسدې اداري سره جهاد کول.

چي دا څلور واړه علتونه هغه څه دي چي یو يې هم په تول پوره ندی تللی په دې کي يې له یوه ناکام حدس نه کار اخستی، ۱ ځکه طالبانو له اول نه تر اوسه دکلینکونو او مکتبونو دبندیدلو مسئولیت ندی منلی ۲ طالبان چي له یوه دیني اسلامي او اخلاقي مدارسونه يې دخارجیانو اودهغوی داجیرانو خلاف دجهاد لپاره ځان وقف کړی څنګه به ممکنه وي چي هغه دي دمشرانو بې قدري وکړي ۳ داچي طالبان له یوه پلوه دپردیو په خلاف په جګړه بوخت دي څنګه ممکنه ده چي پردیو په لاسونو خپل هیواد وال وځوروي او دا کار دڅه لپاره؟ ۴ دا هغه علت دی چي داخستل شوي لیکوال په غولیدلي تعبیر دنوموړو پاڅونوالو اربکی توب نور هم په ډاګه کوي چي پکي ښکاره دکرزي دادارې، غرب پالو او جنګسالارانو ملاتړ پکي په ډاګه شوی هغه چي په لمړي سر کي يې داسلام هیواد او طالب په خلاف دراغلو غربي لنډه غرو ننګه وکړه او پکي را ویې لپړل هغه څه يې په هیواد کي وکړل چي ژبه يې په ویلو او قلم يې په لیکلو شرمیږي، خو اخستل شوی لیکوال يې په خلاف جنګ کول یو جرم او داداربکي پاڅون یوبل لامل بولي خو زه ورته دیوه افغان په صفت مشوره ورکوم چي نور دي دمسلمانانو او هیواد والو په خلاف دپردیو اشغالګرو او دهغوی دمزدورانو ننګه نکوي او نه دې ددا ډول لیکنو په بدل کي ورځخه مادي مرسته تر لاسه کوي چي داکار په افغاني ټولنه کي ډیر پیغور بلل کیږي راغلي لنډه غربه ځي خو تاسو به بیا دهیواد دمؤمن ولس په وړاندي ځورند سرونه حساب ورکوئ، چي نه به موتاریخ وبخښي نه اسلام اونه هم افغاني غرور.

ادبـــي فـنـــون

استاد بېنوا

د پښتو د شعر اقسام:

(6)رباع ي:

د پښتنو په عامه طبقه کې کوم شعر ته چې رباعي وايي هغه د پارسي رباعی په شان نه دی، بلکې کوم شعر ته چې خاصه طبقه غزل وايي د پښتو بې سواده او عوام شاعران ورته رباعي وايي، که څه هم عوامه طبقه شاعران چې ملي اشعار وايي له ځانه جلا غزل هم لري او فرق ئې دا کوي چې په رباعي کې اکثره د پند او نصيحت خبري وي او په غزلې کې عشقي او په وزن کښې هم فرق سره لري، غزل په چست او تند آواز ويل کيږي او رباعي په آرام او اوږده وکوم وخت چي مجلسيان مجلس شروع کوي نو رباعي تر غزل او چاربيتي دمخه وايي او مجلس ملتفت کوي تر کومه ځايه چې زه په دې باره کي معلومات لرم هغه ادي

د رباعي نمونه

خدايه څه شوه هغه ښکلي ښکلي خلک
په ظاهر په باطن سپين سپېڅلي خلک
هيڅ خندا مي ددې خلکو سره نه شي
ژړه وي مي هغه تللي تللي خلک
خبر نه يم چي وکومي خواته لاړل
ليده نه شي هغه ما ليدلي خلک
دريغ يو ځلي خو بيا په دنيا راغلي
له جهانه په ارمان وتلي خلک
"رحمان" هسي ګوښه خوند له خلکو بيا موند
چي هر ګز نه دی دا خوند موندلي خلـــک

(رحمان بابا)

(7)غزل:

د پښتو غزل او رباعي څه نور فرق نه لري فقط په رباعي کې د پند او نصيحت خبري وي او غزل عشقي کلام وي، رباعي ورو ورو يله کيږي او غزل چسته او تنده

د پښتو غزل له پنځو بيتونو تر پنځلسو پوري وي او د پښتو په ټولو د هوانو کې غزلي زياته برخه لري او هغه ته عام شاعران کتابي غزل وايي ځنګه چې د غزلي مثالونه ډير او هر چاته معلوم دي له مثالونو صرف نظر وشو.

(8)بدله :

بدله په پښتو کې ځانته ځانته معناګاني لري، د کندهار په اصطلاح کې يوازې د ښځو آوازو ته بدلي وايي، د نارينه آوازونو ته بدلي نه وايي جنوبي او مشرقي او ځينو نورو پښتنو په اصطلاح کې د بدلو اطلاق عام دی، هم د ښځو او هم د نرو آوازو ته هم بدلي ويل کېدای شي . ځني پښتانه لا لنډی ته هم بدلوايي.

(9)لوبه :

په لوبه کې ډېرې اصطلاح ګاني موجودي دي په ځينو اصطلاحګانو کې لوبه لکه د بدلو يو عام نوم دی او داسي يوه خاصه نوعه نه لري بلکې په ټولو اشعارو يې اطلاق کېږي دا اصطلاح په کندهار او جنوبي کې نشته، بلکي دا د کوزي خوا هېښتنو اصطلاح ده، او په ځينو اصطلاح ګانو کې لوبه هم لکه د بګټو او د غزلو يو خاص نوم دی او د شعر په يوه خاصه نوعه ئې اطلاق کيږي . بيا په دې کې هم دوه اصطلاح ګاني دي په يوه اصطلاح کې د لوبې او نيمکی هيڅ فرق نشته بلکې دواړه يو شئ دی، او هغه نيمکی چې مخکې تېره شوه، دغي ته بعينه لوبه هم وايي، او په بله اصطلاح کې د نيمکی او دلوبي په منځ کې هم فرق شته ،هغه دا دی چې د نيمکۍ په منځ کې ټکی رالويږي، او د لوبي په منځ کې ټکی نه رالويږي ،بلکې عليحده د لنډو لنډو مصرو بندونه لري، سرې د نيمکی په شان وي او په منځ کې ټکی د ټکيو په غير نور بندونه راوړلي شي او د هر بند آخره مصره ې د مطلع سره په قافيه کې موافقه وي او د مطلع هغه لنډه مصره هم ورسره تکراريږي.

دمشترک اقسام

دا اقسام د عربي او پارسي او پښتو په منځ کي مشترک دي او د عربي او فارسي رنګ پرې پروت دی، لکه: مخمس، مسدس، مستزاد، یا داسي نور چې په پښتو کي ویل شویدي، دا نوع اشعار یا دا تسمیه په عامو پښتنو کي نشته، او نه مخمس او مسدس پېژني، بلکي دا نومونه د پښتو ځيني ادیبانو د بلي ژبې نه پښتو ته راګډ کړيدي

(1)مربع :

مربع یو داسي شعر دی چې د وزن او آهنګ په لحاظ د غزل یا د رباعي په رنګ دی، مګرفرق یې د قافیې او د یو مخصوص اسلوب په واسطه سره کېدای شي، هغه دادی چې مربع د اخلځه تر آخره پوري څلور څلور مصرع، یعني دوه دوه بیته ویلی شي او لومړی څلور ولمړی په یوه قافیه بناء کیږي، او وروسته به بیا دری مسری متحده القافیه اووځلمه به یې د اول بند په قافیه سره ویلی شي، دا سلسله به په دې ډول تر آخره پوري جاري وي مګر د مربع د ویلو طریقه داده: چې کم وخت چې څلورمي مسری ته را ورسیږي نو هغه اولیت هم ورسره تکرار شي د خوشحال خان خټک بابا مربع یې ښه مثال دی

(2)مخمس :

مخمس د وزن او د آهنګ په حیث د مربع سره هیڅ فرق نه لري، ولکې شی دي مګر صرف فرق یې دومره دی چې مخمس د پنځو مصرو یعني د دوه نیمو بیتونو څخه شروع کیږي، ولګ د مخمس پنځه اولي مصری هم په یو قافیه سره ویلي شي، او وروسته به بیا د هر بند څلور مصری پخپل مینځ کښې په یوه قافیه سره راځي او پنځه مسره یې د اول بند په قافیه سره ویلی شي دا سلسله به تر آخره پوري جاري وي

(3)رباعي :

دا رباعی د پښتو د مخصوص رباعي سره فرق لري، دلته د رباعي طلاق پر دوو بیتو باندي کیږي، رباعي خامخا څلور مسری وي د رباعي د اول بیت مسری په قافیه کې د یوبل سره برابر وي او د دویم بیت دویمه مسری یې بیا د اول بیت سره په قافیه کې شریکه وي د رباعي نمونه داده، خوشحال خان خټک وایي:

زه دي کباب کړم، خداي دي کباب کړه
غلیم خو نه یې څه خو حساب کړه

نه دي وفا شته ، نه دي جفا شته
ناکسه درومه خدای دي خراب کړه
يو چي ډېر خوري سوګندونه
بل چي ډېر کاندي پورونه
آشنايي ورسره مه کړه
د بې پت دي دا خويونه

(4)قطعه :

قطعه په وزن او آهنګ کې د رباعي په شان راځي، مګر فرق دومره دی، چ پ رباعي د دوو بيتونو څخه زياته نه راځي اوقطعه دوه بيته هم وي او د دوو بيتو څخه زياته هم وي او بل فرق دادی چ د قطعې د اول بيت اوله مسره د دوهمی مسری سره په قافيه کې برابره وي د قطعې د دواړو بيتونو دويمي مسری په قافيه کې سره موافقي راځي، قطعې ته قطعه ځکه وايي، چي دا د غزل يا قصيدې يو ټوټه ده، د قطعي نموني دادي خوشحال خان خټک وايي

اند ښښنه که په غره کېږدي
غر به هم لکه وښته کا
خوار سړی ملامت نه دی
که په غم کښي ځان اوبه کا

چ پ هاتيان ساتې پيدا که لويه خونه !
چ پ هاتيان پرې ننوزي هسي ور
کيدړ هر چ ډېته خپل وخت ساعت بدل کا
لوی ځنګل بويه زمري لره يا غر

(5)مسدس :

مسدس هغه شعر ته وايي چې هر بند يې شپږ شپږ مسری وي او د اول بند ټولي مسری يې په يوه قافيه ويلي شوي وي او بيا د هر بند شپږمه مسره د اول بند دقافيې سره موافقه وي، کله مسدس

اطلاق په هغه نظم هم کیدای شي چي څلور مسرۍ يې په يوه قافيه وي او دوه مسرۍ يې په بېله قافيه ويلي شوي وي

(6)مثنوي :

مثنوی هم د شعر د انواعو يوه نوعه ده، او د شعر په انواعو کې دا نوعه ډېره عامه او آسانه ده، مثنوي هغه نظم ته وايي چي هر بيت يې په جدا جدا قافيه ويلی شوی وي، او هر يو بيت يې مقفي وي، د مثنوي بيتونه د قافيې په لحاظ د يو وبل سره هيڅ ربط نه لري بلکې هر يو متفاوت او په بېله بېله قافيه وي، دمثنوي تعداد څه معلومه اندازه نه لري، په هرانداز لږ وي که ډېر د مثنوي اطلاق پر کيږي، د پښتو ځيني کيسې او حکايتونه، رومانونه اکثره په مثنوي کښي ليکل شويدي، د مثنوي يو بيت ته فرد يا بيت وايي د مثنوي نمونه داده .
خوشحال خان وايي

د هر چا سره چي يو نفس قرين شوم
د هغه له خويه بويه په زړه شين شوم
زړه مي خوښ په هيڅا نه شو په عالم کښي
له عالمه سره زيست کړم په ډېر غم کښي
خود سود له مخه څوک را سره يار شو
چي ی ې خپل مقصود پوره شو نو ويزار شو
هر چي تا سره ياري کا نه ياران دي
همګي واړه لږم دي يا ماران دي
زامن واړه د زړه رنځ د خپل بابا دي
لونه ګل د زړه ژوري د ماما دي
که دي يار دی که دي خپښ دی که دی ورور دی
د خپل ځان دی د خپل سود دی د خپل کور دی
تش د خولې لباس مباس دی سره کيږي
د هر چا خاطر خپل سود وته پر کيږي
د راحت په وخت سل لافي د يارۍ کا
د محنت ساعت چي را سي ويزارۍ کا

(7)قصیده :

قصیده هم د شعر یوه پراخه نوع ده، په قصیده ک ې اوږده اوږده مضامین ویلي شي د وزن او د آهنګ په حیث قصیده د غزل مرتبه لري او ټول قصیدې قافیه د اول بیت په مصرو بناء کیږي، قصیده په هره ژبه کښې علیحده انداز لري، په عربي کښي د لسو بیتو نو څخه په پورته ټولو ته قصیده ویلی شي او په پارسي کښي قصیده پنځه ویشت بیتونو څخه کمه او د یو سلو اویاو نه زیاته نه وي او په پښتو کي د شپاړسلو ولس بیتونو څخه کمه او د یوسلو اویا و نه زیاته نه وي، خوشحال خان په خپل د هوانکي قصیدو ته لویه حصه ورکړې ده او په پښتو کي ې دا نوعه ډېره پراخه کړېده

قصیده

(8)ترجیع بند :

ترجیع بند داسي اشعارو ته وایي، چې د غزل په طور پنځه یا اووه بیته وویل شي، او وروسته بیا شپږم یا اووم یا لسم بیت په بله قافیه راوړلی شي چې د اولو بیتونو نه په معنی کې هم مختلف وي، او په قافیه کې هم، او بیا په دې ډول دهرو پنځو یا اوو یا نهو بیتونو څخه وروسته هم دغه بیت تکرار شي، په ترجیع بند کي هر یو بند اکثره طاق راځي یعني یا پنځه او یا اوه، یا نهه، بیته وي، مګر سره ددې هم ددې پوره تخصیص نشته، کله د ترجیع بند بند ونه جفت هم وي لکه چې په دې مثال کښي معلومیږي. د ترجیع بند بندونه غالباً د پنځو او لسو بیتو په مینځ کي وي اګر چې د خوشحال خان په دیوان کي تر نولسو بیتونو پوري هم یو یو بند راغلی دی :

(9)ترکیب بند :

ترکیب بند هم د ترجیع بند غوندي قاعده لري چې پس د هر یو بند نه یو یو بیت د فصل په توره راوړلی شي، مګر فرق صرف دومره دی چې په ترجیع بند کې هغه یو بیت فاصل واقع کیږي چې د معنی او قافیې په لحاظ یکښې څه تغیر نه وي او په ترکیب بند کې بېل بېل بیت فاصل واقع کیږي چې هم په معني کې د یو بل نه جدا وي او هم په قافیه کي د ترکیب بند نمونه داده، خوشحال خان ختک وایي:

دل آرامه که دما د درد دوا کا
سکه اول دی د مهر دوا راکا
د دلدارو هوادار له در او دوکه
دما دم له اه سرد سره واوا کا
د وصال سودا سودا د سر و مال ده
هر گدا کله دا سود او دا سودا کا
د آدم آل اولاد سره کل مکر
که د دور رسم هم داو اوس هم دا کا
درومه درومه گله مه کوه له درده
کله کله درد هم مراد اداء کا
د ملوکو مهر و گوره له اصله
کله دوی د مرد مراد ورکړه له وصله

(10)مستزاد :

مستزاد هم د اشعارویو نوعه ده مستزاد هغه شعر ته وایي، چې یوه مصرع یې اوږده وي او بله یې لنډه وي، د مستزاد هر یو دغه لنډه مصرع په آخر کښې لري، لکه دا چې ورباندې زیاته کړي شوي او مستزاد هم ورته په دې نسبت وایي. د مستزاد اول بیت چې په هره قافیه وویلی شو هغه لوسي دی لکه د غزل یا د چاربیتي سر، چې د هر بیت نه وروسته دویم بیت، به هم په دغه قافیه سره تکرار یږي د مستزاد نمونه داده

مور پښتانه یو ، د غیرت په ځای کي سر ورکوو هم مال و زر ورکو
همدا رنگه نور بیتونه...

(11)مسبع :

مسبع یو داسي شعر دی چې هر یو بند یې اووه مصرې وي، د مسبع اول بند یعني اووه اووه مسرې په یوه قافیه سره ویلی شي او تولي مسرې به په قافیه کي یو تر بله برابري وي. د مسبع قافیه په اول بند شروع کیږي، اول بند چې په کمه قافیه شروع شو نو د مسبع قافیه هم هغه وي او د هر بند په آخر یعني په اومه مسره کي به هم دغه قافیه تکرار یږي .

(12)مثمن :

مثمن هم د مسبع په طرز یو شعر دی چې په قافیه او لهجه او وزن کې د مخمس خیلو سره ما به الافتراق نه لري. په کم وزن او آهنګ چي مسبع او مسدس او مخمس راتلی شي په هغه وزن او آهنګ مثمن هم راتلی شي، صرف فرق دومره دی چي د مسبع بندونه اوه اوه مسرۍ او د مثمن بندونه اته اته مسرۍ وي

(13)معشر :

دا نوعه هم د مثمن او مسبع په شان یوه نوعه ده، د وزن او آهنګ په لحاظ د دې واړو سره څه فرق نه لري، په کم وزن چې مثمن او مسبع راځي په هغه وزن معشر هم راتلی شي د معشر هر بند لس لس مسرۍ وي. د معشر قافیه په لسو مسرو بناء کیږي

لمن لیکونه

1.المعجم فی معائیر اشعار العجم 20 مخ

2.علم الادب یسوعي لومړی جز 360 مخ

3.علم الادب یسوعي لومړی جز 360 مخ

4.د خلیل وفات په 174 هـ (791 م) کي واقع شویدی

5.علم الادب ا. ج 360 مخ

6.المعجم فی معائیر اشعار العجم 23،24 مخ

7.المعجم فی معائیر اشعار العجم 35 مخ

8.د دې قسمت مهمه برخه صدیق الله رښتیت له مقالو څخه د کابل 1318 کال په کالنۍ کښي نشر شوې اقتباس شوې ده. "بېنوا"

9.د ژوند مجله ، منطبعه دهلي

10.په دغه بند کي غیر منقوط صنعت هم شته

11.په دې بند کي هم یو لفظي صنعت راغلی، یعني یو تورتی کي لري او یونه

موقف مسؤلانه وبیدار کننده امارت اسلامی در ارتباط با قضیه بورما

حکمت

داستان محکومیت و مظلومیت مسلمانان بورما خیلی طولانی است، شاید آنان مظلومترین و عاجزترین انسانان بر روی کره خاکی باشند که از دو دهه به اینسو تحت ظلم وستم اکثریت مستبد بودایی زندگی میکنند .

مسلمانان در بورما چهار درصد نفوس این کشور را تشکیل میدهند ، همین قلت نفوس و موقعیت خاص جغرافیایی و تشکیل قومی، مذهبی و سیاسی این کشور باعث شده است که ظلم وستم شدیدی از ده ها سال به اینسو در آنجا ادامه پیدا کند ومردم جهان از آن بی اطلاع باقی مانند ودر مقابل آن عکس العمل نشان ندهند.

موج طوفان ظلم وستم بر مسلمانان بورما آنگاه به جوش وتلاطم خود رسید که به تاریخ سوم جون سال جاری بعد از شهادت چند تن مسلمان بیگناه توسط اردو در پایتخت این کشور مسلمانان دست به مظاهرات اعتراض آمیزی در ولایت اراکان زدند وبه این شکل رژیم مستبد نظامی حاکم دست به انتقام زد.

حکومت مستبد وحاکم که قبلا نیز بارها دست به عملیات تصفیوی مسلمانان در برما زده است اینبار نیز به قتل عام، بی خانمان سازی، به زندان انداختن، چپاول خانه ها وویران کردن آنان آغاز کرد ، ودرین راستا بودائیان ساکن در مناطق مسلمان نشین نیز با آنان دست همکاری دادند. بر اساس معلومات داده شده از تاریخ سوم ماه جون تا اواخر این ماه (وبه اعتراف عفو بین الملل) بیشتر از بیست هزار مسلمان در مناطق مختلف بورما

توسط بودائیان به شهادت رسیده اند ، صدها قریه چپاول وبعدا به آتش کشیده شد ، وهزاران مسلمان دیگر بی خانه ومجبور به ترک اجباری کاشانه های شان شدند ، وواقعاتی آتش زنی مسلمانان نیز رخ داد.

چنانچه حکومت بورما مطبوعات آزاد را اجازه فعالیت در این کشور نمیدهد بدین سبب ظلم وستم جاری بر مسلمانان تا مدت طولانی یی پنهان ماند ، وهنگامی که جزئیات این جنایات توسط بعض منابع مستقل وبه شکل انفرادی برای مطبوعات افشا گردید ودر فیسبوک ، تویتر وشبکه های دیگر اجتماعی تصاویر لرزه آور مسلمانان مظلوم بورما به نشر رسید ، باز هم عده یی از صاحبان بی شعور گفتند که این تصاویر جعلی بوده ومربوط به افراد متاثر از مصیبت های سیلاب وآفات دیگر در حوزه هند وچین میباشد که قبلا رخ داده است واکنون مسلمانان از آن استفاده سیاسی میکنند.

جای تعجب است که در جهان مطبوعاتی امروز سخن کوچکی نیز پنهان نمی ماند وبه سرعت وبرق آسا به گوشه وکنار جهان میرسد مگر جهان از این مصیبت بزرگ مسلمانان بورما بی خبر ماندند ، تنظیم های حقوق بشر وفعالان آن ، وبلند کنندگان پرچم عدالت جهانی همه بطور متفقانه خاموش باقی ماندند تا آنکه هیچ رسانهء آزاد معتبر درین ارتباط راپور مستقلی آماده نکرد تا حالت زار مردم مسلمان ومظلوم بورما را به جهانیان منعکس سازد.

این حالت تقریبا تا وسط ماه جولای جریان داشت ، تا آنوقت موقف مطبوعات دربارهء فاجعه بزرگ بورما تنها به شایعات ویاددهانی ضمنی خلاصه میشد ویاددهانی رسمی یی در این زمینه رخ نداده بود.

به تاریخ ۲۰ جولای امارت اسلامی افغانستان اعلامیه رسمی خودرا در این قبال به نشر رسانید ، وقتل عام مردم مسلمان بورما را شدیدا محکوم کرد. امارت اسلامی در اعلامیهء خود نه تنها این جنایت را تقبیح کرد بلکه تمرکز بیشتری موقف ناجوانمردانهء جهت های سیاسی ومطبوعاتی بین المللی در مقابل این جنایت کرد ، واین را برای جهت های مختلف بین المللی شرم آور خواند که چنین جنایت بزرگی جریان دارد مگر نهادهای سیاسی ومطبوعاتی در مقابل آن خاموش باقی مانده واندک عکس العملی نشان ندادند.

این پیام توبیخی وتنبیهی امارت اسلامی به آدرس جهانیان دست آورد خیلی مهم وقابل ملاحظهء داشت. بعد از این اعلامیه جهانیان متوجه قضیه بورما گردیدند ، از موضع گیری های مختلف، صدور بیانات وعکس العمل ها چنان به نظر آمد که اعلامیه امارت اسلامی دربارهء مسلمانان بورما به هدف مطلوب خود رسید ، این اعلامیه جهانیان را از غفلت غیر موجه بیدار ساخت، ورسانه ها را وادار ساخت تا این قضیه را تحت پوشش خبری خود قرار دهند.

به تاریخ اول رمضان امارت اسلامی توجه بین المللی سیاسی ومطبوعاتی را بسوی قضیه بورما جلب کرد که به تاریخ دوم آن سازمان عفو بین الملل برای بار اول عکس العمل خودرا دربارهء قضیهء بورما ظاهر کرد ، وبعد از مکث طولانی در بیان رسمی خود گفت که هزاران مسلمان از چند هفته به اینسو در ایالت غربی اراکان هدف حملات کشنده وچور وچپاول قرار گرفته اند. به تاریخ دوم رمضان امارات متحدهء عربی نیز تقاضا کرد که سازمان حقوق بشر ملل متحد نشست عاجلی را بخاطر وضعیت بورما بخواند. بر اساس راپور رسانه های اماراتی شیخ عبد الله بن زاید آل نهیان وزیر خارجه این کشور در تماس تلفونی با اکمل الدین احسان اوغلو رئیس سازمان کنفرانس اسلامی دربارهء بورما گفتگو کرد واز او خواست که سازمان کنفرانس اسلامی با همه امکانات دست داشته خود برای همکاری با مسلمانان بورما اقدام کند.

به تاریخ سوم رمضان شبکه تلویزونی الجزیره که امارت اسلامی طی اعلامیه خود از آن تقاضای توجه جدی دربارهء بورما را کرده بود ، یک راپور مفصلی را دربارهء بورما به نشر رسانید ووضعیت مسلمانان مظلوم این کشور را به شکل خیلی خوب به جهانیان رسانید.

همچنان در همین روز صدها فلسطینی در غزه گردهم آمده وبه حمایت از مستضعفین بورما مظاهره کردند. آقای سالم سلامه رئیس رابطه علماء فلسطین در جریان این مراسم از جهانیان وسازمان های حقوقی خواست تا با مسلمانان بورما همکاری کنند ، وی گفت: جای تأسف است که ریشه کنی مسلمانان بورما جریان دارد وجهان در مقابل آن خاموشی اختیار کرده است.

به تاریخ چهارم رمضان اتحادیهء اروپا نیز برای اولین بار دربارهء قضیه بورما عکس العمل نشان داد ورویهء ظالمانهء حکومت مستبد بودایی این کشور را تقبیح کرد. بر اساس راپور آژانس خبری ترکیه مسئول امور خارجه اتحادیهء اروپا کاترین آشتون گفت که اتحادیهء اروپا قضیه بورما را از نزدیک بررسی میکند ، آنجا حقیقتا در "روهینگا" بر مسلمانان ظلم واستبداد شدیدی جریان دارد ، اتحادیه اروپا از راه های سیاسی برای حل این معضله تلاش خواهد کرد وبا مردم بی خانه همکاری خواهد کرد.

به تاریخ پنجم رمضان یک سازمان معتبر حقوقی مصری بنام (الهیئه الشرعیه للحقوق والاصلاح) اعلامیهء مهمی را دربارهء بورما نشر کرد ، در این اعلامیه به استناد این حدیث (مَثَلُ الْمُؤْمِنِينَ فِي تَوَادِّهِمْ وَتَرَاحُمِهِمْ وَتَعَاطُفِهِمْ مَثَلُ الْجَسَدِ ؛ إِذَا اشْتَكَى مِنْهُ عُضْوٌ تَدَاعَى لَهُ سَائِرُ الْجَسَدِ بِالسَّهَرِ وَالْحُمَّى) گفته شده است که مسلمانان بورما عضو بدن ما هستند ، وقت زیادی میگذرد که این عضو بدن ما در آتش می سوزد ، مگر ما (مسلمانان) در خواب غفلت خفته ایم. در اعلامیه حکومت های اسلامی به ویژه عربی برای غفلت در این موضوع مورد توبیخ قرار داده شده بودند. اعلامیه از حکومت های عربی خواسته است که کارگران غیر مسلمان بورمایی را که در کشورهای اسلامی مصروف کار هستند از کشورهای شان خارج کنند تا حکومت بورما تحت فشار اقتصادی قرار گیرد.

به تاریخ هفتم رمضان حکومت ترکیه نیز برای اولین بار دربارهء قضیه بورما عکس العمل نشان داد. بکیر بوزداغ معاون طیب اردوغان نخست وزیر این کشور وحسین طایریفیردی معاون حزب عدالت وانکشاف رویهء حکومت بورما در مقابل مسلمانان را تقبیح کردند وخواهان موضع گیری جهانی در این ارتباط شدند.

بعد از زمان کوتاهی از صدور اعلامیهء بیدار کننده امارت اسلامی ظاهر شدن چنین عکس العمل ها از جهت های معتبر مختلف وجلب توجه سیاسی ومطبوعاتی بین

المللی بسوی قضیه بورما نشان میدهد که آواز مخلصانه امارت اسلامی برای حمایت وپشتیبانی از مردم مستضعف ومظلوم بورما هدف مطلوب خودرا بدست آورده است.

با وجود آنکه امارت اسلامی در بخش مطبوعاتی با موانع زیاد بین المللی مواجه است ومطبوعات جهانی نیز با آن رویهء معاندانه میکنند ، مگر باز هم اینکه آواز امارت اسلامی به گوشه وکنار جهان میرسد ومردم، حکومت ها ، تنظیم ها وافراد را بیدار میکند این را میتوان کمک الهی وبرکت موقف مخلصانه امارت اسلامی در قبال مستضعفین مسلمان جهان دانست.

باید گفته شد که اقدام مناسب، بروقت ومملوء از بصیرت در این چنین مسایل بین المللی وبین الاسلامی میتواند به اعتبار بین المللی امارت اسلامی دیگر نیز بیافزاید ، به ویژه اعتنا به مسایل امت مسلمه وپشتیبانی وحمایت از آنان با استفاده از امکانات موجوده یقین امت مسلمان را در مقابل امارت اسلامی مستحکمتر میسازد.

بدون شک گفته میتوانیم که ما امروز در آن زمانی قرار داریم که رسول اکرم صلی الله علیه وسلم از آن خبر داده بودند (بدأ الاسلام غریبا وسیعود کما بدأ) امروز مسلمانان در گوشه وکنار جهان اجنبی تر از همه، نا آشنا ومخلوق بی کس شمرده میشوند ، مسلمانان در گوشه وکنار جهان با مصیبت های گوناگون سیاسی، اقتصادی، کلتوری وروانی دست وگریبان اند ، که در مقابل آن حکومت های منتسب به اسلام نیز مانند رژیم های کفری به شکل ناجوانمردانه خاموش باقی مانده اند.

امروز چشمان مسلمان مستضعف در گوشه وکنار جهان اسلام تنها به آن مجاهدین مسلح دوخته شده است که برای عزت وسربلندی امت اسلامی مبارزه میکنند. چنانچه امارت اسلامی به سطح جهان یکی از حرکت های جهادی اسلامی میباشد ، باید همیشه امیدها وآرزوهای ارادتمندان ومخلصین خود در جهان را به یاد داشته باشد ، چنانچه امارت اسلامی حمایت بروقت خودرا از مسلمانان بورما اعلان کرد به همین شکل باید متوجه قضایای دیگر امت نیز باشد. ما یقین داریم که الله تعالی بر هر اخلاص وحرکتی که در پشتیبانی اسلام ومسلمانان آغاز گردد برکت می اندازد ودر نتیجهء تلاش های خورد وکوچک نتایج بزرگی را مرتب میسازد.

د منبر غږ

مولوي محمداویس (عباس)

مالي عباداتو کې د شتمنۍ ټاکلی مقدار

دیادولو وړده چې دشرع په کتابونو کې چې د (درهم) یا (دینار) یادونه کیږي مطلب یې هغه درهم او دینار دي چې له سپینو او سرو زرو څخه جوړي شوې د وخت معتبري سکې وې، په اوسنۍ زمانه کې چې د ځینې هیوادونو کرنسۍ د (درهم) یا (دینار) په نوم یادیږي دا بانک نوټونه هغه کاغذي اسناد دي چې د اصلي پیسو حجتونه (ضمانت) خطونه دي چې دغوښتني په وخت کې به اصلي روپۍ ورکوي، ددې مثال د بانک چیکونه دي، لکه څه راز چې (چیک) روپۍ نشي ګڼل کېدای همغه شان په شرع کې بانک نوټونه هم اصلي روپۍ نشي ګڼل کېدای.

د فقه د معتبرو کتابونو په حواله، په شرع کې مالي عبادات د مکلف مسلمان په ذمه هغه وخت لازم ګرځي چې شتمن و ګڼل شي، په شرع کې شتمنتیا ټاکلی مقدار لري، کوم څوک چې (پرته له اصلي اړتیاوو څخه لکه دکور وسایل، دسوارلۍ آس، چوپړ وهونکی، او داسي نور) له سپینو زرو څخه جوړ شوي دوو سوو (۲۰۰) درهمو، یا له سرو زرو څخه جوړ شوي شلو (۲۰) مثقالو (دینارو) څښتن شي، نو شتمن دی مالي عبادات یې په ذمه لازم دي.

د حنفي مذهب د مقرراتو په چوکاټ کې د مثقال (دینار) مقدار شل (۲۰) قیراطه، او (درهم) څوارلس (۱۴) قیراطه ټاکل شوی دی، په پخوانیو زمانو کې مختلف درهمونه د سیمو رسمي کرنسۍ وې، خو د حنفي مذهب په وړاندي هغه درهمونه د اعتبار وړ ګڼل شوي دي چې لس (۱۰) درهمه، اوه (۷) مثقاله وزن ولري.

د امیر المؤمنین حضرت عمر فاروق رضی الله دحکومت په دوران کې درې ډوله درهمونه رواج وو ، د یوه ډول وزن دوولس (۱۲) قیراطه وو ، دویم ډول شل (۲۰) قیراطه وو ، درې یم ډول لس (۱۰) قیراطه وو ، له دې امله به د معاملاتو په مهال د خلکو ترمنځ شخړې را پورته کېدې ، په دې اړوند اصحاب رضی الله عنهم سره جرګه شول ، نتیجه داسې شوه چې حضرت عمر فاروق رضی الله عنه ته یې مشوره ورکړه ، چې له درې سره ډوله دراهمو څخه درې یمه درې یمه برخه را واخله یو مستقل درهم ترې جوړ کړه او دحکومت له لوري یې د رسمي کرنسي په توګه اعلان کړه ، همداسې وشول ، دهمدې رسمي درهم وزن څوارلس (۱۴) قیراطه وو ، چې دلسو دراهمو وزن یوسل څلوېښت (۱۴۰) قیراطه کېده ، د لسو (۱۰) درهمو وزن د مثقال په اندازه اوه (۷) مثقاله کېده ، او په مثقال کې کوم تغیر را نه وستل شو په مخکنۍ اندازه د تل لپاره پاتې شو .

د حنفي مذهب په مقرراتو کې همدا درهم او مثقال د اصل اوښتې په توګه ګڼل شوی دی ، ځکه د اوزانو او مکیلاتو اندازې له دې درهم او مثقال څخه ټاکي .

تعیین النصاب ؟

وفي الخَانِيَة المُوسِرُ في ظَاهِرِ الرِّوَايَة من له مائَتَا دِرْهَمٍ أو عِشْرُونَ دِينَارًا أو ما بَلَغَ ذلک سِوَى سَكَنِه وَمَتَاعِه وَمَرْكَبِه وَخَادِمِه الذي في حَاجَتِه . كتاب الاضحية, بحرالرائق, كذا في الدر المختار, بَاب زكاة المال. والاختيار لتعليل المختار, في كتاب الصوم. والحجة على أهل المدينة, تاليف محمد بن الحسن الشيباني أبو عبد الله سنة الولادة / سنة الوفاة 189. وغيرها .

والمعتبر في الدراهم كل عشرة وزن سبعة مثاقيل. الاختيار لتعليل المختار, في كتاب الصوم. قالَ صاحب العناية: وَهُوَ ... المَعْرُوفُ فِيمَا بَيْنَ النَّاسِ الذِي عُرِّفَ بِهِ وَزْنُ الدِّرْهَمِ . العناية شرح الهداية,

فصل في الزكاة الذهب.

وَالمِثْقَالُ هو الدِّينَارُ عِشْرُونَ قِيرَاطًا وَالدِّرْهَمُ أَرْبَعَة عَشَرَ قِيرَاطًا وَالقِيرَاطُ خَمْسُ شَعِيرَاتٍ كَذَا في التَّبْيِينِ. الفصل الثاني في العروض, الفتاوى الهندية.

أن الدراهم على عهد عمر رضي الله عنه كانت على ثلاثة أنواع: نوع اثنا عشر قيراطاً، ونوع عشرون قيراطاً، ونوع عشر قراريط، وكان الدينار على نوع واحد وهو عشرون قيراطاً. وكان يقع بين الناس الخصومة في مبايعاتهم بالدراهم. فشاور أصحابه في ذلك، فقيل له: خذ من كل نوع ثلثه وأخذ عمر رضي الله عنه ثلث العشرة وثلث اثنا عشر وثلث العشرين، فبلغ ذلك أربعة عشر قيراطاً، فجعل وزن الدراهم أربعة عشر قيراطاً وقدر وزن الدنانير على حالها، فبلغ وزن عشرة دراهم مائة وأربعين قيراطاً كل درهم أربعة عشر، وهو وزن سبعة دنانير كل دينار عشرون قيراطاً، وهذا هو تفسير وزن السبعة في الدراهم. الفصل الثالث في بيان مال الزكاة. المحيط البرهاني المؤلف: محمود بن أحمد بن الصدر الشهيد النجاري برهان الدين مازه. .

صدقة الفطر له دوو شتمنيو نه په کومه يوه لازم ګرځي

صدقة الفطر (سرسايه) په ممکنه شتمني واجبيږي، اوکه په ميسره ؟ (د ميسره اوممکنه قدرتونو توپير په دې توګه دی) ممکنه قدرت هغه مملوک مال ته ويل کيږي چې هغه د شرع له لوري تاکل شوی مقدار (نصاب) پوره کړي، نو څښتن يې د شرع له لوري شتمن ګڼل کيږي، د مثال په ډول کوم څوک چې دشيدو دلوشلو ديو داسي غوا څښتن وي چې دهغې ارزښت دوه سوه (۲۰۰) درهمه سپينو زرو ته، يا شل (۲۰) مثقال سرو زرو ته ورسيږي نو صدقة الفطر پرې واجب ده، همدا راز چاته چې د خپلې ځمکې دومره حاصلات لاسته راځي چې دده دعيال تر راتلونکي کال پورې پر بسيا کيږي، که څه هم په حاضر حال کې نورځه په لاس کې ونه لري، نو دی د شرع له لوري شتمن ګڼل کيږي صدقة الفطر پرې واجب ده.

په قدرت ممکنه پورې چې د شرع له لوري د نصاب د مالکيت شرط پيوند شوی دی، له قدرت ممکنه سره په تضاد کې نه دی، چې څوک د قدرت ميسره څرک ترې لګوي، بلکې ددې لپاره دی چې د شرع لخوا شتمن وګڼل شي.

د همدې قدرت اړوند د شرع له لوري د تجارت او د کال دګرځېدو په وسيله د ډبرښت (نماء) هيڅ راز شرط نه دی لګېدلی، د همدې قدرت ممکنه دشتون په صورت پورې دځلورو احکامو وجوب تړاو لري: د بل چا زکات اخيستل پرې حرام دي، د لوی اختر قرباني پرې واجب ده، د کوچني اختر صدقه فطر (سرسايه) پرې واجب ده، د

بهوزله قربیانو نفقه (خواړه) پرې واجب ده. قدرت میسره دهغه حاضر مال مملوکیت ته ویل کیږي چې څښتن یې په شرع کې شتمن ګڼل کیږي، د هغه لمخه زکات، حج او داسي نورو مالي عباداتو اداء لازم ګرځي، د شرع لخوا په دې نصاب د تجارت یا دکال دګرځېدو په وسیله ډېرښت (نماء) شرط لګېدلی ده، په ځینې نورو مالونو کې کوم ټاکلی نصاب شرط نه دی لګېدلی، دبیلګې په توګه د ځمکې د حاضرو حاصلاتو زکات به اداء کوي،) . .باب الصدقة الفطر, العناية شرح الهداية . كتاب الاضحية. فتح القدير. كتاب الاضحية, بحر الرائق. رجح ابن عابدين هذ الراي في حاشيته, كتاب الاضحيه

دریمه پلټنه : په جاري زمانه کې دشرعي نصاب اړوند دګرامو اټکل

(مثقال) او (دینار) د مقدار لمخه هیڅ راز توپیر نه لري، په حقیقت کې د دواړو مقدار یو دی، لکن دکارولو موخې یې یو له بل څخه بېلې دي، له مثقال څخه د مکیلاتو (پېمانو) اندازه ټاکلو کار اخیستل کیږي، او له دینار څخه د نغدو پیسو اندازه ټاکلو کار اخیستل کیږي، همدا لامل دی چې په ځینې مواریدو کې د دواړو اوزانو تر منځ اشتباوي رامنځته کیږي.

امام نووي رحمه الله د امام رافعي رحمه الله په حواله ویلي دي: د اصحابو رضی الله عنهم د زمانې ټول اولسونه په دې متفق دي چې (درهم) شپږ دوانقه وزن لري، همدا راز لس (۱۰) درهمه اوه (۷) مثقاله وزن لري، د مثقال او دینار تر منځ د کفر او اسلام په دواړو زمانو کې کوم تغیر نه دی راغلی، همدا دلیل دی چې د سرو زرو او سپینو زرو د زکات د نصاب په ټاکلو کې له مثقال څخه د بنسټ په توګه کار تري اخیستل کیږي.

په شرع کې دوه ډوله مثقالونه رواج لري، یو ډول مثقال امام ابوحنیفه رضی الله عنه په خپل مذهب کې د بنسټ په توګه کارولی دی، چې د وربشو په اندازه یو مثقال سل (۱۰۰) (نرۍ) وربشي ده. چې د شرعي درهم په اندازه یو بشپړ درهم او د بل درهم په اوو (۷) برخو کې درې (۳) برخي ورسره دي.

د ویم (درهم) درې واړه امامانو په خپلو مذاهبو کې دبنسټ په توګه کارولی دی، چې د وربشو په اندازه دوه اویا (۷۲) (نرۍ) وربشي دی، همدا مثقال د احنافو تر رواجي مثقال اته وېشت (۲۸) وربشي کم دی.

د حنفي مذهب له مقرراتو سره سم د سرو زرو د نصاب اندازه شل (۲۰) مثقاله (دينار) تاكل شوې ده .

د سوډان هيواد فيصل الاسلامي بنک ، په حنفي مذهب کې معتبر د يوه مثقال اندازه پنځه (۵) ګرامه اټکل کړې ده ، او دشلو مثقالو اندازه يې سل (۱۰۰) ګرامه اټکل کړې ده .

په شرع کې دوه ډوله درهمونه رواج لري ، يو ډول درهم امام ابوحنيفه رضی الله عنه په خپل مذهب کې د بنسټ په توګه کارولی دی ، چې څورلس (۱۴) قيراطه دی او يو قيراط پنځه وربشي ده ، چې يوه درهم د وربشو په حساب اويا (۷۰) وربشي ده ، چې د ګرامو په اندازه يو درهم درې نيم (3.50) ګرامه اټکل شوی ده .

چې دحنفي مذهب له اصولو سره سم دسپينو زرو د زکات نصاب دوه سوه (۲۰۰) درهمه دی ، چې دګرامو په اندازه اوه سوه (۷۰۰) ګرامه اټکل شوی دی .

د حنفي مذهب له اصولو سره سم د (مهر) تيټ مقدار لس (۱۰) درهمه ده چې دګرامو په اندازه پنځه دېرش (۳۵) ګرامه اټکل شوی ده .

نتيجه داسي شوه چې په روانه زمانه کې کوم څوک د (۷۰۰) ګرامه سپينوزر ، يا (۱۰۰) ګرامه سره زر ، يا له وخت سره سم که د هر يوه نصاب په معادل ارزښت رواجي کرنسۍ ولري ، يا ددې معادل کوم بل مال له شرعي موانعو پرته په خپل مستقل ملکيت کې ولري نو دغه مسلمان په شرع کې شتمن ګڼل کيږي د شتمني اړوند چې دشرع کوم احکام دي هغه ټول پرې لازم دي ، همدا راز له دې نصابو څخه د زکات ، صدقه فطر ، د لوی اختر د ذبا يځو ، او د نکاح د عقد لپاره ټولي اندازې اټکل کيږي .

تعيين النصاب في عصر الحاضر ؟

المثقال والدينار : المثقال : من أوزان الكيل ، أما الدينار فهو من أوزان النقد ، وهذا الأمر أحد أسباب الاشتباه بين الوزنين ، وهما في الحقيقة كمية واحدة وهو الراجح عند الفقهاء . مجلة البحوث الاسلامية, ج(39) ص(271) .

(قَوْلُهُ : وَالدِّينَارُ) أَيْ الذِي هُوَ المِثْقَالُ كَمَا فِي الزَّيْلَعِيِّ وَغَيْرِهِ . قَالَ فِي الفَتْحِ : وَالظَاهِرُ أَنَّ المِثْقَالَ اسْمٌ لِلمِقْدَارِ المُقَدَّرِ بِهِ ، وَالدِّينَارُ اسْمٌ لِلمُقَدَّرِ بِهِ بِقَيْدِ ذَهَبِيَّتِهِ .اهـ .

وَحَاصِلُهُ أَنَّ الدِّينَارَ اسْمٌ لِلْقِطْعَةِ مِنْ الذَّهَبِ الْمَضْرُوبَةِ الْمُقَدَّرَةِ بِالْمِثْقَالِ ، فَاتَّحَادُهُمَا مِنْ حَيْثُ الْوَزْنُ. باب زكاة المال، رد المحتار لابن عابدين ، وفتح القدير، فصل في الفضة. ومجلة البحوث الاسلامية، ج(39) ص(271).

قال الإمام النووي: إن الإمام الرافعي وغيره من أصحابنا قالوا: أجمع أهل العصر الأول على أن تقدير الدرهم ستة دوانيق كل عشرة دراهم سبعة مثاقيل، ولم يتغير المثقال "الدينار "في الجاهلية ولا الإسلام. فبناء على ذلك: المثقال هو الأصل الذي يحتكم إليه في تحديد مقدارنصاب زكاة الذهب والفضة. النكت في المسائل المختلف فيها بين الشافعي وأبي حنيفة. لأبي إسحاق إبراهيم بن علي الشيرازي.

المثقال الشرعي مثقالان: مثقال أخذ به أبو حنيفة وهو مائة حبة؛ لأنه درهم وثلاثة أسباع بالدرهم الشرعي.

ومثقال أخذ به الأئمة الثلاثة وهو اثنتان وسبعون حبة، فينقص عن مثقال أبي حنيفة بثمان وعشرين حبة. (المقادير الشرعية ،ص(61)). النكت في المسائل المختلف فيها بين الشافعي وأبي حنيفة.

نصاب الذهب عشرين مثقالاً ـ ديناراً والمثقال عند الحنفية يساوي (5غرام) فيكون نصاب الذهب عند الحنفية (100) غرامات.

والدرهم الشرعي درهمان: درهم أخذت به الحنفية وهو 14 قيراطا شرعيا كل قيراط خمس حبات فدرهم عند الحنفية 70 حبة = (3.50) غرام تقريباً.

ونصاب الفضة: مئتا درهم تساوي عند الحنفية (700) غراماً تقريباً.

أقل المهر عند الحنفية ... (10) دراهم(35) غرام .حدده بنك فيصل الإسلامي في السودان. النكت في المسائل المختلف فيها بين الشافعي وأبي حنيفة. مجلة البحوث الاسلامية، ج(39) ص(271). والفقه الإسلامي وأدلته ،كتاب الزكاة، وحدات الأوزان والنقود: (3/1820).

دمقدار تاكني پورتني مفصل بحث خلاصه په دې توګه ده:

دحنفي مذهب له اصولو سره سم هغه مقدارونه چې بې شميره شرعي احكام د هغو په پيژندلو پوري تړاو لري په لاندي ډول دي :

(۱۰) لس دراهمه چې په نكاح كې د مهر د ټيټي اندازې په توګه ټاكل كيږي او همدا راز دغلو شوكمارانو د لاس غوڅولو احكام په هغو پوري تړاو لري ، مقدار يې (۳۵) ګرامه اټكل شوی دی .

(۲۰۰) دوه سوه دراهم چې سپين زر دي د زكات ، صدقه فطر ، اضحيه د وجوب او سوال د حرمت ، نصاب په شرع كې ټاكل شوی دی ، مقدار يې (۷۰۰) اووه سوه ګرامه اټكل شوی دی .

(۲۰) مثقاله (ديناره) سره زر چې مخكني احكام پرې مرتب دي مقدار يې (۱۰۰) سل ګرامه اټكل شوی دی .

همدا راز په شرع كې چې (۱۰۰۰۰) دراهم سپين زر ، يا (۱۰۰۰) يوزر ديناره (مثقاله) سره زر ، د يت د نفس او مادون د نفس تري ټاكل كيږي ، لس زره د سپينو زرو دراهم دمثقال په اندازه (۷۰۰۰) مثقاله تري جوړيږي ، د (۱۰۰۰۰) لس زره دراهمو ، يا (۷۰۰۰) اوه زره مثقاله د سپينو زرو مقدار يې (۳۵۰۰۰) پنځه ديرش زره ګرامه اټكل شوی دی .

همدا راز (۱۰۰۰) ديناره (مثقاله) د سرو زرو مقدار يې (۵۰۰۰) پنځه زره ګرامه اټكل شوی دی .

د نړۍ په اوسني رواج كې يوه كيلو وزن (۱۰۰۰) ګرامه اټكل شوی دی ، خلاصه داسي شوه چې د مذكر نفس ديت (۳۵) پنځه ديرش كيلو جيد سپين زر ، او (۵) پنځه كيلو سره زره اټكل شو .

د نړۍ وال بينک سعر او همدا راز د مخصوصو هيوادو سعرونه (نرخونه) چې په مختلفو زمانوكې لوړ او ټيټ كيږي د پيژندلو لاريې داده چې د اړتيا په وخت كې د هغه هيواد رسمي كرنسۍ په اندازه د (۱۰) لس ګرامه سپينو زرو نرخ به معلوم كړي له دې نه د هر يوه نصاب اټكل كيږي .

المَادَّةُ (1340) - إذَا كَانَ مِنْ المَعْرُوف وَالمُعْتَاد بَيْنَ النَاسِ التَعَامُلُ بِالذَهَبِ وَالفضَّة غَيْرِ المَسْكُوكَيْنِ أيْ غَيْرِ المَضْرُوبَيْنِ أيْ اسْتِعْمَالُهُمَا مَقَامَ النُقُود وَيُسَمَيَان نُقْرَةً وَهِيَ القِطعَةُ المُذَابَةُ مِنْ الذَهَبِ وَالفضَّة فَيَكُونَان فِي حُكْمِ النُقُود المَضْرُوبَة وَالمَسْكُوكَة وَيَكُونُ التَعَامُلُ بِهِمَا بِمَنْزِلَة الضَرْبِ وَتَصْلُحُ أنْ تَكُونَ ثَمَنًا وَرَأسَ مَال (البَحْرُ وَمَجْمَعُ الأنْهُرِ) ... وَالتِبْرُ هُوَ الذَهَبُ وَالفضَّةُ المُسْتَخْرَجُ مِنْ مَعْدِنِهِمَا وَلَمْ يُسْكَ بَعْدُ (الطحْطَاوِيُ) الخُلاصَةُ : إنَ الذَهَبَ وَالفضَّة ثَلاثَةُ أنْوَاعٍ : (1) المَضْرُوبُ (2) النُقْرَةُ (3) التِبْرُ ... الخُلاصَةُ : إنَ كُلَ بَلدَة يُوجَدُ فِيهَا عُرْفٌ وَعَادَةٌ بِإجْرَاء المُعَامَلَة بِالتِبْرِ فَالتِبْرُ فِيهَا فِي حُكْمِ النُقُود وَلا يَتَعَيَنُ فِي العُقُود وَيَكُونُ رَأسَ مَال شَرِكَة وَكُلُ بَلدَة لَيْسَ فِيهَا عُرْفٌ وَعَادَةٌ بِاسْتِعْمَال التِبْرِ نُقُودًا فَالتِبْرُ فِيهَا فِي حُكْمِ العُرُوضِ وَيَتَعَيَنُ بِالتَعْيِنِ فِي العُقُود وَلا يَكُونُ رَأسَ مَال شَرِكَة (الطحْطَاوِيُ وَرَدُ المُحْتَار. دررالحكام شرح مجلة الاحكام .

قال أبو حَنيفة رَحِمَهُ اللهُ تَعَالى من الإبِلِ مِائَةٌ وَمِنْ العَيْنِ أَلْفُ دِينَارٍ وَمِنْ الوَرِقِ عَشَرَةُ آلاف وَلِلقَاتِلِ الخِيَارُ يُؤَدِّي أَيَّ نَوْعٍ شَاءَ كَذَا فِي مُحِيطِ السَّرَخْسِيِّ. فتاوي الهندية, باب الثامن في الديات, ج(6) ص(24), الفتاوى الهندية في مذهب الإمام الأعظم أبي حنيفة النعمان الشيخ نظام وجماعة من علماء الهند, الناشر دار الفكر سنة النشر 1411هـ-1991م عدد الأجزاء 6.

په شرع کې دمذکر نفس دیت لپاره درې معیارونه ټاکل شوي دي (۱۰۰۰۰ دراهم (۱۰۰۰) دیناره ، (۱۰۰) اوښان ، بیا به جنایت کار ته اختیار ورکوي چې کوم مقدار ورته اسان وي هغه د جنایتکار په اختیار وټاکل شو نو همغه به جنایتکار او دده عاقله (الاقرب فالاقرب عصبه) اداء کوي .

خو اوس په شرع کې د ماهرو فقه پوهانو په حکم همغه طریقه لمنځه تللې ده ، بلکې ددې لپاره د ضرورت لمخه په دې درې معیارونوکې یو معیار ټاکل شوی دی ، چې هغه یوازي د سپینوزرو (۱۰۰۰۰) دراهم دي وبس ، د ورپسې راتلونکي دلایلو لمخه :

ـ لا عَاقِلَةَ لِلعَجَمِ ـ

قَوْلُهُ عَلَى الضَارِبِ أيْ وَتُؤْخَذُ مِنْ عَاقِلَتِهِ كَمَا هُوَ صَرِيحُ كَلامِ الاخْتِيَارِ وَيُؤْخَذُ مِنْ كَلامِ البَزَازِيَةِ المَذْكُورِ فِي هَذِهِ المَجْمُوعَةِ ، أَوْ يُحْمَلُ عَلَى القَوْلِ بِسُقُوطِ العَاقِلَةِ فِي زَمَانِنَا كَمَا ذَكَرَهُ العَلائِيُ وَالحَانُوتِيُ ؛ لِأَنَ التَنَاصُرَ مُنْتَفٍ الآنَ لِغَلَبَةِ الحَسَدِ وَالبُغْضِ وَتَمَنِي كُلِ وَاحِدٍ المَكْرُوهَ

لِصَاحِبِهِ وَحَيْثُ لَا قَبِيلَةَ وَلَا تَنَاصُرَ فَالدِّيَةُ فِي مَالِهِ أَوْ بَيْتِ الْمَالِ فَقَدْ حَصَلَ التَّوْفِيقُ بَيْنَ الْعِبَارَتَيْنِ. تنقيح الفتاوى الحامدية, كتاب الجنايات, احكام الصغار, 7\39.

وَذَكَرَ فِي الْمُحِيطِ عَنْ فَتَاوَى أَبِي اللَّيْثِ صِبْيَانٌ يَلْعَبُونَ بِالرَّمْيِ فَمَرَّتْ بِهِمْ امْرَأَةٌ فَرَمَى صَبِيٌّ ابْنُ تِسْعِ سِنِينَ أَوْ نَحْوُهُ سَهْمًا فَأَذْهَبَ عَيْنَهَا قَالَ الْفَقِيهُ أَبُو جَعْفَرٍ إنَّهُ لَا عَاقِلَةَ لِلْعَجَمِ وَبِهِ كَانَ يُفْتِي ظَهِيرُ الدِّينِ الْمَرْغِينَانِيُّ . تنقيح الفتاوى الحامدية, كتاب الجنايات, احكام الصغار, 7\40.

مِنْ مَسَائِلِ الْجِنَايَاتِ بخ انْقَلَبَ فَأْسٌ مِنْ يَدِ قَصَّابٍ كَانَ يَكْسِرُ الْعَظْمَ فَأَتْلَفَ عُضْوَ إنْسَانٍ يَضْمَنُ وَهُوَ خَطَأٌ وَالدِّيَةُ فِي مَالِهِ ؛ لِأَنَّهُ لَا عَاقِلَةَ لِلْعَجَمِ أَجْمَعَ ؛ لِأَنَّهُمْ ضَيَّعُوا أَنْسَابَهُمْ وَلَا يَتَنَاصَرُونَ وَالْعَاقِلَةُ جَاءَتْ فِي الْعَرَبِ وَهُوَ مُخْتَارُ أَبِي جَعْفَرٍ وَبِهِ يُفْتِي الْإِمَامُ الْمَرْغِينَانِيُّ وَفِي الْخُلَاصَةِ مِثْلُهُ... حَاوِي الزَّاهِدِيِّ فِي التَّسَبُّبِ مِنْ الْجِنَايَاتِ وَفِي شَرْحِ التَّنْوِيرِ لِلْعَلَائِيِّ صَرَّحَ شَيْخُ شَيْخِنَا الْحَانُوتِيُّ أَنَّ التَّنَاصُرَ مُنْتَفٍ الْآنَ لِغَلَبَةِ الْحَسَدِ وَالْبُغْضِ وَتَمَنِّي كُلِّ وَاحِدٍ الْمَكْرُوهَ لِصَاحِبِهِ فَتَنَبَّهْ قُلْت وَحَيْثُ لَا تَنَاصُرَ وَلَا قَبِيلَةَ فَالدِّيَةُ فِي مَالِهِ أَوْ بَيْتِ الْمَالِ . ا هـ. تنقيح الفتاوى الحامدية, كتاب الجنايات, احكام الصغار, 7\42.

فَأَمْكَنَ إيجَابُ الْعَقْلِ عَلَى أَقْرَبِ الْقَبَائِلِ مِنْ حَيْثُ النَّسَبُ أَمَّا أَنَّهُ لَا يَسْتَقِيمُ فِي حَقِّ الْعَجَمِ ؛ لِأَنَّهُمْ ضَيَّعُوا أَنْسَابَهُمْ وَلَا شَكَّ أَنَّ أَهْلَ الْأَمْصَارِ الْآنَ قَدْ صَارُوا كَالْعَجَمِ؛ لِأَنَّهُمْ ضَيَّعُوا أَنْسَابَهُمْ وَلَا يَتَنَاصَرُونَ فِيمَا بَيْنَهُمْ وَصَرَّحَ الْمَشَايِخُ أَنَّ التَّنَاصُرَ شَرْطٌ قَالَ فِي مِعْرَاجِ الدِّرَايَةِ شَرْحِ الْهِدَايَةِ مَا نَصُّهُ : وَأَفْتَى أَبُو اللَّيْثِ وَأَبُو جَعْفَرٍ الْهِنْدُوَانِيُّ وَظَهِيرُ الدِّينِ الْمَرْغِينَانِيُّ أَنَّهُ لَا عَاقِلَةَ لِلْعَجَمِ ؛ لِأَنَّهُمْ ضَيَّعُوا أَنْسَابَهُمْ وَلَا يَتَنَاصَرُونَ فِيمَا بَيْنَهُمْ وَهُوَ الْأَشْبَهُ وَقَالَ فِي الْبَزَّازِيَّةِ وَعَاقِلَةُ كُلِّ إنْسَانٍ مَنْ يَتَنَاصَرُ هُوَ بِهِ إنْ مِنْ الدِّيوَانِ فَعَاقِلَتُهُ أَهْلُ دِيوَانِهِ وَالصُّنَّاعُ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ إنْ كَانُوا يَتَنَاصَرُونَ بِالدِّيوَانِ وَالصِّنَاعَةِ . ا هـ.

وَحَيْثُ عُلِمَ أَنَّ التَّنَاصُرَ شَرْطٌ وَهُوَ لَا يُوجَدُ فِي هَذَا الزَّمَانِ لِغَلَبَةِ الْحَسَدِ وَبُغْضِ النَّاسِ بَعْضِهِمْ لِبَعْضٍ وَتَمَنِّي كُلِّ وَاحِدٍ الْمَكْرُوهَ لِصَاحِبِهِ فَتَكُونُ الدِّيَةُ حِينَئِذٍ فِي بَيْتِ الْمَالِ قَالَ ابْنُ فَرْشَتَةَ فِي شَرْحِ الْمَجْمَعِ وَمَنْ لَا عَاقِلَةَ لَهُ فِي ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ تَجِبُ فِي بَيْتِ الْمَالِ وَقَالَ صَاحِبُ الْبَزَّازِيَّةِ مَا نَصُّهُ وَإِنْ لَمْ تَكُنْ لَهُ عَشِيرَةٌ وَلَا دِيوَانٌ فَعَاقِلَتُهُ بَيْتُ الْمَالِ فِي ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ وَعَلَيْهِ الْفَتْوَى وَمَنْ وَجَبَ عَلَيْهِ شَيْءٌ لَا يُؤْخَذُ مِنْ غَيْرِهِ هَذَا مَا وَقَفْت عَلَيْهِ مِنْ كَلَامِهِمْ وَاللَّهُ تَعَالَى أَعْلَمُ . ا هـ. تنقيح الفتاوى الحامدية, كتاب الجنايات, احكام الصغار, 7\43.

وبالرغم من كل هذه المزايا، فإن نظام العاقلة كان مناسباً للبيئة التي كانت فيه الأسرة الواحدة متماسكة البنيان، متناصرة فيما بينها على

السراء والضراء. أما وإنه قد تفككت الأسر، وتحللت عرى الروابط بين الأقارب، وزالت العصبية القبلية، ولم يعد الاهتمام بالنسب أمراً ذا بال، فلم يبق بالتالي محل لنظام العواقل، لفقدان معنى التناصر بين أفراد الأسرة.

يرشد إليه أن نظام العاقلة تطور - في رأي الحنفية - من الأسرة إلى العشيرة، فالقبيلة، ثم إلى الديوان، ثم إلى الحرفة (1) (أو النقابة في عصرنا) ثم إلى بيت المال.

وبما أن نظام العشيرة قد زال، وبيت المال قد تغير نظامه، واختلف النظام الاجتماعي عما كان عليه في زمن العرب، وفقدت عصبية القبيلة بعضهم لبعض، وصار كل امرئ معتمداً على نفسه دون قبيلته كما في النظام الحاضر، فإن دية القتل الخطأ أو شبه العمد، أصبحت في زماننا هذا واجبة في مال الجاني وحده، وقد نص عليه الحنفية (2). وهذا موافق لرأي أبي بكر الأصم والخوارج الذين يجعلون الدية على القاتل لا على العاقلة، أخذاً بعموم الآيات والأحاديث التي تقرر مبدأ المسؤولية الفردية أو الشخصية عن الأفعال (3). وهو أيضاً منسجم مع رأي باقي المذاهب الذين قرروا وجوب الدية على الجاني إذا لم توجد له عاقلة ولم يوجد بيت المال.

---

(1) قال الحنفية: لو كان اليوم قوم تناصرهم بالحرف فعاقلتهم أهل الحرفة (اللباب: 3/178). (2) الدر المختار ورد المحتار: 5/456.

(3) مذكرة تفسير آيات الأحكام بالأزهر: 2/123. مبحث مصير نظام العواقل في الوقت الحاضر، فقه الاسلامي وادلته ج(7)صـ(641).

سمينار ۱۳۴۷ چنين مينويسد (ولاعاقلة للعجم) درنتيجه به مراجعه به مصادر فقهى متعدد به اكثريت مطلق چنين فيصله به عمل آمد كه عاقله درمملكت ما به

اقوال راجحه فقهی موجودنبوده واگردیت ازعاقلة گرفته شود باعث اذیت عده اشخاس بی بضاعت نیزخواهد شد ، بنآء باکثریت مطلق تصویب شد که دیت باشد تنها ازمال جانی تادیه شود .

مباحثه ثانی بالای مقدار دیت صورت گرفته درنتیجه رای مجلس به این قرارگرفت که قاضی درفیصله خودحکم ده هزار (۱۰۰۰۰) درهم شرعی که معادل هفت هزار (۷۰۰۰) مثقال نقره می باشد صادر مینماید اما برای آینده تشویش وسرگردانی را برای اهل مقتول ، ازنقطه نظر ابهام درحکم بازنیاورد ، لازم است که ستره محکمه درابتدای هرسال باشعبات بانکي داخل مفاهمه شده وبعدازانکه وضع نرخ نقره جید واضح گردید تمام محاکم مربوطه را مشعرسازند تادرظرف همین سال اندازه نرخ هفت هزار مثقال نقره معادل این قدر بانک نوت افغاني تعیین گردیده عنداللزوم به شعبات تحصیلی دین دیت نفس ومادون نفس خبر خواهند داد .
سمینار (۱۳۴۷) صفحه (۴۴- ۴۵) .

جوته فایده : د عاقله نظام په عربي او عجمي دواړو ټولنو کې اوس لمنځه تللی دی په همدې استناد دافغانستان په اسلامي هیواد کې چې دمحاکمو لخوا د نفس او مادون النفس ددیت حکم صادریږي هغه له دې معیارونو څخه یوازي د سپینو زرو معیار ټاکل شوی دی (۱۰۰۰۰) لس زره د سپینو زرو دراهم دي چې دهغو وزن دمثقال په اندازه (۷۰۰۰) مثقاله تري جوړیږي ، چې د ګرامو مقدار یې (۳۵۰۰۰) پنځه دیرش زره ګرامه اټکل شوی دی ، چې همدا وزن (۳۵) کیلو سپینزر کیږي .

دا به یوازي دجنایتکار له شخصي ملکیت څخه اداء کیږي او یا به له بیت المال څخه اداء کیږي .

دا تغیرات او تعیینات د وسعت او سهولت لپاره شوي دي چې له یوه لوري د جنایتکار په توان کې راشي او له بل لوري مقابل جانب عوض ترلاسه کړي .

ذبیح الله مجاهد

خوشبی له خپلولس سره

عبدالله ـ السلام علیکم ورحمة الله ! وروره څنګه یاست ؟ زه دیو محصل به توګه څنګه کولی شم چې په امارت اسلامي ته خدمت وکوم ؟ او د الله جل جلاله په مخکی تر یو حده خپل مسؤلیت اداک ړمه ؟ محصل دوکتورا اسلامیات

ځواب ـ وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته ! وروره تاسو ته مې مشوره داده چې ته داوس لپاره خپل درسونه پرمخ وړه ، کله چې فارغ شوي نو بیا کولای شې چې هر انتخاب ځانته غوره کړي ، نن ورځ هر مسلمان لپاره دیري وجیبه هغه جهاد ده چې په هره ممکنه وسیله وي باید دکفارو په ضد په جهادي صف کې ځان ودروي او په دې برخه کې خپل مکلفیت اداکړئ ، داچې بیا تاسو څه کولای شئ او په کومه برخه کې په جهادي صف کې ونډه اخیستلای شئ دا ترتاسو پورې اړه لري ، خو ان شاءالله د جهاد صف خورا پراخ اولوي ده اوتاسو چې په هرځای کې وغواړئ له مجاهدینو سره یو ځای کیدلای شئ او د خپل شخصي ژوند او کار اوبار سره سره جهاد ته هم په خپل ژوند کې برخه ورکولای شئ ، دااوس زمونږ ډیری مجاهدین هم شخصي مصروفیات او کار اوبار لري او هم په معین وخت کې جهاد کوي چې تاسوهم بیا دځان لپاره داسي زمینه جوړولي شي . مننه

اسدالدین ـ السلام علیکم ! من لم یهتم بأمر المسلمین فلیس منهم... الحدیث

د برما وحشت او قتل له هیچا پټ نه دی د پور تني حدیث له مخې د هر مسلمان مکلفیت جوړیږي چې تر خپلې وسې د برما مسلمانانو سره خواخوږي وښیي او داوحشت وغندي ، اسلامي امارت باید د دې پیښې د غندنې

په باره کې اعلامیه راوباسي او د بشر د حقوقو او د بنځو د حقوقو تش په نامه موسسات هم وغندي چې سکوت ئې پرې غوره کړی ،په غور بند کې چې یوه بنځه ووژل شوه ټوله دنیا راوپاریده خو په برما کې چې ژوندي انسانان په اور سوځول کیږي د غیږې ماشوم د خپلې مور په مخکې اور ته اچول کیږي د چا وېښته هم نه ښوروي ، دا زما یوه دوروی مشوره وه په ویب سایټ کی ئې نشرول هم اړین نه بولم فقط تاسو ته د تذکیر لپاره وه په دې هیله چې ستاسو ځواب مثبت وي

ځواب۔وعلیکم السلام ! په برما کې چې څه تیریږي واقعا دهر مسلمان لپاره دردونکي دي ، اسلامی امارت په دې اړه خپل جدي غبرګون او اندیښنه په یوه اعلامیه کې وښودل ه ، دنړۍ ټول مسلمانان ، دینی ټولنې ، بشري او په اصطلاح د بشر حقوقو ټولنې یې هم وننګولې چې ترڅو یادې ستونزې ته په برما کې جدي توجه وکړي ، خو یوڅه باید په یاد ولرو چې د اسلام په وړاندې ټول کفري ملت یو شوي په هرځای کې غواړي مسلمان ووژني ، تحقیریې کړي ، وېې ځوروي او له بیلا بیلو ناورینونو سره یې مخ کړي، په برما کې هم حالات ډیر خطرناک دي چې د مسلمانانو په وړاندې د کفارو کینه ، ضد او عناد په ګوته کوي او داچې بیا کفري نړۍ اونړیوالې رسنۍ هم دې موضوع ته تراوسه لاس نه وروړي دا لا داخبره پخوي چې ټول کفار د مسلمان په ځورولو او څپلو کې سره متحد دي ، چې داسې حالات پخپله د ټول مسلمه امت لپاره لوی درس ده چې باید خپل خیر د کفارو سره په دوستي او ملګرې کې ونه لټوي بلکې په نړیواله کچه دیو اسلامي تحول غږ اوچت کړي چې په دې برخه کې د ټولې اسلامی نړۍ ځوانان ډیر څه کولای شي ، اسلامی امارت به د خپل ایماني مکلفیت له مخې په دې موضوع کې هرهغه څه ونه سپموي چې له وس او توان نه یې پوره وي . مننه

شیر محمد۔ د اسلامی امارت محترم ویاند صاحب السلام علیکم ورحمه الله وبرکاته!

یوه پوښتنه لرم هغه داچې: د اسلامی امارت مجاهدین په خپلو جنګې ساحاتو کې ولې د خلکو سره د مور او میرې چلند کوي ؟ مثلاً امارت د ملې پیوستون پروګرام بند کړی دی ، که څه هم داخو د خلکو او هیواد آبادي ده او که چیرې اسلامی امارت کامیاب شي د دوی لپاره یو لویه سرمایه ده ،خو کوم کلي چې د مجاهدینو سره کوم ځواکمن کس ولري هغه ډې بې غمه کارونه کوي او کوم خلک چې ډې ونلري د هغوی هغه ټول شیان چور او چپاول کیږي او خلکو ته سپکې سپورې ویل کیږي. مننه

ځواب۔ وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته ! لومړي خو د ملي پیوستون په نامه کوم کارونه چې ترسره کیږي دا مخامخ د امریکایانو لخوا تمویلیږي او له ځانه سره خطرناک

هدفونه هم لري ، نو مجاهدينو په ټولو هغو سيمو کې چې ددې کار خطر او تاوان احساس کړي مجبور دي چې هلته داسي پروګرامونه متوقف کړي ، ځکه له داس ې پروګرامونو نه دخلکو دتير ايستلو ، دمجاهدينو پرضد راپارولو او دمجاهدينو دځايونو دمعلومولو کار اخيستل کيږي ، نو مجاهدين بيا څرنګ کولای شي چې داسې پروګرامونه آزاد پريږدي ؟

ځينې هغه سيمې چې بيا ځينې نور مشکلات ولري ، هلته دمجاهدينو ډير پراخ حضور نه وي ، يا هلته داسې کارونه ترډيره دمجاهدينو له غوښتونو سره سم ، دسيمې دخلکو په واک او اختيار ترسره کيږي او دخطر جهت يې نه وي بيا هلته مجاهدين نه غواړي چې په ډاډمنازک وخت کې دخلکو سره يا دکوم قوم سره ځان په لانجه کې واچوي او دجهاد نه توجه بلې خواته واړوي ، نو کوم تشويش چې ته لري هغه په داسي بيلا بيلو حالاتو بناده ، خوبيا هم په عموم کې زه ستاسو غوښنه ترمسئولينو رسوم چې تر ټول ممکنه حده دخلکو دسهولتونو مخه ونه نيول شي. مننه

زاهد- بناغلي مجاهد صيب السلام عليکم !

تيره ورځ رسنيو خبر نشر کړچ ې طالبانو پروان ک ې بنځه دزنا په تور په ډزو وويشتله اومړه شوه اوويډيو ې هم نشر شوه دطالبانو زنده باد نعرې هم پور ته شوې ايا داعمل دالله جل جلاله په حکم کې تحريف ندی اودصريح نص مقابله نده چ ې شوې، په ډزو ويشتل دزانې شرعي حيثيت لري ؟ اوويډيونشر ول ې ې څرنګ دي ؟ که داعمل دشريعت موافق وي هيله ده شکونه مو رفعه کړئ او که مخالف وي رسما ې وغندئ. مننه

ځواب-وعليکم السلام ! محترم ورورە تاسو پوهيږ ئ چې په ځينو سيمو کې زمور خلک ځينې قومي او منطقوي فيصلې او پريکړې کوي ، او دقوم ي جرګو فيصله بلل کيږي ، په پروان ولايت کې هم چې کومه بنځه وژل شوي ده هغه کې زمور مجاهدين هيڅ لاس نه لري ، البته دسيمې خلک دې چې پخپل سر يې داسې کارکې ، په ويډيو کې دالله اکبر نار ې وهل يا طالبانو زندباند نعرې وهل کله هم دامعنی نلري چې دابه طالبان وي ، البته له طالبانو سره به ددې خلکو خواخوږي وي چې داسي خواخوږي دهيواد ټول خلک له طالبانو سره لري اوهغه بيا جلا خبره ده ، خوعمل يې چې ده هغه سيميز عمل ده ، زمور دمحاکمولخوا داسې فيصله هلته نه ده شوې ، هغه سيمه يوجنګي سيمه ده چې تر اوسه مور هلته فعال ملکي فعاليت لکه محاکم نلرو ، بل داچې ددې پيښې په اړه به تاسو داسلامی امارت دريځ په رسنيو کې اوريدلی وي چې مور دمجاهدينو لاس لرل په هغه قضيه کې رد کړي وو اوس يې يوځل بيا هم ردو و ، زمور

پریکړې تل دغرا محمدي شریعت په اساس ترسره کیږي نه دهغه رسم او رواج یا قومي پریکړو په بنسټ چې شرعي صبغه نه لري. مننه

محمداصغر ـ السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته ! بعد د سلامه ستاسې دلازیاتو کامیابیو په هیله ، مجاهد صاحب زمایوه پوښتنه د غزنۍ ولایت په باره کې ده هیله ده چې لږ معلومات راکړئ ، داسې خبرونه څپاره شوي چې د طالبانو د غزنۍ ولایت څ ېنې بنوونځي بند کړي او هلته ولسي خلک طالبانو په مقابل کې راباځیدلي دي ایا داخبر حقیقت لري؟

ځواب ـ وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته ! محترمه محمد اصغره وروره ، څومیاشتې وړاندې په غزني کې د کابل اداري د چارواکو لخوا په موټرسایکلو باندې عام بندیز ولګیده چې ځینو معلمانو او استادانو چې کورونه یې لرې وو ، ښونځیو ته په پښو تګ نشو کولای نو یې داحتجاج په توګه خپل تګ ښونځیو ته بند کړ چې له امله یې ښونځي هم بې استاده پاتې شول او شاګردان هم ښونځیو ته نه راتلل ، خو سملاسي مجاهدینو سیمې ته هیئت واستاوه او یاده مسئله یې ژر تر ژره حل کړه چې اوس بیرته ښونځي په ټول غزني کې فعالیت کوي او دچا لخوا ورته کومه ستونزه نشته ، بل پلو په سیمه کې له پخوا ځینې فعال اربکیانو هم ځانته دپاڅون نوم ورکړ او یا دښونځیو مسئله یې بهانه کړه او اعلان یې وکړ چې دوي دمجاهدینو په ضد پاڅیدلي ، دغه کسان ټول معلوم الحاله اربکیان او په سیمه کې دبد شهرت لرونکي خلک دي چې اوس یې لله الحمد مخه نیول شوې ده . مننه

عبدالولي ـ سلامونه او نیکې هیلې، ما چې نورو پښتنو څخه اوریدلي او په خپلو سترګو مې لیدلي تاسو یواځې هغه پوښتنې ځوابوئ چې ستاسو په خوښه وي ، تاسو ته ډیر نور، نور سوالونه لږول شوي خو تاسو یو هم نه دي ځواب کړي ، آیا تاسو پوهیږئ چې په دې خلک خبر دي او ستاسو قدمو ته یې سترګې نیولې چې تاسو څه کوئ، او څه نه، اوولې؟؟؟؟؟ په درنښت

ځواب ـ وعلیکم السلام ! محترم ورور عبدالولي صیب ، یو خو داډیره موده کیږي چې دالفاروق عملیات پیل شول زه پخپله دومره زیات په ورځنیو چارومصروف شوم چې ډیر وخت مې له خبریالانو سره دخبر په ورکولو او دهغوی دسوالونو په جوابولو تیر شي او کله داسې هم پیښه شي چې انټرنیټ او کمپیوټر ته لاس رسی ونه لرم یا تخنیکي عوارض وي یا په ساحه کې ایمیل او انټرنیټ کار ونه کړي او یا هم اشد مصروفیت وي ، نو ډیرو ورونو سوالونه م ې په ریښتیا هم ندي ځواب کړي ، بل داچې بلې ! ځینې داسې پوښتنې وي چې فتنه اچونک ي او

نفاق شیندونکي وي او یا زموږ د اسلامی احکامو یا هیوادني وحدت سره په ټکر کې وي او یا هم صرف دعناد او ضد په مبنا لیکل شوي وي چې ځوابول یي بې ګټې وي نو زه په ریښتیا هم دداسي سوالونو له ځوابه ډډه کوم ، ځینې سوالونه بیا سره ورته وي چې دېوې موضوع په اړه شوي وي په داسي حالاتو کې چې زه یو سوال ځواب کړم دنورو ورته پوښتنو ځواب بیا دوخت ضیاع ده هغه ورونه دې خپل ځواب زموږ په دې لړۍ کې ولولي اګرکه بل چاته ځواب شوي وي ، ځکه موږته ډیر زیات لیکونه راځي او په هغو کې حتی په لسګونو لیکونو کې یوه پو ښتنه شوې وي بل سوالونه باید ټول داسې وي چې هغه کې زموږ دهیواد حالات او داسلام احکام په نظرکې نیول شوي وي او دمسلمانانو ترمنځ دبي اتفاقۍ اورته پکې لمن نه وي وهل شوي بیا یي پهځواب کې څه مشکل نه لرو ، خو چې زما تخنیکي ستونزې هم حل شي حتمابه مو سالمې پوښتنې چې په ځواب و ارزي ځوابوم. مننه

محمد اسماعیل ـ السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته مجاهد ورور مولوي ذبیح الله څخه یوه لنډه پوښتنه :

محترم مولوي صیب زه فی الحال په دوبۍ کې یم ستاسو دغه ښایسته ویب سایټ مې کله هم نه وو لیدلی اوس چې مې دغه ستاسو ویب سایټ پیدا کړو یقینا ډیره مینه ورسره لرم ، کله چې ستانوم (حصام مبارک) په ټي وي کې یاد کړي محترم یقنا زیات خوند راکوي . اول دټولو نه مخکې مولوي صیب که خپل ځان راته معرفي کړئ نو ډیره به ښه وي ، بعدله دې نه زما داپوښتنه وه چې موږ دلته اوسو په دوبۍ کې موږ ته دجهاد ډیره جذبه راځي ، خو بعضې منافقان دې پوښتنې موږ نه کوي چې کوم طالبان چې ددوبۍ یا پاکستان نه افغانستان ته دجهاد لپاره تللي هغه طالبان په خپل ملک دوبۍ یا پاکستان کې جهاد ولې نه کوي ؟ مولوي صیب اول دا معلومات راکړه چې په پاکستان او دوبۍ کې جهاد فرض عین ده او که نه ؟ که فرض وي ولې فرض ده او نه ، نه وي ولې نه ده ؟ مولوي صیب دا کسان چې غواړې ما په دې پوښتنه کې راونیسي اګر که ما هم تریو ځای پورې پړ کولای نشي خو بیا هم که ته په دې مسئله چې ډیره مهمه مسئله ده ښه رڼا واچوې ډیره به ښه وي که دمعلومات زر راکړل منندوی به مویم . والسلام

ځواب ـ وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته ! ستاسو له نیکو احساساتو نه یو نړۍ مننه کوم ، الله پاک مو دې مینه او هرڅه دالله تعالی درضامندۍ سبب وګرځوي ، بل داچې زما نوم خو هغه ده تاسو پیژن ئ مګر دخپل ځای او سیمې په اړه تاسو پوهیږ ئ چې معلومات نشم درکولای ، ځکه موږ دا اوس اوس ددښمن لخوا ترسخت تعقیب لاندې یو او دلته هر ملګري ته ډیر ژر مشکلات پیښېدلای شي ، نو دځان دلازیات ې معرفۍ نه معذرت غواړم ، ستاسو دسوال ددوهمې برخې په اړه باید ووایم چې دلوی الله جل جلاله په وړاندې په دنیا او آخرت

کې زموږ مکلفیت داده چې لومړی په خپل هیواد کې اسلامي حاکمیت راولو ، داچې نور په کومو ملکونو کې جهاد شته یا نشته دا خبره دهغو ملکونو په جیدو علماء کرامو پورې اړه لري ځکه هغوی ته شرعي دلایل او دخپلو ملکونو حالات ښه ور معلو میږي ، بل داچې ځینې مجاهدین چې دخپل جهادي احساس او اسلامي جذبې په اساس بل هیواد ته چې هلته تیار دمسلمانانو امیر وي ، ټولی یي جوړ وي اوجهاد په منظم شکل روان وي دوي هلته ورځي او جهاد کوي دا دهغو لپاره جایز کار ده ، بل که ستاسو په یاد وي دپخواني شوروي اتحاد په وخت کې هم دټولې نړۍ نه مجاهدین افغانستان ته راغلي وو او دلته یي دافغان ورونو حمایت کاوه ، نو داسوال هغه وخت ول ې دغو جنابانو نه کاوه چې نن ورپه زړه شوی ده ، هغه وخت دټولې نړۍ مسلمانانو چې په افغان جهاد کې برخه اخیسته دقهرمان په سترګه ورته کتل کیدل ، نن ولې هغو خلکو ته چې هغه پخواری کار وکړي په سمه سترګه نه کتل کیږي ، له دې نه دا معلومیږي چې یا د خلک یا دامریکا او غرب خواخوږي دي غواړي چې دلته په افغانستان کې امریکا له ماتې وساتل شي او یا کاملا ددښمن ترتبلیغاتو لاندې راغلي دي ، خویو شی چې زه څومره معلومات لرم په افغانستان کې اوس بهرني مجاهدین دنشت په حساب دي ځکه چې دهغو لپاره دلته اوسیدل او فعالیت ګران ده ، بل دا اوسنی جهاد چریکي جهاد ده چې په ډیرو کمو خلکو سره کیږي او دغومره مجاهدین موږ په خپل هیواد کې لرو چې اوسني جهاد پرمخ بوځي ، خو ورسره ورسره دمسلمانانو هر راز مرستې ته هم اړتیا لرو . مننه

محمد عبد الله ـ السلام وعلیکم ورحمت الله وبرکاته ! مجاهد وروره تاسو اوستاسو دټولو ملګرو صحت اوعافیت له ذوالجلال رب څخه غواړم زماپوښتنه دمولوي صاحب اسماعیل په اړه ده آیاداکوم تورچې په مولوي صاحب لګیدلي ، رښتیا ده او قضیه ای څنګه ده ؟ که لږه سپیناوی وکړ ئ ځکه خلک رنګارنګ خبر ې کوي ماخپله دمولوي صاحب ملګرو سره اکثرا په جهاد کې برخه اخیستې دهغه ملګر ي اکثرا ښه مجاهدین د ي او مولوي صاحب هم د نژدې نه پیژنم هغه خوهم بد سړی نه وو اوداچ ې ځینې خلک وای ي دای ې دمخالفینو کار وو چې تورن ې کړو داخبره څومره حقیقت لري ؟ اوزه خپله حیران اوډیر خفه په دې یم چې دومره د کفارو قربانیو ته ګوره او زمونږ دمسلمانانو اوبیامجاهد هم وي دغسې کارونه آیاډیر دافسوس خبره نه ده ؟ اوداروان جهاد که کوم دمجاهدینو مشران داسوچ کوي چې داددوی له برکته ده او هر رنګه فیصله ې چ ې دروان جهاد اودنتیج ې په اړه ددوی نفس اوزړه وغواړ ي هماغسې وکو ي نودالویه تیروتنه ،جفا اوخیانت د ځ ان ، اسلام او دټولو مجاهدینوفدایانو سره ده ، داخونو ثابته خبره ده چې هر هغه مجاهد چې په سنګر کې ناست وي اوقربانۍ ور کوي دهغه اصلي مقصد دالله جل جلاله رضا اوداسلامی امارت اوبیاخلافت قایمول د ي نه چاته شخص ي ګته رسول

.نو که ددې پاک اوسپیڅلي مقصد لپاره څوک کار نشي کولی ، نو تر ټولو ښه کار به داوي چې په کور کښږي تر څو چې مجاهدین وې دشر نه په امان شي، مور مسلمانان په دې څو آخرو پیړیو کې د کفارو نه کم خو دخپلو په نوم مسلمان خاینانو نه ډیر څوریدلي یو، په رښتیا هر هغه څوک چې داسې یو کار چې اصلي شرع ي مقصد نه په انحراف کې وي و کړي که هغه مشر وي که کشر، باید سخت مجازات شي حتی که زمور ډیر نږدې ملګری هم وي ، په آخره کې زه دخپل ګران ،دستر ګو تور ،سپیڅلو مجاهدو طالبانو اوعامو افغانانو وروښو پام دې خبر ې ته ور جلبوم چې دالله پاک نصرت له هر هغه چا سره چې په روان جهاد کې په پاک نیت برخه اخل ي اواخیستې یې وي بډه په داګه دلمر نه صفا په شپه او ورځ او هر قدم کې ښکار ي ، په لوی رب م ې قسم ده چ ې په دغو لنډو ور ځو کې زمادستر ګو لیدلی حال داده چې : څلور طالبان سره دبې قنداغه زور کلاشینکوفانو، د کاره لویدلی پیکاو یوه پخوانۍ راکیټ په واسطه دامریکایانو په اوو تانګون و اویو شمیر پیاده ووچ ې تر پوزې پور ې په عصري وسلو مجهز وو، چې ټوله دنیا ددوی داسلحې اوطیارو دډار نه دحق په ویلو کې ګنګ پاتې ده ، ورباندی جنګ شروع کړو چې دالله پاک په نصرت په لږوخت ک ې یې تیښتې ته اړ اودې ته مجبور کړ ل چ ې طیار ې راوغواړي ؛ خو لله الحمد طیارې هم ددوو اودرې ساعتو ګر ځیدو نه وروسته شرمنده بیر ته ولاړې اومجاهدینو ته هیڅ تاوان ونه رسید. همداسې پیښې افغانستان په هره ولسوالۍ کې مدام پیښیږي. داټول دالله پاک نصر تونه دي دعوامو نه مو داخواست دی چې د موقع نه باید استفاده و کړ ي او دا په لاس راغلي کفارو باند ې ور ودانګي اودپخوانیو انګریزانو غوندې، باید یو هم مونږ نه روغ لاړ نشي اوطالبانو ته م ې دادر خواست ده چې خپل نیتونه دې په هر کار کې دالله پاک درضا به خاطر و ګرځوي . بس دالله په امان

ځواب۔ وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته ! ستاسو دنیک احساس او سمو ګټورو مشورو نه یو ه نړۍ مننه الله پاک دې ټولو افغانانو او خصوصا دسنګر مجاهدینو ته دنیکو اعمالو او پاکو نیتونو توفیق ورکړي. ستاسو داساسي پوښتنې په اړه باید دومره ووایم چې مولوي صیب محمد اسماعیل ته داسلامی امارت دمحکمې لخوا برأت ورکړل شو او اوس آزاد ده ، الله پاک دې بیا داسې څه نه پیښوي چې زمور دخپګان او تشویش سبب ګرځ ي ، بل داچې دعدالت غوښتنه داده چې باید هرکس چې داسلامي امارت به هر چوکاټ کې کار کوي ، باید اسلامی قوانینو او دمحکمې شرعي حکم ته ځان تل تسلیم کړي ، دابیا دمحکمې کار ده چې دده په اړه څه پریکړه کوي ، خو دمحکمې او عدالت په وړاندې باید ټول مسلمانان هغه که مشر ده که کشر اویا که مسئول ده که فرد باید ټول برابر ځواب ووایو او حکم یې په ځان ومنو . مننه

د" قـــدر" شپـــه

" یاسر "

دقدر دشپې په عبادت ټول ګناهونه بخښل کیږی

عن ابي هريرة رضی الله عنه قال: قال النبي صلی الله عليه وسلم: من قام ليلة القدر ايمانا واحتسابا غفرله من ذنبه ماتقدم . وفی روایة قتيبة وماتاخر . الترغيب ۱۱\۲۵۹ ابن کثير ۱۴\۵۳۱ .

ژباړه: څوک چې دقدر په شپه په ایمانداري اواخلاص سره عبادة وکړي نوددې ټول وړاندینی ګناهونه به وبخښل شي . اودقتيبة په روایت کښی داهم راغلي : چې وروستني ګناهونه به يې هم وبخښل شي.

په دې اړه نورحدیثونه

دقدر د شپې څخه محروم دټولو بښيګنو څخه محروم ده .

[الف]دابوهريرة رضی الله تعالی عنه په یوه روایت کښي راغلي: کله چې دروژی میاشت راغله نوپیغمبرصلی الله علیه وسلم وفرمایل: تاسو ته درمضان میاشت راغله چې ډیره مبارکه میاشته ده روژي يې په تاسو لوی خدای فرض کړي دي ، داسی میاشت ده چې دجنة دروازي پکښې پرانیستل کیږي ، اودجهنم دروازي پکښي ترل کیږي .اوبیايې وفرمایل:

فيه ليلة خير من الف شهر من حرم خيرها فقد حرم . په دي میاشت کي یوشپه ده چې ترزروشپو يي عبادة غوره ده څوک چې ددی شپی دښيګنو څخه محروم شو نو دټولو ښيګنو څخه محروم شو. تفسير ابن کثير ۱۴\۵۳۱

[ب] دانس بن مالک رضی الله په روایت کښې راغلي چې کله دروژی میاشت داخله شوه نو پیغمبر صلی الله علیه وسلم وفرمایل : ان هذ الشهر قد حضر کم ، وفیه لیلة خیر من الف شهر من حرم فیها فقد حرم الخیر کله ولایحرم خیرها الا المحروم . رواه بن ماجة الترغیب ۱\ ۲۵۲

ژباړه: دامیاشت خو تاسو ته راغله په دی میاشت کښې یوه شپه ده چې ترزرو میاشتو غوره ده څوک چې ددي شپې دخیر څخه محروم شو نو دټول خیر څخه محروم شو اوددي شپې له اجراوثواب څخه له بدبخته ، او محرومه پرته نور څوک نه محرومیږی .

دقدر شپه څه ډول دي امت ته ورپه برخه شوه :

[ج] دعلي بن عروة رضی الله تعالی عنه څخه روایت ده چې رسول الله صلی الله علیه وسلم یوه ورځ دبنی اسرایلو دځلورو داسی کسانو یادونه کوله چې اتیا کاله یې دلوی خدای عبادة کړی وو ، اویوه شیبه یې هم دالله تعالی نافرماني نه وه کړي [اوبیاپیغمبر صلی الله علیه وسلم دهغوئ نومونه واخستل] او دایوب ، زکریا ، حزقیل ، اویوشع علیهم السلام یادونه یې وکړه .

عروه وایې چې صحابه وو ډیر تعجب اوارمان وکړ په همدي مهال جبرایل علیه السلام راغی او وي فرمایل :

یامحمد عجبت امتک من عبادة هؤلآء النفر ثمانین سنة لم یعصوه طرفة عین فقد انزل الله خیرا من ذلک فقرء علیه [انا انزلناه فی لیلة القدر - وماادراک مالیلة القدر - لیلة القدر خیر من الف شهر] هذا افضل مما عجبت امتک قال فسر بذلک رسول الله صلی الله علیه وسلم والناس معه. تفسیر ابن کثیر ۵۳۰\۴

ژباړه: محمده ستاامت دهغه کسانو له اتیا کلن عبادة څخه تعجب کاوه چې هغوئ یوشیبه هم دلوی خدای نافرماني نه وه کړي ، لوی خدای په تاسو دغه آیتونه نازل کړی اوبیا یې هغه آیتونه ولوستل او وي ویل: دا آیتونه ستا دامت لپاره ترهغه زیات دتعجب وړ دي چې دوی ورځخه تعجب کاوه ، پیغمبر صلی الله علیه وسلم اوله هغه سره ناست صحابه په دی خبره زیات خوشحاله شوو

یوبل روایت

وفی المرسل عن مجاهد رحمه الله: أن النبی صلی الله علیه وسلم ذکر رجلا من بنی إسرائیل لبس السلاح فی سبیل الله ألف شهر ، فعجب المسلمون من ذلک ، فأنزل الله عز وجل:{إنا أنزلناه فی لیلة القدر *وما أدراک ما لیلة القدر* لیلة القدر خیر من ألف شهر .

له رئیس المفسرین امام مجاهد رحمه الله څخه نقل شوي چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم دبني اسرائلو دیوه داسي ځوان یادونه وکړه چې زر میاشتي به په جهاد بوخت ؤ اوسلاح به یې له اوږې نه وه کته کړي ،مسلمانانو ته دبني اسرائلو ددي تن واقعه ډیر خوندور کړ اوتعجب یې وکړ نو الله تعالی دغه دقدر سورة نازل کړ.

په دي شپه کښي څه تیریږي :

[د] دحضرت ابن عباس رضی الله عنه څخه روایت ده چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم وفرمایل:... کله چې دقدر شپه شي نولوی خدای جبرایل علیه السلام ته امر وکړي ، هغه دملایکو له یوي ډلي سره زمکی ته راکښته شي ، له دوی سره یو زرغون بیرغ وي چې بیا یې د بیت الله [کعبی شریفی] په بام ودروي . جبریل علیه السلام سل وزرونه لري له هغوئ نه دوه وزرونه داسی دی چې له دي شپې پرته یې په بل وخت کښي نه پرانیزي ، هغه دادواړه وزرونه په دی شپه کښی وغوړه وي چې له ختیځه ترلویدیځه پوری ورسیږي ، جبرایل علیه السلام ملکي په دي امر کړي . هغه ګرزي اوپه دي شپه کښی په هغه مؤمنانو سلام وایې چې په عبادة ولاړوي ، یاناست وي که لمونځ کوي یا په نور ذکر بوخت وي له هغوئ سره روغبړ کوي او دهغوئ په دعاوو امین وایې . ترڅو چې سپیدي راخیږي ، کله چې سپیدي را وخیژي نو جبرایل علیه السلام یوداسي اعلان وکړي:

یامعشرالملآئکة الرحیل الرحیل . فیقولون یاجبرائیل فما صنع الله فی حوایج المؤمنین من امة احمد ص فیقول نظرالله الیهم فی هذه اللیلة فعفی عنهم وغفرلهم الا اربعة... الحدیث. الترغیب والترهیب ۱۱ ۲۵۲ رواه البیهقی

ای دملایکو ټولیه نور له زمکي څخه کوچ ده کوچ ده ، ملایکه ورته وائي: ای جبرائیله نولوی خدای داحمد صلی الله علیه وسلم دامت مؤمنانو ته دارټیاوو په پوره کولو کښی څه وکړو ؟ جبرایل علیه السلام ورته وایې: لوی خدای هغوئ ته په دي شپه کښی درحمت په نظر وکتل ، عفوه یې ورته وکړه ، اوهغوئ یې وبخښل ..

---- حامد ----

شهیدِ قافلی

مولوی صاحب سیدعزت اللہ (معاون کمیسون ولایت فاریاب)

شهییدمولوی سیدعزت الله خیرخواه ولدسیدسراج الدین ازولایت فاریاب ولسوالی قیصار قریه زیارت جاه نامبرده درسنه 1353 دریک فامیل بانهایت دیندار چشم به جهان گشود ، وی یک شخصیت دین دار ودین دوست وباتقوی وبا اخلاص وحلیم درعلم وخداشناسی وفروتنی دربین مردم خود بلامثل بود از اخلاق ازحسن سلوک که وی دربین مردم وباالخصوص درمیان مجاهد ین داشته همه متاثربودند وی تعلیمات ابتدائیه خویش را درقریه خود به مدرسه محل بنزد مولوی غلام سخی فرا گرفت بعدا با برادربزرگ خود مولوی صاحب سید حفیظ الله فعلابحیث قاضی ولایتی ایفای وظیفه مینماید بخاطر کسب علم وطن خویش راترک نموده عازم ولایت بادغیس شد درولسوالی جوند درقریه گزربانک بنزد عالم ربانی حاجی مولوی عبدالحکیم صاحب درس خویش را ادامه داد وبعد ازمدت چندی ازآنجا بنزدالحاج مولوی سید بهادرصاحب علم معنویت راکسب کرد وبعد ازمدت چندی ازآنجا درمرکزبادغیس بنزد مولوی صاحب سید محمداکبربدوره تحصیل خود ادامه میداد ناگهان حملات متجاوزین اشغالگران خارجی بربالای کشورعزیزمان صورت گرفت وی مجبورا بوطن اصلی خویش برگشت درمدرسه محل بنزد برادرخود مولوی صاحب سیدحفیظ الله بآموختن درس تفسیرآغازنمود وبعد ازتخریب ومعطل ماندن مدرسه مذکور ازطرف مزدوران غربی عازم پاکستان گردید .

بالاخره تحصیلات نهای خویش رابنزدعالم مشهورپنجاب گجرانوالی شیخ التفسیر والحدیث قاضی حمیدالله جان بسررسانده وسندفراغت راازنزدایشان کسب کردند وعازم وطن خویش شدند درمرکزقیصار مدرسه ایجاد کردندد درقبال

تدریس خویش برای طلاب تشویق بسوی سنگر مقاومت وجهاد و هم وانتقال مجاهدین ازیک نقطه بنقطه دیگر همکاری بی دریغ داشتند وبعدازآگاه شدن حکومت مزدورازین عمل ایشان بهمراه فرمان الله شهید علنیک گروب ایجاد نموده ، دست بکارشدند درضمن بعلز صداقت وامانت داری ایشان ازطرف ملاعبدالله خالد مسَول مالیه تعین نمود وبه مروروخت وبه بامانت داری ایشان مولوی صاحب عبدالقاهر رحش کمسیون ولایتی وی رابه حیث معاون خویش گماشت ودرضمن ازطرف والی ولایت مولوی صاحب عطاءالله مسئولیت مالیه ولایت راهم بدوش وگذاشت ،وایشان بربالای اشغالگران ومزدورانش تلفات سنگینی را درمختلف از نقاط ولایت وارداخت وچندین مرحله حمله های کماندوی اشغالگران بربالای ایشان صورت گرفت به فضل وبه مرحمت الهی نجات یافتند وبالاخره به مورخ 1391=برج حمل مطابق 1433=17جمادی الاولی درقریه لنگر مربوط ولسوالی پشتون کوت به یک حمله کماندوی ناگهانی اشغالگران به همراه 2 دوهمسنگرش بنام سید محمدالله وملاگل احمدبدرجه رفیع شهادت نائل گردیدند الله متعال برای ایشان جنات برین رانصیب حال شان بگرداند وبه بازمانده گان شان صبرجمیل واجرجزیل بی مثل عطاکند روځان شاد ویادشان تازه اناالله وانا الیه راجعون

شهید اتل قوماندان ملا الله نور جهادیار

د اسلام پاک د سپیځلي لارې ځلانده ستوری او ریښتونی مجاهد قهرمان قومندان ملاالله نور جهادیار د حاجي انبیاء زوي د حاجي شیرین لمسی د پکتیکا ولایت د وازیخوا ولسوالۍ د نهارې سیمې د حاجي قائم کلي په یوه جهادي او اسلام مینه کورنۍ کې تقریباً په ۱۴۰۴ هق کال په اوږدو کې زیږیدلی دی.

حاجي انبیاء اکا همدا تنکی زلمی د سختې مجبورۍ په حالت کې د دین زدکړې ته وقف کړ، د ماشومتوب په حالت کې یې د سیمې په مدارسو او مساجدو او همدارنګه د ګاونډي هیواد پاکستان په لورلائي ، قلعه سیف الله ، دیره اسماعیل خان ، وانه او اعظم ورسک کې په دیني مدارسو کې خپلو زده کړو ته دوام ورکاوو، بالآخره علمي سلسله یې لا په مکمله توګه پای ته نه وه رسیدلې چې د جهاد په عملي ډګر کې یې د دښمن پر ضد ملا وتړله ، د اسلامي امارت د جهادي لیکو یو لاروی او په ډیرو جنګونو کې یې په مکمله ونډه لرله.

شهید ملا الله نور جهادیار ډیر دلیر ، شجاع ، د ښو ښکو اخلاقو او ښائسته ځوانۍ خاوند وو.

د اسلامي امارت په دوران کې یې د کندوز ، تخار او بامیان په جنګونو کې پوره برخه واخیسته، همدارازې یې په ۲۰۰۱ م کال کې چې کله صلیبي یرغلګرو د هیواد پر پاک او سپیځلي حریم ناروا یرغل وکړ، شهید جهادیار هم له هغو سرتیرو ننګیالیو څخه وو چې د روان انقلاب په لمړي سر کې لا د جهادي کاروان سره ملا وتړله، په لمړیو کې د پکتیکا ولایت د وازیخوا ، خوشامند او ډلې په ولسوالیو کې په خپله ورسپارل شوې جهادي دنده بوخت وو، وروسته چې په هره

سیمه کي مجاهدین راپاڅیدل ، نوموړی هم د وازیخوا د ګواشتي په سیمه کي د محاذ مشر الحاج محمدعمر حنفي په سپارښتنه د ګواشتي د تشکیل قومندان وټاکل شو، کله چي الحاج حنفی صاحب د پکتیکا ولایت معاون مقرر شو، جهادیار یي د ۱۲ ولسوالیو (تروپ ، وړمې، وازیخوا، خوشامند، ډیله، جانخیل، خیرکوټ ، یحی خیل، اومنه ، یوسف خیل ، مرکزښرنه او متاخان) د سیار ګروپ قومندان وټاکی.

بالآخره جهادیار د ۱۴۳۱ هق کال د شوال میاشتې په ۱۷ نیټه د چهارشنبې په شپه د شپې په درې بجې په داسي حال کي چي د مرجاني په پوسته د خپلې قومندې لاندې په تعرضي حمله چي درې ساعته یي دوام وکړ ، او د پوستې د نیولو په حالت کي یوه بي رحمه عسکر چي د خپل ځان له وهمه د پیکا په ضربه باندې سره له خپلو دوو ملګرو سلیمان صادق او حمدالله ناقد سره یوځاي د شهادت جام نوش کړ.

روح دي یي ښاد او یاد دي یي تل وي، اناالله وانالله الیه راجعون

د نوموړي نه مور ، پلار ، دوه ورونه او دوه وړوکي زامن (علم خان او عبدالرحمن) پاتي دي

شهید ملا عبدالهادي سعید (رحمه الله)

اتل فدایی شهید ملا عبدالهادي سعید چې په ۲۰۱۲ م کال د اپریل پر ۱۶ نیټه د کابل ښار په زړه کې داشغالګرو ځواکونو او د کرزي دګوډاګي اداړې په پوځي او نظامي مرکزونو او داشغالګرو هیوادونو مربوط دبرطانیې او جرمني پرسفارتونو ، دارګ پرمانۍ او دپارلمان پر ودانۍ یې دنورو ۱۱تنو سرسپارلو فدایانو په ملګریتوب ۲۰ ساعته پرلپسې شدیده جګړه وکړه چې په نتیجه کې یې ددښمن په لسګونو عسکر او دولتي مامورین مړه او ژوبل شول.

فدایي شهید ملا عبدالهادي سعید په کال ۱۳۶۸ ه ش کي دپکتیکا ولایت د وازې خوا ولسوالۍ د کُبات په کلي کې دحاجي عبدالرحمن په دینداره او مجاهده کورنۍ کي دې فاني دنیا ته سترګې رونې کړې . ابتدایي او منځنۍ زده کړې یې دپاکستان دکوټې ښار په مختلفو مدرسو کې ترلاسه کړې ، د شهید سعید دخپل ژوند دمکلفیت زمانه په شرعي ګینه ښائسته وه ، په جهاد کي یې دغزوې له ښاخ سره زیاته مینه درلوده چې په نتیجه کي یې دهمدې زیاتي مینې له کبله زده کړې نیمګړې پاتي شوې او دجهاد سنګر ته یې ودانګل.

شهید سعید داشغال په وړاندې دجهاد سنګرونه ترهغو پورې ګرم وساتل ترڅو چې یوه ورځ یې نبي کریم صلی الله علیه وسلم په خوب ولید او له هغه مبارک نه یې په خوب کې دفدایي حملې الهام واخیست له هغه وروسته د استشهادیانو کاروان ته ورګډ شو، داعداد او تدریب اوجنګي مهارتونو دترلاسه کولو وروسته د ۲۰۱۲ کال د اپریل دمیاشتې

پر ۱۶ نیټه د کابل ښار په زړه کي د اشغالګرو ځواکونو او د ګوډاګي اداري پر پوځي مرکزونواو دولتي تاسیساتو باندي له ۲۰ ساعته شدید مقاومت وروسته دخپلو ۱۱ تنو نورو فدایی ملګرو سره یوځای په شهادت ورسید .انا لله وانا الیه راجعون

روح دي یې ښاد او یاد دي تل وي

شهید ملاعصمت الله زهیر

اتل شهید ملاعصمت الله زهیر د حاجي محمدغفور توخي زوي د محمد ابراهیم اکا لمسی او د زابل ولایت د شاه جوي ولسوالي د غلام رباط د مهاجرینوپه کلي کي ۲۳ کاله وړاندي زیږیدلی وو.

ښاغلی عصمت الله زهیر لا تنکی زلمی او د مدرسې طالب وو- هغه مهال یې پر خپل مشر ورور مولوي محمدالله صاحب باندي دیني درسونه ویل؛ چې پر ګران هیواد صلیبي وحشي ځناورو ناروا یرغل وکړ . داچي نوموړی دیوې دینداري او جهادي کورنۍ په غیږه کي راتوکیدلی ګل وو؛ نو د نور څه په نسبت یې له جهاد او د کفري یرغلګرو په وړاندي له مبارزې سره بې کچې مینه لرله ، هغه وو چې د ځوانۍ په لمړۍ مرحله کي یې - کله چې په جهادي لیکو کي د تللو لپاره جوګه شو- کتابونه کت او د جهاد سنګر ته را ودانګل ، نوموړي د خپل جهادي بهیر په اوږدو کي پر دښمن داسي مرګونې ګذارونه وکړل ،چې ځمکه یې ورته سره تبې او په ځان پوري یې حیران کړ ، همدا امل وو چې په سیمه کي د اسیر د جهادي ګروپ نوښتي مسؤل مقرر شو ، او په ډیر متانت سره به یې خپله ورسپارل شوې جهادي دنده پر مخ بیوله.

شهید عصمت الله له دې سره سره چې یو تاند حساس او نازک ځوان وو ، د دښمن په وړاندي ډیر تریخ خو د ملګرو په مینځ کي په خوږه ژبه او خورا ښو اخلاقو مشهور وو.

د جهاد په سپیڅلي لاره کي شهادت ته دومره تږی وو ، چې د ده په دې څلور کلنۍ جهادي دوره کي به د شاه جوي ولسوالۍ په مربوطاتو کي داسي ډیري لږ معرکې پیښې شوې وي چې ده دي برخه نه وي په کي لرلې ، هرې معرکې ته به په کامله زړورتیا روان وو.

په همدې جریان کي یوځل د امریکایانو له خواژوندی ونیول شو ، د دې ولایت په مرکز قلات کي یوه میاشت بندي او بیا راخلاص شو ، ولي د میدان دا اتل بیا هم په کور نه دی کښیناستی بلکي تر پخوا یې لا عزم مضبوط او جهادي هوډ پیاوړی وو ، پر دښمن یې پریکنده بریدونو ته نور هم دوام ورکړ.

هغه وو چې د ۱۴۳۳ هق کال په سفرالمظفر میاشت کي یوه ورځ د هینګي په کلي کي د شپې له مخې وحشي یرغلګرو وروباندي چاپه ووهله ، او تر څه مقاومت وروسته چې ۷ تنو خارجي او داخلي عسکرو ته په کي مرګ ژوبله واوښته ، په شهادت ورسید ، روح دي یې ښاد او یاد دي یې تل وي. انالله وانا الیه راجعون

يوازي مور، او دوه ورونه يې پاتې دي

دمورچل دارالافتاء

دزکات دورکړي اواخستنې په اړه څو مهم مسایل

الاستفتاء محترم مفتي صاحب لکه څرنګه چې تاسو ته معلومه ده چې درمضان المبارک میاشت دعباداتو ځانګړي میاشت ده ،

اومسلمانان په دغه میاشت کې په بدني عباداتو کې زیار باسې همداسې یې له مالي عباداتو څخه هم ځان نه دی سپمولي ، اوډیری مسلمانان ددي مبارکي میاشتي دځانګړتیاو و له املې خپل زکاتونه هم په دغه میاشت کې اداکوي.اوزیاتره مسلمانان کوشش کوي چې خپل زکاتونه مجاهدینوته ورکړي ځکه یو یې زکلت اداشي اوبل یې ترټولو مستحق خلکو ته چې مجاهدین دي ورسوي ،لکن په دې هکله کله ناکله ستونزي دزکات په اخستلو اوورکولو کې وي اوهغه دا چې کله دغه پیسي دناخبرتیاله املې په غیرمدرک کې مصرف شې نوکه تاسو مهرباني وکړئ مورږته په دې اړه چې زکوة اخستونکی اوورکونکی باید کوم امور مراعات کړي پوره تفصیل راته ولیکئ

مهرباني به مووي . المستفتي مولوي حماد

الجواب حامدا ومصلیا وبعد: هو داخبره باید وکړو چې مسلمانان باید هروخت په مالي جهاد کې برخه واخلي اوپه ځانګړي توګه بیا په دغه مبارکه میاشت کې اونه یواځې زکات بلکې کوشش وکړي چې له زکلت څخه علاوه هم په دي مالي جهاد کې پوره برخه واخلي

اوپلټې شوه دزکلت په اړه داخستونکي اوورکونکي لپاره تفصیلي فقهي احکام په لاندي ډول دي ، خوڅرنګه چې زیاتره دزکلت ورکړه اواخستنه دوکالت په طریقه سره وي نوځکه به لمړی په زکات کې دوکالت په اړه وغږیږو

په زکات کې دمالک اوفقیر دوکالت په اړه

۱ - دزکلت په ورکړه کې دمال څښتن کولی شي چې یو تن وکیل کړي خو دده دزکات مال فقیرانو ته ورسوي .

همداراز فقيران كولى شي چي دزک ات دقبض كولو لپاره يوتن وكيل يانايب كړي څو دشتمنو خلكو څخه ددوئ لپاره زكلت قبض كړي. الهنديه ۱۷۱\۱ الفقه الاسلامي ۸۹\۲

۲- دشتمن له لوري وكيل په خوځيزونو مكلف دى.

[الف] دا چې دغه دزكلت رقم به دزكلت مستحقو كسانو [فقيرانو] ته رسوي، كه يې دغه دزكلت پيسي په فقيرانو تقسيم نه كړي اونه يې په نورو داسي څيزونو مصرف كړي چ ې فقيرانو ته يې ور كړى، بلكې پخپله ښه يې مصرف كړي نو د مال دځښتن زكوة نه د ى وتلى، او دغه وكيل دهغومره مال چې صرف كړى يې ده خپل مؤكل ته ضامن ده. موكل به يې بيا زكات اداكوي. الهنديه ۱۸۹\۱ فتاوى دارالعلوم ۷۱\۲. فقهى مسايل ۲۲۵\۱

[ب]- دوهم كه چير ې دمال څښتن وكيل ته وويل: چ ې دغه دزک ات رقم به فلانكي اوفلانكي ته وركوي يعني يو يا دوه تنه يې ورته مشخص وښودل يا يې دمجاهدينو يوه ډلگى ورته مشخصه كړه، په دې صورت كې هم وكيل مكلف دى چې هماغه معلومو اشخاصو ته به يې وركوي، اوكه يې هغه تن ته ورنه كړ اونورو ته يې وركړو نو راجح قول دادى چې دغه وكيل دمال څښتن ته دهغومره رقم اوپيسو ضامن ده. الشامي ۲۲۴\۳ تاتارخانيه ۲۸۵\۲ والفقه الاسلامي ۹۲\۲.

[ج]- دځان لپاره دزكلت مال څخه څه نشي اخستلاى كه څه هم نيستمن وي، هو كه دزكوة څښتن ورته وويل: چې ستا خوښه شي هلته يې مصرف كړه نوبيا كه نيستمن وو دځان لپاره يې هم مصرفولى شي. التاتارخانيه ۲۸۳\۲ وردالمختار ۲۲۴\۳

يعني كه چيري موكل (زكوة وركونكي) ورته وويل: چې خوښه دې شي هلته يې مصرف كړه. نواوس كه وكيل مسكين وو بيا خو يې په خپله ښه هم مصرف كولى شي. اوكه شتمن وو نوبيا يې خپلې ميرمني، زوى ته چې محتاج وي يعني دزكوة مستحق وي وركولى شي، اوپخپله كه شتمن وو نو بيا يې نشي مصرف كولى.

[د]- همداراز دغه وكيل مكلف د ى چې داسي نابالغو ماشومانو ته چ ې پلار يې دنصاب څښتن وي زكلت ورنه كړي څكه هغه ماشوم ته چې نفقه يې په پلار وي اوهغه غني وي زكوة وركول صحيح نه دي. التاتارخانيه ۲۷۲\۲.

[ه]- وكيل نشي كولى چې دغه دزكوة پيسي په تنخوا، يا مهر، ياخياط ته دجامو دجوړولو په عوض، يا دقرضو په اداكولوكې، يادكور، يادكان په كرايه كى وركړي. څكه دتوكه وركړه كي داشرط چې دزكلت پيسي يا هغه څيزچې ده دزكوة په پيسو اخستى بى عوضه دزكوة مستحق ته وركوي اوهغه به ددې رقم يا دهغه څيز مالك كيږي. البدايع ۳۹۱\۲ فتاوى رحميه ۳۲۷\۷

[و]- وکیل نشي کولی چي دغه دزکوة روپی چاته په مضارب ت یاشرکت ورکړي . څکه دزکلت په ورکړه کي فقیرته دزکلت مال رسول اوهغه یې مالک جوړول ضروري ده . وړاندینی مراجع .

[ز]- وکیل نشي کولی چي دغه روپی چاته امانت کیږدي په دي معنی چي اوس په کار نه دي تو که هر وقت په کار شوي . بلکې دزکات روپی چې وکیل ته ورکړي شوي نو هغه دي مستحقو ته رسوي اوبې دعذر څخه دې پکې تعطیل نه کوي . لکه دزکات په اداکولو کې چې بې عذره شرعي تاخیرگناه ده. طحطاوي علی مراقي الفلاح کتاب الزکوة ص۳۸۸ . فتاوی رحیمیه۷\۳۲۹

[ح]- همداراز وکیل ته نه دې جایز چې دزکلت رقم دنورو روپیسره چې دزکلت رقم نه وي گډ کړي . امدادالاحکام۲\۹۳

[ط]- کهله وکیل څخه دغه پیسي ورکي شي نو دمؤکل یعني دمال دخښتن زکوة نه ده وتلی په هغه باندي بیرته زکوة ایستل واجب د ي ، همداراز که وکیل غله وشکوي یایې په زور څوک ځیني یوسي . څکه دوکیل ذمه یوائي په اداکولو دزکوة خلاصیږي الدرالمختار وردالمحتار ۳\۲۲۵ فتاوی رحیمیه ۲\۱۴

[ی]- بې دزیاتي اړتیا څخه دتملیک حیله کول نه دی جایز څکه په داسي حیلوسره اصلي مستحق محروم گرزي [یعني چي یوڅوک دزکوة مستحق نه وي اوبیادیوي حیلي په جوړولو سره دزکوة روپی اخلي یایې پرکوي] فتاوی دارالعلوم ۲\۵۲ .

[ک]- . وکیل نشي کولی چي دزکلت پیسي دفقیرانو دقبض څخه وړاندي په خپلوحوایجو کی استعمال کړي اوکه یې دزکلت دپیسو برابر خپلي روپی لمړی په فقیرانو قبض کړی نوبیا دغه دزکلت رقم په خپل حاجت کی صرفه ولی شي . ردالمحتار ۳\۲۲۴ و فتاوی رحیمیه ۵\۱۲۰

[ل] - دغه وکیل نشي کولی چي په دغه روپو میلمستیا وکړي اوفقیران پرمیلمانه کړي مگر که یې دخوراک ځیزونه هغوئ ته ورکړل اوهغه یې ددې ځیزونو خپل مالکان جوړ کړو بیاصحیح ده .. ردالمحتار ۳\۳۴۱

[م] دغه وکیل نشي کولی چې دغه دزکلت روپی بیت المال کې جمع کړي یا دبیت المال لپاره کوم ځیزونه مثلا لکه سلاح یا موټرسایکل اوداسي نور مواد ورباندي واخلي .څکه دزکوة په ورکړه کي دفقیر تملیک ضروری د ی هو دسختي اړتیا په مهال یې دحیله تملیک په صورت ک ې کولی شي . الهندیه ۲\۳۹۲ کتاب الحیل .

[ن] - وکیل نه شي کولی چې دزکلت په پیسو یوکور ،یا زمکه واخلي چي دمؤکل اذن یې نه وي اوبیایې مسکینانو ته په تملیک کي ورکړي ، خو داړتیا په مهال یې دتملیک دحیلي په صورت کي

اخستلای شي ،يعني چي دزکوة روپی په يو مسکين د قبض کولو وروسته چي هغه يې بيا ورته هديه کړي اخستلای شی . الدرالمختار وردالمحتار۳۴۱\۲ -۳۴۲

دوهم صورت :

او دوهم صورت (يعنی چې دفقير له لوري وکيل وي) چې وکيل کله مال قبض کړي نو زکات اداشو ځکه دوکيل قبضه دمؤکل قبضه ده ، فقهي مسايل۲۲۵\۱

دغه وکيل کولی شي چې دغه پيسي په خپلو مؤکلينو فقراء دهغوئ په اجازه مصرف کړي ، همداراز که يې د فقراوو مؤکلينو اجازه وه نوبيا يې هرځای اوپه هرځه مصرف کولی شي . فقهي مسايل۲۲۵\۱

البته دفقيرانو داذن اواجازي څخه پرته يې په نورو طريقو اوځايونو کي نشي مصرف کولی . امداد الفتاوی۳۱۲\۳

۳ - وکيل کولی شي چې مسکين يتيم ماشوم ته دزکات رقم ورکړي يادمؤکل په اذن جامه ورته واخلي خوپه دی شرط چي ماشوم د ومره وي چي ددغه رقم يا جامی قبض کولی شي او په پوهيږي . او که يې دماشوم په بل قريب فقير باندي قبض کړي اوهغه يې بيا ماشوم ته عطيه کړي نو هم صحيح کيږي . الدرالمختار وردالمحتار ۲۰۴\۳ او ص۳۴۱\ التاتارخانيه۲۷۳\۲

۴ - که وکيل ته يې دزکلت پيسي يوازي ددیوي مدرسي دطالبانو لپاره ورکړي وي نوبيا يې دنورو په اعانت اومرسته کي نشي لګولی. اوکه يې هسي عامه اجازه ورکړي وه نو بيا يې ديوه مسکين چي دزکلت مستحق وي دغه روپی ورکولی شي . امدادالاحکام ۹۲\۲

۵ - دمال څښتن وکيل ته د طالبانو دکومک لپاره روپۍ ورکړي هغه يې له طالبانو څخه پرته په نورځيزونو کي نه شي لګولی . الفقه الاسلامي۹۲\۲ . امداد الفتاوی۳۱۲\۳

۶ - وکيل ته لازم ده چي واجبه صدقات اونفلي صدقات سره بيل بيل قبض کړي اوبيل بيل يې مصرف کړي اومخلوط دي نه مصرفه وي . امدادالاحکام ۹۳\۲

۷ - يوتن دفقير اوغني ددواړو وکيل کيدلی شي لکه دمدرسي مهتمم ددواړو وکيل کيدلی شي . جديد فقهی مسايل ۲۲۴\۱ الشامي ۲۰۴\۳ .

تنبيه: دمجاهدينو دلګی مشر . يا دمالی چارومسؤل ته چې کله خلک زکلت ورکوي ياخپله له خلکو زکاتونه غواړي نوپه دې صورتونوکې هغه دزکلت ورکونکي لخوا هم وکيل کيدلی شي او

دمجاهدينو له لوري هم .خوچې ددواړو لورو مؤکلان يې په وکالت راضي وي لکه دفقهي مسايلو اوامداد الفتاوی له عباراتو چې وړاندې ذکر شو معلومه شوه .

يا که خلکو دمجاهدينو لپاره دزکلت روپۍ ورکړي خومجاهدينو نه وو کيل کړی نو دی دزکوة ورکونکي له لوري وکيل دی ، او که دمجاهدينو وکيل کړی وو نو ده دمجاهدينو لپاره له خلکو دزکوة روپۍ وغوښتي نوبيا دمجاهدينو وکيل ده . اوددي دواړو صورتونو احکام ذکر شوو .

۸ - که وکيل خپلې روپۍ فقير ته ورکړي په دې نيت چې دمؤکل (زکوة ورکونکي) روپۍ يې په عوض کې ورکړي داصحيح ده خو په دې شرط چې دمؤکل دزکوة روپۍ ورسره موجودي وي . کمافي الفقه الحنيفي ۱۱\ ۳۵۹ .

۹ : که دوکيل سره دزکوة روپۍ ايښي وي يوکال وروسته تيرشي نوزکوة ورباندې نشته . ردالمحتار ۲۰۸\۳ فتاوی دارالعلوم ۵۱\۲

۱۰ - که وکيل دزکوة په پيسو کپړې يالنګۍ يا بوټونه واخلي اوبيا يې مجاهدينو ته ورکړي نو داصحيح ده که دموکلينو اجازه ورته وه ،احسن الفتاوی ۳۰۰\۴ فتاوی دار العلوم ۱۹۲\۲ ، فتاوی الرحيمه ۱۲۲\۵ .

۱۱ - وکيل نشی کولی چې دخلکو دزکوة پيسې سره ګډې اوخلط کړي اوبيا يې فقيرانو ته ور کړي اوکه دمالک اذن دلالة ياصراحةوو ياعرف کې ددې عام رواج وو بياصحيح ده . فتح القدير ۱۱۳\۲ فقه الاسلامی ۲۴۴\۲ .

۱۲- يوتن مالدار د ورځې څه سبزي اوډوډۍ طالبانو ته دزکوة په مد کې حواله کړي خو په دې طالبانو کې داسې څوک هم وي چې غني وی نو غني طالب ته دغه دزکوة ډوډۍ خوړل جايز نه ده . اوکه دغه ډوډۍ يانورمواد لمړی دمساکينو طالبانو ملک وګرځي يايې يو دوه طالبان مالکان جوړ کړي اوهغه بيا نوروته هم اذن وکړي نوبيايې غني ته هم خوراک جايز ده احسن الفتاوی ۲۲۸\۴

يادونه : څرنګه چې پورتنۍ مسايل دجزءياتو په صورت کې مطلوب و ه اودغه ټول جزيات په عربي فتاواو کې په دغه صورت نه وو موجود نوځکه له معاصرو فتاواوو څخه چې داعتماد وړ دي ځيني دغه جزءيات نقل شوي ، البته له هغه سره سره هغه عامه قاعده يا کليه ته هم اشاره کړی ده چې دمذهب وړاندينيو فتاواو ذکر کړي اودمسلي حکم ښه ورڅخه معلوميږي

د مورچل وزمې

غازي ګرانه !

احسان الله "الهام"

چي ته نه يې ګور دي له چناره سره ړنګ شي
اسيره ! ماز ديګر دي له دياره سره ړنګ شي

غازي ګرانه ! په زړه درنه هله درست لوګی شم
غليم چي په ډګر ستاله ګزاره سره ړنګ شي

بس مه ژاړه يتيم ژړ ګيه ! او ښکو نه دي جار شم
نور زرده چي مغرور قاتل له دره سره ړنګ شي

له غرونو غرونو ژړونونه جوړ سوی خراسان دي
دخټو ديوال ندي چي له واره سره ړنګ شي

دوخت په فريبي غمخور باور کول خطاده
زوی مړی بې ايمان له استغفاره سره ړنګ شي

ملکې غوړوي ور ته په ځمکه وزور نه
مزدور چي په اخلاص له درانه باره سره ړنګ شي

قربان که مې ترې ځان شي نو قسم باک به پرې نکړم
اوربل که مي الهامه ! له سينګاره سره ړنګ شي

دهنر تنده

مولوي عبدالاحد " حماد "

په درد مين دي په پرهر پسې پرهر ماتوي
غزل غزل ځواني يې تنده دهنر ماتوي

دپيغامبر دخوب تعبير نه دی نوڅه يې ګڼئ
چې دکسرا او دقيصر کاڼي په سر ماتوي

مست شرابي دکليسا دزنګ ډم خوب وړی دی
دتورې شپې طلسم الله اکبر ماتوي

ته خبر نه يې ! فرشتو ورسره لاس يو کړی
بيا دغليم په وينو تنده دخيبر ماتوي

په اجازه دسپوږمۍ ولاړل له مداره ستوري
شايد چې بيا به له شيطان څخه وزر ماتوي

په نيمه شپه يې دعا بار کړه دامين پراوژو
دنه راتلو وعده به يې خداي ديار په سر ماتوی

له غنمر نګونه توبه هومره اسان مه ګڼه
غشي باڼه يې دتوبوبلا لښکر ماتوي

لکه سپوژمي په پيغامبر پسې زاره وچاوده
دفدايي زلميو تنده په کوثر ماتوي

خدايزده په ماڅه بلاشوې که داټول داسي دي
چې هريو ښکلی مي جلا دزړګي ور ماتوي

عشق دعقل ناخلف زوي دي چې ځوان شي کله
تر وار ړومبی بس خپل ابا په زير او زور ماتوي

حماده ځه ام البلاد ته سخي جان ننګوه
کنه جانان به دي هرو مرو نظر ماتوي

دایمان نور

ملا عبدالرحمن معتصم

نن چې ښکار دټول جهان بې له تا زار شم
سترګې زړه دمسلمان بې له تا زار شم

نور اخیستی زما ایمان ستا له ایمانه
داچې ته مې اوس جانان بې له تا زار شم

ته بې زیری دنجات له تارکیو
ته دسپین سهار په شان بې له تازار شم

په لیدو دې بې زړه خلک زړور شي
بهادر بې پهلوان بې له تا زار شم

ژوند دې وبخښی رڼا پسې لکه شمعه
خود به روح دهر افغان بې له تازار شم

دالحاد ریښې دې وایستې له بیخه
دخپل دین ستر قهرمان بې له تازار شم

دا غربي دیموکراسي خو تاکړه بوره
مجاهد مرد میدان بې له تا زار شم

ستا دمینې تهمتګر به شرمینده شي
په سپیڅلې عشق ودان بې له تا زار شم

معتصم دې هرقدم څارم دلارې
زما خو ژوند بی زما خو ځان بی له تازار شم

پیام

عاکف

صلیبی و دشمن را، یهود و اهریمن را
از لوث وجود شان پاک گردان تو میهن را

هر جُغد و لاشخور را نشاید در چمن زیست
از بوستان کشور بیرون کن زاغ و زغن را

امریکه و انگلیس، مکار و حیله گر اند
با شمشیر جهاد بشکن تو این فتن را

شهیدان راه دین زنده و جاوید اند
بنگر چه خوب و زیباست لاله های گلشن را

شرح داستان جهاد زیبا و دلنیشن است
از حرف، حرف جهاد پُر کن تو انجمن را

از نفاق و بدبینی پرهیز کن تو ای مؤمن
بهر ندای قرآن رها کن تو و من را

در این دنیای فانی ایدوست آنچنان زی
که بی پاسخ نمانی در لحد مُمتحن را

بالاتر از شهادت نبود دیگر سعادت
بهر دین اسلام فدا کن جان و تن را

با تو گویم ای "عاکف" گر کسی گرد واقف
این چندنکته بس است ختم کن تو این سخن را

دښځو جهاد حج اوعمره ده

عَنْ عَائِشَةَ أُمِّ الْمُؤْمِنِينَ قَالَتْ يَا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَلَا نَخْرُجُ نُجَاهِدُ مَعَكُمْ قَالَ لَا جِهَادٌ كُنَّ الْحَجُّ الْمَبْرُورُ وَهُوَ لَكُنَّ جِهَادٌ مسند أحمد , حديث صحيح. وفي روايات الاخر (أَلَا نَخْرُجُ فَنُجَاهِدَ مَعَكَ فَإِنِّي لَا أَرَى عَمَلًا فِي الْقُرْآنِ أَفْضَلَ مِنْ الْجِهَادِ) (عَلَى النِّسَاءِ جِهَادٌ قَالَ نَعَمْ عَلَيْهِنَّ جِهَادٌ لَا قِتَالَ فِيهِ) (فَقَالَ (نِعْمَ) جِهَادٌ كُنَّ) (الْحَجُّ وَالْعُمْرَةُ هُوَ جِهَادُ النِّسَاءِ) (فَقَالَتْ عَائِشَةُ فَلَا أَدَعُ الْحَجَّ أَبَدًا) صحيح, رواه البخاري: وسنن النسائي: وسنن ابن ماجة: ومسند أحمد : قال الشيخ شعيب الأرناؤوط: إسناده صحيح على شرط الشيخين ، ورجاله ثقات رجال الصحيح. وبلوغ المرام للإمام ابن حجر العسقلاني, قال اسناده صحيح . قال الشيخ الألباني في تعليق ابن ماجة: صحيح . قال الأعظمي في تعليق صحيح ابن خزيمة: إسناده صحيح.

ژباړه : دمسلمانانو مور حضرت عايشه رضى الله عنها رسول الله صلى الله عليه وسلم ته وويل : آيا په مورږ (ښځو د جهاد فريضه شته) چې له تاسو سره يوځای جهاد ته ووځو (په قرآن كريم كې م پ تر جهاد كوم بل غوره عمل نه دى ترسترګو شوى) ؟ ده ورته په ځواب كې وفرمايل : هو ، په ښځو جهاد شته خو داسي جهاد دى چې په هغه كې جګړه نشته ، تاسو له مورږ سره جهاد ته مه و ځئ ، د ښځو لپاره مقبول حج اوعمره ده ، همدا ستاسو جهاد دى ، حضرت عايشې رضى الله عنها وويل : تر خپل ژوند پورې به حج پرې نږدم .

morchal